بُت شکن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله په یاد کې

عقرب، 1405 هـ.ش - جمادی الثانی، 1448 هـ.ق

لومړی توک، 7 مه ګڼه



امیرالمؤمنین حفظه الله د خپل وخت بت شکن دی!

ویناوې د امیر المؤمنین

زمونږ رب یوازې الله جل جلاله دی بل څوک مو رب نه دی!

وروښو استقامت به کوو، تکلیفونه به زغمو، پروردګار عالم جل جلاله به هر څه راته آسانه کړي، هم به مو الله اقتصاد را جوړ کړي، هم به الله رزق راکړي، هم به مو الله وساتي، هم به مو الله حفاظت وکړي، زمونږ رب یوازې الله جل جلاله دی بل څوک مو رب نه دی. زمونږ سره یې چې د رزق وعده کړې ده هغه الله پاک دی بل څوک نه دی. کفار مونږ ته نه رزق راکوي، نه مو اقتصاد جوړوي، (بلکې) هر څه چې راکوي هغه الله جل جلاله دی، که الله راڅخه راضي و، نو ټول مشکلات به مو حل وي او که الله نا راضه شو، بیا به مو ټول مشکلات پاتې وي او د حل کولو څوک به یې نه وي.



شیخ الاسلام امیر المؤمنین مولوي

هبة الله حفظه الله اخندزاده

د ۲۰۲۶ کال د نومبر په څلورم تاریخ د شریعت غږ راډیو په واسطه له نشر شوي اصدار څخه

یادونه: د روانو لوستلو لپاره په ډېر کم تصرف

بسم الله الرحمن الرحيم

مهم موضوعات

د بد نظرۍ او مجازي عشق زيانونه... (دريمه برخه) 06

د وطن پرستۍ «نړيوال» بُت 13

ملاتړی (الحليف) 21

زه کابل ابادېدونکی وينم! (دريمه برخه) 35

دشيخ الاسلام أمير المؤمنين حفظه الله د وينا ليکلې بڼه 41

له لومړۍ قبلې سره د خيانت داستان (سعودي عربستان) 58

بُت شِکَن مجله

بت شکن:
د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله
په ياد کې يوه اسلامي، دعوتي او فکري اداره

مسؤول مدير:
حسن ابراهيم زی

پرلپسې ګڼه:
اول ټوک، اوومه ګڼه

زمونږ سره رابطه

ايمېل آدرس:
tamas@butshikan.com
ټلګرام رابطه:
tamas_butshikan
ويب سايټ:
butshikan.com
مونږ په ټولنيزو رسنيو وڅارئ:
ButShikan1404

يادونه: په دې مجله کې د قرآن کريم مبارک آيتونه، احاديث او سپېڅلې کلمې شته، په نامناسب ځای کې يې مه پرېږدئ!

لړليک

سرمقاله

امير المؤمنين حفظه الله د خپل وخت بت شکن دی! 5

قد افلح من تزکی

د بد نظرۍ او مجازي عشق زيانونه او ورځخه د ځان ساتلو طريقه (دريمه برخه) 6

زما تکلاره

يا صباحاه 11

د وطن پرستۍ «نړيوال» بُت 13

ملاتړی (الحليف) 21

صليبي جګړې (دوهمه برخه) 26

افغانستان او امت

زه کابل ابادېدونکی وينم (دوهمه برخه) 35

د فرمانونو د اغېزو په اړه علمي څېړنيز کنفرانس ته د أمير المؤمنين حفظه الله وينا 41

عافيه صديقي 53

طوفان الاقصی

له لومړۍ قبلې سره د خيانت داستان (سعودي عربستان) 58

د صهيونستي توليداتو لېست چې بايد ورسره پريکون وکړو 71

ابدي ژوندي

د شهيد شيخ الحديث مولوي عبدالسلام رحمه الله ژوند او کارنامې 75

مختلف مضامين

داعش؛ ساعين بالفساد 32

«د اهل السنة والجماعة عقيده» کتاب په تشريح غونډه کې د شيخ شير احمد څرګندونې 40

هغه مالداره څومره بختوره دی چې الله ورکړی مال يې د جهاد تر صف او مجاهدينو 52

امیرالمؤمنین صفظه الله د خپل وخت بت شکن دی!

بُت شکني یا بُت ماتوول هر وخت د لرګینو او ډبرینو مجسمو غورځولو او ماتوولو ته نه ویل کیږي، ځکه چې هر وخت بُتان خپل ځانګړی شکل او جسم نه لري، که اوسنیو حالاتو ته په ځیر وکتل شي، لیدل کیږي چې له ځینو محدودو او کم شمیر مذهبونو پرته نور اکثره مشرکان هم خپلو بُتانو او مجسمو ته هغومره ارزښت نه ورکوي څومره چې د دوی ګمراهو او مشرکو پلرونو او نیکونو ورکولو او نه ورته په پخوانۍ اندازه احترام لري. ښایي مشرکانو به دا درک کړي وي چې نور له دغه مجسمو څخه هیله او تمه لرل یوازې د ځان تېر ایستل او ناپوهي ده، یا هم ښایي دوی به له خپلو ډبرینو مجسمو او بُتانو څخه لږ بهتره ځوک پیدا کړي وي چې کولای شي د اسبابو په نړۍ کې او په دنیوي لحاظ سره خو لږ تر لږه د حرکت توان لري او ځینې وخت ورته کوم درد دوا کولای شي. ښایي دوی د ملګرو ملتونو په څېر نړیوالې او سیمه ایزې ادارې او نظامونه پیدا کړي وي، چې نور هماغه د پخوانیو بُتانو کار او وظیفه پر مخ وړي خو له هغوی څخه د ډېرو لاملونو له مخې بهتره دي، لکه څنګه چې به پخوانیو بُتانو خپل خپل نومونه او خپلې خپلې دندې درلودې اوسني بُتان هم هماغه شان دي، خلک ورنه هماغه تمې او توقعات لري. له همدې ادارو او نظامونو څخه غواړي چې له دوی څخه غم لرې کړي او خوشحالي ورکړي، ژوند یې راحت کړي، له مرضونو او مشکلاتو څخه یې وساتي، د آفتونو د راتللو په وخت یې لاسنیوی او مرسته وکړي، په جګړو کې دوی برلاسي او دښمنان یې کمزوري کړي، د دوی په زړونو کې ناخوښۍ څیزونه ورته حرام کړي او کوم څیزونه چې دوی ته خوښ دي هغه ورته حلال کړي او په لسګونه داسې نورې خبرې شته چې د اوسنیو او پخوانیو بُت پرستانو ترمنځ شریکې دي، فرق یوازې دا دی چې پخوا دا هر څه له لرګینو او ډبرینو مجسمو څخه غوښتل کېدل او اوسني بُت پرستان یې له همدې ادارو او نظامونو څخه غواړي.

مګر الله تعالی چې د ټولو مخلوقاتو رب او پالونکی دی، په هرڅه قادر او برلاسی دی او له سیال او شریک څخه بې نیازه او بې پروا دی، همېشه د خپلو تېرایستل شوو او ناپوهو بنده ګانو د پوهولو لپاره خپل پیغمبران او رسولان رالیږلي، له دوی سره یې ملتیا کړې ده، خلکو ته یې د سمې لارې هدایت کړی دی او په قوم کې موجود بُتان یې د همدغه انبیاء کرامو علیهم السلام په لاس مات کړي دي، د وروستي نبي، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تر مبعوث کېدو وروسته د الله تعالی بل پیغمبر نه راځي، پر ځای یې علماء کرام د همدې پیغمبرانو وارثین دي او خلکو ته د سمې لارې دعوت ورکوي.

د اوسنیو بُتانو د ماتولو لپاره د حقې لارې همدغه مجاهدینو او علماء کرامو لاسونه را بډ وهلي دي او د دیموکراسۍ، ملګرو ملتونو، سرحدونو، نړیوالو قوانینو او په نورو نومونو د لسګونه جوړو شوو بُتانو د ماتولو تکل یې کړی دی، له دغه علماء کرامو څخه یو زموږ د جهادي قافلې سالار، شیخ الاسلام، امیر المؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخوندزاده حفظه الله دی، چې له فتنو څخه په ډکه زمانه کې یې د الله تعالی په رسۍ منګولې ټینګې کړې دي او په دې لاره کې د هېڅ ملامتونکي له ملامتیا څخه نه ویریږي. په وار وار یې څرګنده کړې ده چې د وخت بُتانو ته به سر ټیټ نه کړي، نه به له کفارو سره یو قدم واخلي او نه به له اسلامي شریعت څخه تنزل وکړي که څه هم وربانديې اټوم بم استعمال کړل شي؛ خپله یې هم دا دریځ دی او خپلو مؤمنو ملګرو او مأمورینو ته هم دا توصیه کوي چې د بنده ډار دې په خپل زړه کې نه پریږدي، تل دې ثابت قدم اوسي او په صبر او حوصله، اطاعت او اخلاص سره دې د الله تعالی په ځمکه، د الله تعالی په بنده ګانو باندې د الله تعالی قوانین پلي کړي.

زموږ امیر المؤمنین د هېڅ بُت او شیطان پروا نه ده لرلې، لکه څنګه یې چې د دیموکراسۍ په نوم جوړ شوي بُت ته څېړه ورکړې ده همدغه شان یې د ملګرو ملتونو په نوم اداره هم وهلې ده، لکه څنګه چې د سرحدونو په نوم جوړ شوي بُتان ورته بې اهمیته دي همدغه شان ورته د ډالر په نوم مجسمه بې ارزښته ده. د دې پرځای اسلام، شریعت، اسلامي اخوت او وروروالي، اسلامي ادب او کلتور ورته تر هرڅه زیات اهمیت لري. دا چې الله تعالی تر اوسه د خپل وخت د دغه لوی بُت شکن امیر ملتیا او نصرت کړی دی، له الله تعالی څخه غواړو چې نور یې هم نصرت وکړي او زموږ په مرسته یې متې مضبوطې او پښې کلکې کړي. آمین یا رب العالمین ■

د بد نظرۍ او مجازي عشق زیانونه

او ورځخه د ځان ساتلو طریقه

دریمه او وروستۍ برخه

حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب

۱۱) د نظر د ساتنې اهتمام:

کوم خلک چې په ښار کې تګ راتګ لري، هغوی چې کله له کوره وځي، نو لومړی دې دوه رکعته د حاجت لمونځ وکړي او دا دعا دې وکړي چې: اې الله! زه خپلې سترګې او خپل زړه ستا ساتنې ته حواله کوم او ته زما په دفترونو، بازارونو او نورو ځایونو کې تر ټولو غوره ساتنه وکړه. تر خپله وسه دې با اودسه اوسي او په ذکر دې ځان بوخت وساتي، خو که بیا هم د نظر په ساتنه کې څه لږه غوندې ناغیړي یا خطا وشي، نو له ښرته راستنېدو سره دې سمدستي استغفار وکړي او د خپلې خطا په جریمه کې دې څلور رکعته نفل لمونځ وکړي او د خپل مالي وس له مخې دې څه صدقه هم ورکړي (یعني ځان ته مالي جریمه وټاکي) ترڅو نفس مغلوب شي او که چېرته د نظر ساتنه وشوه، نو شکر دې ادا کړي.

۱۲) د حسن د فنا کېدو مراقبه:

که کله هم په کومه ښکلې څېره باندې ناڅاپه نظر پرېوځي، نو سمدستي د دې هغې یوې بدصورتې او بدرنګې بڼې ته وګوري؛ که هغه بڼه شتون نلري، نو په خپل خیال کې داسې تصور وکړي چې هغه یو تور د چیچک نښې یې پر مخ دي، پزه یې پلنه ده، غاښونه یې اوږده او اېستل شوي دي، سر یې ګنجی دی، بدن یې غوښن او بې خونده دی، ګېډه یې راوتلې ده، په اسهال اخته دی او مچان پرې ګرځي راګرځي. فکر دې وکړي چې د دغه محبوب چې نن خورا ښکلی ښکاري، همدا د حشر حالت کېدونکی دی. او دا تصور دې هم وکړي چې کله دا ښکلی مړ شي، نو د ګل غوندې مخ به یې څنګه بدرنګه شي او چینجي به په کې ګرځي، ګېډه به یې پرسېدلې وي، بیا به وشلیږي او داسې بدبویي به تري پورته شي چې خلکو ته به د پوزې نیول هم ګران وي. نو له داسې فاني شي سره به زړه ترڅه وي! خو د یوې بدرنګې بڼې د تصور ګټه یوازې موقتي وي، بیا به نفس ښرته تقاضا او غوښتنه کوي، نو ځکه د راتلونکي برید د کمزوري کولو لاره دا ده چې کله نفس دا غوښتنه وکړي، نو همت دې کوي او عمل دې نه وربانديې کوي، د خدای تعالی عذاب او وېره دې په زړه کې راولي او د کوم الله والا صحبت دې غوره کړي.

۱۳) د نفس د اصلاح تر ټولو مهمه نسخه:

د نفس د اصلاح او تزکیې لپاره تر ټولو غوره او مهمه نسخه دا ده چې د کوم الله والا په صحبت کې وخت په وخت په پابندۍ سره حاضري ورکړي او د الله تعالی د محبت خبرې ورځخه اوري؛ ځکه چې د الله والا خلکو له صحبت پرته د نفس اصلاح او په دین باندې په سمه توګه استقامت لرل په عادتي توګه ستونزمن بلکې ناممکن دي. له همدې امله، له کوم الله والا سره چې د نسبت او زړه تړاو وي، له هغه سره دې خپل اصلاحي تعلق قائم کړي، یعني هغه دې خپل دیني مشاور جوړ کړي، خپل حال احوال دې ورته وایي او د هغه د لارښوونې او نسخې مطابق دې عمل او د هغه پیروي دې کوي، ان شاء الله ډېر ژر به له ټولو روحاني ناروغیو څخه شفا وموميي او د ذکر او معمولاتو پابندي دې په دوامداره توګه کوي.

نوټ: په دې لارښود او دستور العمل کې چې کوم ذکرونه ښودل شوي دي، هغه د یو روغ او صحت مند انسان لپاره دي، خو که څوک ضعیف وي یا په کومه ناروغۍ اخته وي، هغه دې د خپل مصلح او شیخ په مشوره د ذکرونو شمیر لږ کړي. له همدې امله دا خبره په یاد لرل پکار دي چې د مصلح یا مرشد له مشورې پرته دا دستور العمل هیڅ ګټه نلري. له همدې امله له مصلح الله والا سره د خپل حال شریکول، د هغه د لارښوونو منل د صحبت او مکاتبت په وسیله جاري ساتل اړین دي.

۱۴) د بد نظرۍ د زیانونو مراقبه:

د بد نظرۍ د زیانونو او نقصانونو په اړه دې فکر وکړي چې دا یو داسې وژونکی مرض دی چې په هغه کې په اخته کېدو سره ډېر خلک په کفر باندې مړه شوي دي، یعني د بد نظرۍ د منحوسوالي له امله په مجازي عشق کې مبتلا شوي او تر وروستي ساه پورې یې له دې فتنې څخه خلاصی نه دی موندلی، او د مرګ پر مهال یې د کلمې پر ځای له خولې څخه د معشوق نوم ختلی دی، العیاذ بالله.

زما مرشد او مولا حضرت اقدس مولانا شاه ابرار الحق صاحب (دامت برکاتهم) د نظر د ساتنې لپاره څو نهایت مهمې لارښوونې او هدایات په

یوه نسخه کې ترتیب کړي دي، هغه زه دلته رانقل کوم، ترڅو هره ورځ د اصلاح په نیت ولوستل شي.

د احقر عرض د نظر د ساتنې لپاره:

زما مرشد او مولا حضرت مولانا شاه ابرار الحق صاحب (دامت برکاتهم) فرمایي:

د بد نظرۍ نقصانات دومره زیات دي چې بې شمیره ځله د انسان دنیا او دین دواړه بربادوي. نن سبا په دې روحاني ناروغۍ کې د اخته کېدو اسباب خورا زیات خپاره شوي دي، له همدې امله دا مناسبه وګڼل شوه چې د دې د ځینو نقصانونو او له دې څخه د ځان ژغورلو لپاره یو لنډ علاج ولیکل شي، ترڅو له دې زیانونو څخه ساتنه وشي، نو د لاندې چارو اهتمام په خورا اسانۍ سره د نظر په ساتنه کې مرسته کولی شي:

1. په کوم وخت کې چې د مستوراتو تګ راتګ وي، نو نظر دې په پوره اهتمام سره ښکته وساتي، که څه هم نفس د لیدلو تقاضا او غوښتنه کوي؛ لکه څنګه چې په دې اړه عارفِ هندي خواجه عزیز الحسن صاحب مجذوب رحمة الله علیه په دې توګه خبرداری ورکړی دی:

دین کا دیکھو ہے خــطر اٹھنے نہ پائے حالِ نظر
کوئے بتاں میں تو اگر جائے تو سر جھکائے جا

«وګوره د دین خطر دی، په هیڅ حالت کې دې نظر پورته نشي، که د بتانو (ښکلو مجازي محبوبانو) کوڅې ته ځې، نو خپل سر ښکته کړه او ځه».

2. که کله نظر پورته شو او په کوم چا باندې ناڅاپه پرېوځي، نو سمدستي دې سترګې ښکته کړي، که څه هم د نفس غوښتنه څومره زیاته وي، یا داسې احساس وي لکه ساه چې یې خپړي (یعني په نفس باندې هر څومره سختي تېرېږي، خو نظر دې سمدستي واړوي).
3. دا دې په یاد وساتي چې د نظر د نه ساتلو له امله په دنیا کې د ذلت او رسوایۍ وېره شته، د طاعاتو او عبادتونو نور او خوږوالی له منځه ځي او په اخرت کې بربادي یقیني ده.
4. په بد نظرۍ باندې لږ تر لږه یو ځل یا دولس رکعته نفل لمونځ کول او له خپل توان او ګنجایش سره سم صدقه ورکول او په کثرت سره استغفار کول لازم دي.
5. دا فکر دې وکړي چې د بد نظرۍ د تیارې له امله د زړه باطن تباه او بربادېږي او دا تیاره په زړه کې تر ډیره وخته پورې پاتې کېږي، تر هغه وخته پورې چې تر څو په بار بار د نظر د ساتنې اهتمام ونشي، د زړه باطن د ګناه له غوښتنو څخه پاک او صفا کېدای نشي.
6. دا فکر کول پکار دي چې په بد نظرۍ سره په زړه کې د ګناه لور ته میلان پیدا کېږي، بیا له دغه میلان څخه مینه او محبت جوړېږي او له دغه محبت څخه په پای کې غیر شرعي عشق منځته راځي، چې له امله یې د انسان دنیا او اخرت دواړه تباه او بربادېږي.
7. دا فکر کول پکار دي چې د بد نظرۍ په سبب د طاعاتو او ذکر له بوختیاوو څخه په تدریجي ډول مینه او رغبت کمېږي، تر دې چې د هغو د پرېښودلو نوبت راځي او بیا وروسته ترې په زړه کې نفرت پیدا کېږي.

۱۵) د مجازي عشق د علاج لپاره لنډه تتمه:

که څوک د بد نظرۍ د بدمرغۍ له امله په مجازي عشق کې مبتلا شوی وي، نو په داسې حالت کې د څو نورو خبرو اهتمام کول اړین دي:

1. له دغه معشوق سره دې خپل هر ډول تعلق په بشپړ ډول پرې کړي؛ یعني له هغه سره خبرې کول، هغه ته کتل، هغه ته لیک او مکتوب لېږل، له هغه سره ناسته پاسته یا کله ناکله ورسره ملاقات کول، دا هر څه دې په مطلق ډول بند کړي. تر دې چې که بل کوم شخص د هغه یادونه یا ذکر کوي، نو هغه دې هم له دغې خبرې منعه کړي. او د لیرې والي داسې لاره دې غوره کړي چې نه یوازې ملاقات کول ناممکن شي، بلکې په خطا کې هم ورباندې د نظر د پرېوتلو هیڅ امکان پاتې نشي، په لنډه توګه له هغه سره دې خپله اړیکه په کلي توګه قطع کړي.
2. که د دغه ښکلي د راتلو خطر وي، نو په قصدي توګه دې ورسره داسې جګړه وکړي چې د د دوستۍ او محبت هیڅ تمه او امید ورته پاتې نشي.
3. په قصدي توګه دې د هغه د لیدلو او د ماضي خیالونه زړه ته نه راوړي، او نه دې له تېرو تصوراتو خوند اخلي؛ ځکه چې دا د زړه خیانت او لویه ګناه ده، کوم چې د زړه باطن په بشپړ ډول تباه کوي او د دې زیان پخپله له بد نظرۍ څخه هم ډېر زیات دی.
4. له عشقي اشعارو، د مینې له داستانونو او ناولونو له لوستلو څخه دې په کلکه ځان وساتي. د سینما، تلویزیون، وي سي ار فحشا او شهوت پاروونکو فلمونو او انځورونو لیدلو څخه دې په پوره توګه پرهیز وکړي او له داسې چاپیریال او مجالسو څخه دې لیرې اوسي

چیرته چې عریاني او نافرماني وي. د داسې نافرمانه خلکو له ناستې پاستې څخه دې هم ډډه وکړي.

5. د نړۍ د ښکلو کسانو په بې وفایۍ باندې دې غور وکړي چې د هغوی د ترلاسه کولو لپاره که چا خپل ځان، مال، دولت او عزت هر څه قربان هم کړي، خو کله چې د هغوی زړه له بل چا سره وتړل شو، یا ورته بل کوم د مال او دولت خاوند په لاس ورغی، نو له خپل پخواني عاشق څخه سترګې پټوي او مړاوی چلند ورسره کوي او په ځینو حالاتو کې خو له هغوی څخه د خلاصون موندلو لپاره هغوی ته په ښکاره توګه زهر ورکوي او هغوی هلاکوي.

6. که دغه مجازي محبوب مړ شي، نو په خپله خوښه ورته په خوړا منډه قبرستان ته لاړه جوړوي او د هغه د ښخولو بندوبست کوي او که ته مخته مړ نو ستا له مړي او لاش څخه به پخپله دغه معشوق نفرت کوي او لیرې به تري تښتي. او که چېرته له دواړو څخه د یو چا ښکلا او حسن له منځه لاړ شي، نو دا د مینې او عشق ټوله دایره ختمېږي؛ ځکه چې دا یوه عارضي او فاني مینه وه. حضرت حکیم الامت مولانا شاه اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه په خپل کتاب «التشرف بمعرفة احادیث التصوف، دریمه برخه، ۳۴۰ صفحه» کې یو مبارک حدیث نقل کړی دی:

أَحْبِبْ مَنْ شِئْتَ فَإِنَّكَ مُفَارِقُهُ

« له هر چا سره چې ستا زړه غواړي مینه وکړه ، خو (یاد ساته چې) یقینا ته به یوه ورځ له هغه څخه جلا کېدونکی یې».

7. او د دستور العمل نور ټول ښودل شوي معمولات دې په پوره پابندۍ سره جاري وساتي، ترڅو په تدریجي ډول د نفس غوښتنې او تقاضاوې مړاوې او کمې شي او په بشپړ ډول له منځه لاړې شي. له بنده څخه مطلوب یوازې دومره دی چې د نفس تقاضاوې مغلوبې او کمزورې شي ترڅو په اسانۍ سره په ولکه کې راشي. او په یادو شویو لارو باندې په عمل کولو سره به ان شاء الله تعالی یوه ورځ نفس په پوره توګه د بندګۍ په چوکاټ کې راشي او له غیر الله سره د زړه ترلو له فتنې څخه به خلاصون ومومي. او د زړه او روح په باطن کې به د الهي انعامونو داسې انوار او تجلیات احساس کړي چې د تل لپاره به یې په روح باندې د کیف او جذبې حالت جاري وي او زړه ته به داسې یو سکون او ډاډ په برخه شي چې پاچاهانو به په خوب کې هم نه وي لیدلی، او بنده ته به داسې ښکاري لکه د دوزخ له ژونده چې د جنت یو هوسا ژوند ته داخل شوی وي.

نیم جان بستاند و صد جان دهد
آنــچه در وهــمت نیاید آن دهـد

«الله تعالی په مجاهدو او قربانیو کې یوازې نیم ځان اخلي خو په بدل کې یې سل ځانونه عطا کوي. او هغه څه درته په برخه کوي چې ستا په وهم او ګمان کې به هم نه وي راغلي.

اوس دعا کوم چې حق تعالی دا دستور العمل زموږ د نفس له رذائلو څخه د خلاصون او د خپلو بندګانو د اصلاح لپاره غوره ذریعه وګرځوي او موږ د غیر الله له علائقو څخه وژغوري او دا عاجزانه خدمت په خپل دربار کې قبول او مقبول کړي.

د ولي الله کېدو څلور اعمال:

د شیخ العرب والعجم عارف بالله حضرت اقدس مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمة الله علیه لارښوونه:

دا څلور داسې کارونه دي چې څوک وربانديې له مرګ څخه مخکې په سمه توګه عمل وکړي، نو ان شاء الله تعالی له نړۍ څخه له سترګو پټېدو وړاندې به د الله تعالی ولي او نژدې بنده جوړ شي. په نفس باندې په جبر کولو سره د الله تعالی د رضا د ترلاسه کولو لپاره که دا لاندې څلور کارونه وکړي، نو د هغه لپاره به په ټول دین باندې عمل کول خورا اسانه شي او د الله تعالی د خوښې بنده به وګرځي:

۱) یوه قبضه ږیره ساتل:

د بخاري شریف حدیث مبارک دی:

خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ وَفِرُّوا اللِّحَى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا حَجَّ أَوِ اعْتَمَرَ قَبَضَ عَلَى لِحْيَتِهِ فَمَا فَضَلَ أَخَذَهُ

«د مشرکینو مخالفت وکړئ، ږیرې پریږدئ او بریتونه کم کړئ. او حضرت ابن عمر رضی الله عنه به چې کله د حج یا عمرې لپاره لاړ، نو خپله ږیره به یې په مټه کې ونیوله، نو کومه اندازه به چې له مټ څخه زیات وه، هغه به یې پرې کوله.

د بخاري شریف دویم حدیث مبارک دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

انْهَكُوا الشَّوَارِبَ وَأَعْفُوا اللِّحَى

«بریتونه په ښه توګه باریک کم کړئ او ږیرې پریږدئ».

نو تر یوه مټ (قبضې) پورې د ږیرې ساتل واجب دي. لکه څنګه چې د وترو لمونځ واجب دی، د عید الفطر لمونځ واجب دی، او د لوی اختر لمونځ واجب دی؛ کټ مټ همدا رنګه تر یوه مټ پورې د ږیرې پرېښودل هم واجب دي او په دې باندې د ځلور واړو امامانو اجماع ده، د هیڅ یوه امام په کې اختلاف نشته. لکه څنګه چې علامه شامي په خپل کتاب کې تحریر فرمایي:

أَمَّا أَخْذُ اللِّحْيَةِ وَهِيَ ما دُونَ الْقَبْضَةِ كَمَا يَفْعَلُهُ بَعْضُ الْمَغَارِبَةِ وَمُخَنَّثَةُ الرِّجَالِ فَلَمْ يُبِحْهُ أَحَدٌ

«د ږیرې پرې کول په داسې حال کې چې تر یوه مټ (قبضې) لږ وي، لکه څنګه چې د غرب ځینې خلک او مخنث (ښځینه ډوله) نارینه یې کوي داسې کول هیڅ یو عالم جائز نه دي ګڼلي».

حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا اشرف علي صاحب تهانوي رحمة الله علیه په خپل کتاب «بهشتي زیور، ۱۱ برخه، ۱۱۵ پاڼه» کې تحریر فرمایي چې: د ږیرې کمول تر یوه مټ پورې حرام دي او ږیره د زنې له لاندې برخې څخه هم باید یو مټ وي او د مخ له ښي او چپ لوري څخه هم باید یو مټ وي؛ یعني له درې واړو خواوو څخه د یوه مټ په اندازه د ږیرې پرېښودل واجب دي. ځینې خلک یوازې د زنې له لاندې برخې څخه یو مټ ږیره پرېږدي خو د مخ له ښي او چپ لوري څخه یې کموي، هغوی دې په ښه توګه پوه شي چې له درې واړو اړخونو څخه یو مټ ږیره لرل واجب دي، که له یوې خوا څخه هم تر یوه مټ لږ وي، یعني د یوې وریجې یا د چای د یوې دانې په اندازه هم کمه وي نو داسې کول حرام او ګناهِ کبیره ده.

۲) بجلکې لوڅې ساتل:

په پرتوګ، شلوار، لنګ، جبه او له پورته څخه راتلونکي هر لباس باندې د نارینه وو لپاره د خپلو بجلکو پټول حرام او ګناهِ کبیره ده. د بخاري شریف حدیث مبارک دی:

مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْإِزَارِ فِي النَّارِ

«د ازار (پتلون، لنګ، شلوار، کرتې، عمامې، څادر او داسې نورو) هغه برخه چې له بجلکو څخه ښکته وي، په دوزخ کې به وي».

معلومه شوه چې د نارینه وو لپاره د خپلو بجلکو پټول ګناهِ کبیره ده؛ ځکه چې په ګناهِ صغیره باندې د دوزخ د عذاب وعید نه راځي.

۳) د سترګو ساتنه کول:

په دې معامله کې نن سبا غفلت عام دی. خلک بد نظري ته ګناه هم نه وایي، په داسې حال کې چې د سترګو د ساتنې حکم الله تعالی په قران پاک کې په دې توګه فرمایلی دی:

قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ

«اې نبي! مؤمنانو ته ووایه چې خپلې سترګې (له نامحرمو) څخه پټې وساتي (ښکته کړي)».

یعني نامحرمو نجونو او ښځو ته مه ګورئ. همدا رنګه هغو هلکانو ته چې بریتونه او ږیره یې نه وي راختلي (امردانو) ته مه ګورئ او که ږیره او بریتونه یې راختلي هم وي خو د زړه میلان ورته پیدا کېږي، نو هغوی ته کتل هم حرام دي. غرض دا چې د دې معیار دا دی، چې د کومو څېرو په لیدلو سره چې نفس ته حرام خوند رسېږي، د هغو څېرو لور ته کتل حرام دي. د نظر ساتنه دومره مهم امر دی چې الله تعالی په قران پاک کې ښځو ته په جلا توګه حکم کړی دی: «وَيَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ» چې هغوی هم خپلې سترګې وساتي؛ په داسې حال کې چې د لمانځه او روژې په نورو احکامو کې ښځو ته جلا حکم نشته، بلکې نارینه وو ته حکم شوی او ښځې د تابع په حیثیت په هغو احکامو کې شاملې دي. او د بخاري شریف حدیث مبارک دی:

زِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ

«د سترګو زنا (بد) نظري ده».

نظر باز او زناکار د الله تعالی د ولایت خوب هم نشي لیدلی، تر هغه وخته پورې چې تر څو له دغه فعله څخه په ږښتینې توګه توبه ونکړي. او د مشکوة شریف حدیث مبارک دی:

لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُورَ إِلَيْهِ

«الله تعالی لعنت کړی دی په بد نظري کونکي او په هغه چا باندې چې د بد نظرۍ لپاره ځان وړاندې کوي (بې پردې ګرځي)».

نو ناظر او منظور پر دواړو باندې د رسول الله ﷺ د لعنت بددعا شته. د اولیاوو له بددعا څخه وېرېدونکي باید د سید الانبیاء ﷺ له بددعا څخه ووېریږي، ترڅو ستاسې د رسول الله ﷺ په غلامۍ او منلو کې برکت په برخه شي. له همدې امله، که په کومې ښکلې څېرې باندې نظر پرېوځي، نو سمدستي نظر تري واړوئ او د یوې لمحې لپاره یې هم پرې مه پرېږدئ. نو د قران پاک د دغو مبارکو ایتونو او مبارکو احادیثو په رڼا کې، بد نظري کونکي ته درې ډوله بد لقبونه ور په برخه دي:

1. د الله او رسول نا فرمان
2. د سترګو زناکار
3. ملعون

۴) د زړه ساتنه کول:

د سترګو د ساتنې ترڅنګ د زړه ساتنه هم ډېره اړینه ده. ځینې خلک د سترګو خیانت نه کوي خو د زړه خیانت کوي، یعني په سترګو خو د نظر ساتنه کوي خو د زړه د نظر ساتنه نه کوي او په خپل زړه کې د ښکلو څېرو خیالونه راولي او حرام خوند ترې اخلي. هغوی دې په ښه توګه پوه شي چې دا کار هم حرام دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ

«الله تعالی د سترګو په غلا (خیانت) هم پوهېږي او په هغه څه هم باخبره دی چې زړونه یې پټوي».

د ماضي د ګناهونو د خیالونو په قصدي توګه زړه ته راوړل ګناه ده. که کوم ناوړه خیال پخپله راشي نو په هغه باندې څه ګناه نشته، خو په هغه کې بوختېدل، یا د پخوانیو ګناهونو یادول او خوند ترې اخیستل، یا د راتلونکو ګناهونو لپاره د پلانونو او نقشو جوړول او د ښکلو څېرو تصور کول، دا هر څه حرام دي او د الله تعالی د ناراضۍ سبب ګرځي. الله تعالی دې زمونږ د ټولو ساتنه وکړي او مونږ دې له دغو حرامو کارونو څخه وژغوري، چې په برکت به یې ان شاء الله تعالی د ټولو ګناهونو څخه ځان ساتل اسانه شي.

پر دغو څلورو اعمالو باندې د توفیق موندلو لپاره څلور تسبیحات:

له پورته یادو شویو څلورو حرامو کارونو څخه د ځان ژغورلو لپاره لاندې څلور وظیفې او تسبیحات دي، چې په لوستلو سره یې په روح کې طاقت پیدا کېږي، او کله چې روح قوي شي نو له ګناهونو څخه ځان ساتل اسانه کېږي:

- سل ځله «لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ» وواياست
- سل ځله «الله، الله» وواياست
- سل ځله «استغفار» وواياست
- سل ځله «درود شريف» وواياست

****

د ګناهونو په اړه یوه ډېره ګټوره خبره

ویې وفرمایل: غواړم د ګناهونو په اړه یوه ډېره ګټوره خبره درته وکړم، دا خبره به له ما پرته له بل چا وانه وري.

لومړی دا چې تر خپله وسه له هرې وړې او لویې ګناه څخه ځان وساتئ، او که بیا هم ګناه درڅخه کېږي، نو لږ تر لږه هغه ګناه حرامه وګڼئ. دویم دا چې د خوب پر مهال د خپلې ټولې ورځې د ګناهونو حساب وکړئ؛ یعنې له سهاره تر هغه وخته پورې مو چې کوم ګناهونه کړي وي، ټول رایاد کړئ. په ځانګړي ډول هغه ګناهونه چې د ژوند او روزګار په اړه وي؛ ځکه حرام مال تر ټولو ناوړه شی دی او د ټولو ګناهونو ریښه او بنسټ دی. نو په دې ډول خپل ګناهونه رایاد کړئ او په یوازېتوب کې په ژبه ووایئ:

«اې الله! زه ډېر بېوسه او نالایقه انسان یم او د دې وړ یم چې په عذاب کې ډوب کړای شم. له ما سره هېڅ عذر نشته، ما ډېر کوښښ وکړ، خو بریالی نه شوم. ته راسره مرسته وکړه او له دې ناوړه عمل څخه مې خلاص کړه.»

زه درته داسې یوه ګټوره لاره درښیم چې په عملي کولو سره به یې لومړی هماغه ګناه پرېږدئ، او که فرض کړو چې ګناه مو پرېنښوده او ټول عمر همداسې پرې اخته پاتې شوئ، بیا به هم دومره ګټه در ورسوي چې د مرګ پر مهال به یوازې د یوې ورځې د ګناه بار دربانديې پاتې پروت وي. ځکه کله چې هره ورځ توبه وباسئ، د تېرې ورځې ګناهونه مو بښل کېږي. په دې توګه، د دې پر ځای چې د سلو ورځو ګناهونه دربانديې پاتې وي، یوازې د یوې ورځې ګناهونه به دربانديې پاتې شي. هغه تدبیر چې ما دروښود، په عملي کولو سره یې یوازې د یوه ځل ګناه بار دربانديې پاتې کېږي؛ خو که دا کار ونه کړئ، نو ډېر ګناهونه به دربانديې راټول شي؛ یعني د بېپروایۍ ګناه، د غفلت ګناه او د ورځنیو بدو کړنو ګناهونه... خو که دا تدبیر عملي کړئ، نو یوازې د هماغه یوه عمل ګناه به دربانديې پاتې وي.

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله
(مآثر حکیم الامت، مخ: ۳۴۰)

یا صباحاه

(د بت شکن په څپو؛ د صفاء غونډۍ له سره د پورته کېدونکې نعرې انګازه)

د بُت شکن پېژندنه: څوک او د څه لپاره؟

اول ګل زاهد

هلته چې نړۍ د ګمراهۍ او جهالت په فتنو کې غرقه وه، د صفا د غره له سره د «یا صباحاه[1]» نعره وشوه، هر قوم ته جلا جلا غږ وشو او بیا هغوی ټول د عدل دین ته دعوت او د یوه دردناک عذاب څخه ووېرول شول، د عقل خاوندانو له فرصت څخه استفاده وکړه او د اسلام مبارک دین یې قبول کړ، نېک عملونه یې کول، صبر یې وکړ او په حق سره یې یو بل ته توصیې کولې، په بدل کې الله له هغوی څخه د دنیا غمونه لرې کړل، دوی له الله تعالی څخه او الله تعالی له دوی څخه راضي شو، د ویاړونو تاریخونه شول، او د اسلامي امت په تاریخ کې کله هم چې د دوی نوم یادیږي نو دعا ورته کیږي، خلک یې د احسان پوروړي دي او ټول له الله تعالی څخه غواړي چې د قیامت په ورځ یې هم له همدغه خلکو سره حشر وکړي (رضي الله عنهم).

خو هغوی چې بدبخت وو او ظاهراً یې ځانونه د قوم پوهان او عقلمند خلک معرفي کول د خپلې کینې او جهالت اور وخوړل، تر دې چې د ځینو جسدونه د بدر کرغیړنې څاه ته واچول شول او د ځینو نوم او نښان داسې ورک شو چې بیا به هېڅکله پیدا نشي، په دوی کې د ځینو چې نوم پاتې نو د عبرت داستانونه پرې جوړ دي، خلک به د قیامت تر ورځې لعنت پرې وایي او د آخرت په ورځ هم ورته دردناک عذاب په تمه دی.

د صحابه کرامو او له هغوی وروسته د نېکو خلکو په مبارکو لاسونو د عربو جزیره فتحه شوه، د فارس او روم انسان خوړونکې او مفسدې امپراطوری نسکورې شوې، خلک د بنده ګانو له بنده ګی خلاص شول او د دنیا له تنګیو د دنیا او آخرت پراخیو ته وه ایستل شول، جهان د صلحې، سوکالۍ او آبادۍ نندارې کو له. یو رب، یو قانون، یو امیر، یو هېواد او یو امت و، نور هېڅ نه وو. هغوی چې لا هم مسلمان شوي نه وو، نو یا خو یې په تیټ سر جزیه ورکوله او د اسلامي شریعت قوانینو ته یې غاړه ایښې وه او یا خو دومره بې وسه و، چې د فتنو او ویجاړیو فکر یې هم نه کولو.

له هغه کسانو څخه چې مسلمان امت ته یې زیات افتخارونه راوړي او نړۍ یې د عدل او ثبات شاهده وه یو هم بت شکن سلطان محمود غزنوي رحمه الله دی.

د مشهورو تاریخ لیکونکو لکه تاج الدین سبکي، ابن خلکان، ابن کثیر، ابن خلدون، ابن الاثیر، عبدالحی الحنبلي ... کتابونه د دې ګواهي ورکوي چې بت شکن سلطان رحمه الله د عدل او تقوا نمونه وه، د امت په وحدت او سرلوړی کې یې ډېرې هلې ځلې کړې دي او د جهاد په مټ یې د اسلام بیرغ تر لرې لرې ځایونو رسولی دی. د هغه د عدل په اړه تاج الدین سبکي لیکي چې له عمر بن عبدالعزیز رحمه الله وروسته په نړۍ کې څلور کسان داسې دي چې په عدالت کې پنځم نلري، له هغو څلورو کسانو څخه یو بت شکن محمود غزنوي رحمه الله دی[2].

[1] «یا صباحاه» یا «ای سهاره» دا هغه نعره ده چې حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خپل ښکاره دعوت په لومړۍ ورځ د صفا د غونډۍ په سر پورته کړه، دا نعره لکه د اوس وخت د خطر زنګ ته ورته وه، او خلک به یې له یوې لویې واقعې څخه خبرول، نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم په همدې نعره خلک راټول کړل او هغوی ته دعوت ورکړ او د الله تعالی له عذاب څخه یې ووېرول.
د نورو معلوماتو لپاره د سیرت النبي کتابونو ته مراجعه وکړئ!

[2] الطبقات الشافعیة الکبری

سلطان محمود غزنوي رحمه الله له عباسي خليفه سره وعده کړې وه چې هر کال به د هند په طرف غزا کوي او همداسې يې کول، ابو الحسن عبد الغافر الفارسي ليکي چې هغه ډېر جدي، نېک بخت، با برکته، د خپلو خلکو لپاره صادق او د الله تعالی د کلمې د لوړولو لپاره هڅاند شخص وو، هر کال به په سفر او جهاد بوخت و او هېڅ کال يې له جهاد او فتوحاتو څخه خالي نه وو.[3]

د سلطان محمود غزنوي رحمه الله په څېر شخصيتونه وو چې د هند په طرف د عدل دين خپور شو او له هماغه وخت څخه وروسته دهند نيمه وچه يا برصغير د علم او اسلامي دعوت يو له مهمو مرکزونو څخه بلل کيږي.

دا ټول د اسلام، اتحاد، تدبر، تفکر، علم او جهاد له برکته وو او تر هغه وخته يې دوام پيدا کړ تر کومه چې مسلمانانو د الله په کتاب، د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په سنتونو، د خلفاء الراشيدينو او نورو نېکو رهبرانو په رسۍ خپلې منګولې لګولې وې.

خو بيا وروسته چې مسلمان امت د دنيا په ټولولو لګيا شو، له مرګ يې کرکه پيدا شوه، قومونو چې اصلاً يې بايد يو بل سره پېژندلي واى، خو دوى له يو بل څخه د زياتو امکاناتو د ټولولو لپاره حسدونه شروع او د اصولو پر ځاى يې په فرعي موضوعاتو پسې دانګل پيل کړل نو دا هر څه سرچپه شول، يا خو به هلاکو راغى او له خراسانه شروع د مصر تر کوڅو به يې نسل وژنه، لوټ، تالان او تيري وکړل؛ يا خو به مسيحي درنده ګانو د اقصى په ښار برید وکړ او په څو ساعتونو کې به يې اويا زره عام مسلمانان له تېغه تېر کړل او يا خو به همدا بې ايمانه وحشيان له يو بل سره په جنګ شول او په لسګونه ميليونه خلک به يې ووژل.

تيارې ورځ په ورځ زياتېدې تر دې چې نړى يې ټوله لاندې کړه، زور واکي، لوټ، تالان، فحاشي، ظلمونه، وحشتونه او ډول ډول نخرې دي چې هره ورځ يې شاهدان يو، اسلامي ځمکې غصب، مسلماني خويندې بنديانې، اسلامي مقدسات توهين شوي او اسلامي هېوادونه يرغمل شوي دي.

نو ځکه خو يو ځل بيا د «يا صباحاه» نعره پورته کوو، مسلمانانو ته دعوت ورکوو، د کفارو پر وړاندې د اعداد او تياري طرف ته يې بولو، د يوې سپينې او مبينې فتحې زيري ورکوو او له وهن، نفاق، په کور کېناستلو او له قربانى څخه د بې فکره کېدو له امله ورته په دنيا او آخرت کې د تاوان خبرداری ورکوو. بت شکن د همدې لپاره دی چې ويده ضميرونه ويښ کړي، په نسلونو کې د بيدارۍ حس را ژوندی کړي او امت ته وفهموي چې د ګرنګ په غاړه دی.

د دې امت ژغورل د يوې ډلې او يوه ملت کار ندی بلکې هر څوک او له هر مليت څخه بايد چې لاس را بډ وهي او د دې امت د سوکالۍ لپاره کار وکړي، د دښمنانو پر وړاندې يې غبرګون وښايي، د له لاسه وتلو ځمکو د راګرځولو لپاره خلک تيار کړي، د امت د مقدساتو د توهين مخنيوى وکړي او له هغوى سره چې تر اوسه يې د دې مقدساتو توهين کړى دى بايد چې ورسره حساب وکړي او په آخر کې بايد چې ټول او په ټول توان د هغه واجب د قائمولو لپاره را ووځي کوم چې له سلو کلونو څخه زيات وخت کيږي امت يې له خير څخه محروم دى يعني خلافت على منهاج النبوة څنګه چې زمونږ ګران پيغمبر صلى الله عليه وسلم مونږ ته په «ثم تكون خلافة على منهاج النبوة» سره زيرى راکړى دى، هغه خلافت چې پيلامه به يې د قدرمن امير المؤمنين شيخ القرآن و الحديث حضرت مولوي هبة الله آخندزاده دامت برکاتهم العاليه سپېڅلى امارت وي ان شاء الله، نه د کومې ګمراه يا افراطي ډلې تش په نوم ناجائزه، خوني او ظالمانه نظام چې دوى ورته د خلافت نوم ورکوي.

بت شکن د همدې لپاره دی چې د الله تعالی پاکه ځمکه د سومنات په څېر له ناپاکه مجسمو څخه پاکه کړي، هغه سومناتونه چې ظاهراً د سيکولاريزم، سرمايه داري يا کپيتاليزم، ديموکراسی او ملي او قومي واکمنيو په شکل کې جوړ شوي دي، هغوى چې د دې مجسمو عبادت کوي سمې لارې ته را کاږي او هغه مالونه چې د دغه بې ګټې او بې مقصده مجسمې په پښو کې خښ دي را وباسي او د علم ښارونه پرې ودان کړي.

په آخر کې له الله تعالی څخه خير او برکت غواړو، خپلو هغه مخلصو وروڼو ته چې زمونږ سره يې په دې لوى خير کې شرکت او مرسته کړې ده د اجر، صبر او ثبات غوښتونکي يو...!

الله تعالی د مونږ له هغه کسانو څخه نه شمېر کوي، چې ټولې هڅې يې ضايع شوې وي او خپله ګمان کوي چې ګواکې زه ډېر ښه روان يم. آمين

****

[3] السياق لتاريخ نيسابور، د امام ذهبي په حواله

د وطن پرستی «نړیوال» بُت

وطن پرستي يا په معاصره نړۍ کې تر ټولو خطرناک او ډېر لمانځل کېدونکی بُت

لیکنه: مولانا عاصم عمر

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله والصلوة والسلام على رسول الله و بعد؛

ان تازہ خداؤں میں بڑا سب سے وطن ہے

جو پیرہن اس کا ہے وہ مذہب کا کفن ہے

«په دې نويو خدايانو کې تر ټولو لوی وطن دی، کوم لباس چې يې پر تن دی، دا لباس د دين کفن دی»

علامه اقبال سم ويلي و، چې په دې نويو بُتانو کې تر ټولو لوی بُت د وطن پرستۍ دی. بلکې نن د نړۍ تر ټولو لوی بُت او تر ټولو ډېر عبادت کېدونکی بُت همدا دی. له همدې امله که دې ته "نړيوال بُت" وويل شي نو ښه به وي، ځکه له دې مخکې چې په نړۍ کې هر څومره بُتان وو، د هغو عبادت يوازې هغو بُت پرستانو کاوه چې د هغه منونکي وو، خو د وطن پرستۍ دا بُت داسې ځانګړتيا لري چې نه يوازې بُت پرستان يې لمانځي، بلکې د هر مذهب منونکي يې لمانځي، درناوی يې کوي او پر دې خپل ځوانان اولادونه قرباني کوي.

د دې نوي بُت مينه وګورئ چې هغه کسان يې هم خپل عبادت کوونکي ګرځولي دي چې په ژبه لا اله الا الله وايي. هو! يوازې هندوان، عيسويان او بودايان يې عبادت نه کوي، بلکې هغه کسان هم چې د محمد صلى الله عليه وسلم کلمه وايي، هم ددې په عبادت کې شامل دي. حيران شئ او لا نور هم حيران شئ چې يوازې ناپوه او له دين ناخبره خلک يې عبادت کوونکي نه دي، بلکې هغه کسان چې د دين د غړه په شان علم لري او پر مخونو يې ږيرې دي، له هغوی څخه هم ځينې د دې بُت خادمان ګرځېدلي دي. د دوی شريعت د دې بُت اطاعت فرض او د دې بُت پر وړاندې بغاوت حرام ګرځولی دی. د دوی په نزد څوک چې د دې بُت شريعت (آئين) نه مني هغه له ملت څخه وتلی دی او څوک چې د دې پر وړاندې سر ټيټ کړي نو بيا هغه ته هېڅ عمل زيان نه شي رسولی، که څه هم کفر کوي او بدکاري کوي.

د دوی په زړونو کې د دې بُت درناوی تر دې حده دی چې د دې په شان کې سپکاوي کوونکو ته باغي ويل کېږي او د بمونو او ټانکونو په وسيله د هغوی د له منځه وړلو فتواوې ورکول کېږي او څوک چې دې ته سجده نه کوي د هغوی له پاره په ټوله نړۍ کې د نمرود د اور کورونه جوړ شوي دي، چېرته چې د دې باغيانو له پاره د نمرود اور نن هم هماغسې بل دی لکه مخکې چې د بُتانو پر وړاندې د بغاوت کوونکو له پاره بل شوی و. که ځينې خلک دا بُت پرېږدي او يوازې د الله د حاکميت غوښتنه وکړي، نو د دې بُت ساتونکي وسله وال پوځونه سمدستي حرکت کوي تر څو د هغوی له سيمې سوات جوړ کړي.

نن په نړۍ کې که څوک وغواړي لمونځ وکړي، حج وکړي، روژه ونيسي، درس او تدريس وکړي، لوېې غونډې وکړي، هر څه ته آزادي شته، خو د هر وګړي له پاره لازمي ده چې د دې بُت پر شريعت ايمان راوړي. که چا دا رد کړ او يوازې د الله د نظام شعار يې ورکړ، نو هغوی ته به نه لمونځ پرېښودل شي، نه به د هغوی مدرسې خوندي وي، نه به هغوی غونډې کولای شي او نه هغوی پر دې ځمکه د ژوند حق لري. الله تعالى فرمايي:

وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ ۖ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ○(الزمر:۴۵)

«او کله چې يوازې د الله يادونه وشي، د هغو کسانو زړونه تنګېږي چې په آخرت ايمان نه لري او کله چې له الله پرته د نورو يادونه وشي نو هغوی خوشحالېږي.»

آخر څوک دا حق لري چې د دې خدای (يعني وطن) انکار وکړي چې د هغوی پلرونو او نيکونو يې عبادت کړی دی؟!

قَالُوا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ (هود:۸۷)

«هغوی ځواب ورکړ: ای شعیبه! آیا ستا لمونځ تاته دا درښيي، چې موږ هغه ټول معبودان پرېږدو چې زمونږ پلرونو او نېکونو د هغو عبادت کاوه؟»

نبي صلی الله علیه وسلم او وطن پرستي

د وطن پرستۍ د بُت مینه شیطاني دماغونو قصدا د مسلمانانو ذهنونو ته ور داخله کړه، حق او باطل یې سره ګډ کړل او دلیل یې د مدینې منورې ورکړ. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینې دفاع وکړه او د هغې فضایل یې بیان کړل، همداسې یهودي مکارانو هڅه وکړه چې د مسلمانانو په حق کې هر وطن مدینه منوره ثابُت کړي، که څه هم هغه وطن د کفر مرکز، د الله د دښمنانو پناه ځای او د بې دینۍ مرکز وي. دا ښکاره دوکه ده او د ایمان له بنسټ سره په ټکر کې نظریه ده.

که خلک په دې خبره کې لږ فکر هم وکړي نو پوه به شي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصلي وطن مکه مکرمه وه، خو کله چې د وطن مقابله له اسلام سره راغله، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اسلام ته پر وطن ترجیح ورکړه. وطن یې پرېښود، د خپل وطن له خلکو سره یې د جنګ اعلان وکړ او اسلام او اهل اسلام یې خپل کړل. په داسې حال کې چې په مکه مکرمه کې د الله تعالی کور و، چې د ټولې نړۍ مرکز و، خو بیا هم په دې وطن کې پاتې کېدلو ته کفر وویل شو. چا چې له عذر پرته مکه نه پرېښوده، د هغه د کلمې اعتبار یې هم ونه کړ، بلکې هغه ته یې هغه حکم ورکړ، کوم چې د کافرانو و.

د محبت بنسټ؛ کلمه ده که وطن؟

په خلکو کې دا حدیث مشهور دی: «حب الوطن من الإیمان» دا سراسر د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پر ذات دروغ او تهمت دی، هېڅ اصل نه لري[1].

د مسلمانانو د اړیکو اساس پر کلمه ولاړ دی، نه پر وطن، په داسې حال کې چې د وطن د بُت حکم دا دی چې مینه او کرکه، دوستي او دښمني، داخلي او خارجي پالیسۍ باید د ده د ګټو پر بنسټ وي. په اسلام کې د وطن پرستۍ هېڅ ځای نشته. ټول مسلمانان یو امت دي. وطن یوازې یو پېژندنه ده، لکه قبیله او نوم چې یوازې د پېژندنې له پاره وي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ، كَمَثَلِ الجَسَدِ، إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالحُمَّى

«تاسې به مومنان په خپل منځ کې په رحم، مینه او همدردۍ کې داسې ووینئ لکه یو بدن، چې کله یې یو غړی درد وکړي نو ټول بدن بې خوبه او تبجن شي.[2]»

خو افسوس چې د امت مسلمه په بدن کې د وطن پرستۍ زهرجنو اثراتو سرایت کړی دی، دا بدن اوس په کوچنیو ټوټو وېشل شوی دی او له همدې امله اوس یې حالت د یوه ټوټې ټوټې شوې بې روحه لاش په شان دی.

انبیاء علیهم السلام او د وطن پرستۍ بُت

د ټولو انبیاوو تاریخ شاهد دی چې کله د هغوی قومونو هغوی رد کړل، نو الله تعالی هغوی ته د هجرت حکم وکړ. وګورئ چې یو لور ته وطن دی او بل لور ته د الله دین، هغوی "تر ټولو مخکې وطن" شعار نه دی ورکړی، بلکې دین ته یې لومړیتوب ورکړ او وطن یې پرېښود. تر ټولو لومړی اسلام دی! له دې پرته به د دنیا هره اړیکه پر اسلام باندې ټینګه وي.

د سیدنا نوح علیه السلام اسوه

سیدنا نوح علیه السلام ته حکم وشو چې وطن پرېږدي، په کښتۍ کې کښېنې او دا دعاء ورته وښودل شوه:

فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ نَجّٰىنَا مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ○ وَقُلْ رَّبِّ اَنْزِلْنِيْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ○ (المؤمنون:۲۸،۲۹)

«نو ووایه: هغه خدای (الله) ته شکر دی چې موږ ته یې له ظالمانو څخه نجات راکړ. او ووایه: پروردګاره! ما په برکتناک ځای کې ښکته کړه او ته ډېر ښه ځای ورکوونکی یې.»

[1] لکه علامه سیوطي، علامه صاغاني، علامه زرکشي او شیخ الباني وغیرهم چې په خپلو تصنیفاتو کې په صراحت سره لیکلي دي.

[2] صحیح البخاري، کتاب الادب، باب رحمة الناس و البهائم

همدا نوح علیه السلام دی چې د کافرو وطنوالو له پاره بد دعاء کوي:

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ○(نوح:۲۶)

«او نوح وویل: زما ربه! له دغه کافرانو څخه هیڅ یو د ځمکې پرمخ استوګن مه پرېږده.»

کله چې د ګران وطن خلکو د الله د حکم له منلو څخه انکار وکړ، نو نوح علیه السلام هم د هغوی له پاره بد دعاء وکړه او الله تعالی هم اعلان وکړ:

وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ○(هود:37)

«کومو خلکو چې ظلم کړی دی، د هغوی په حق کې ماته څه سپارښتنه مه کوه، دوی ټول اوس ډوبېدونکي دي.»

نوح علیه السلام الله تعالی ته وفرمایل:

وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ ○(هود:۴۵)

«نوح علیه السلام خپل رب ته غږ وکړ، ویې ویل: اې زما ربه، زما زوی زما له کورنۍ څخه دی او ستا وعده رښتیا ده او ته له ټولو حاکمانو څخه لوی او غوره حاکم یې.»

الله تعالی ځواب ورکړ:

قَالَ يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ ۖ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ(هود:۴۶)

«په ځواب کې یې وویل: اې نوحه! هغه ستا له کورنۍ څخه نه دی، هغه خو د یو فاسد عمل خاوند دی.»

نو ګویا د ایمان او کفر پر بنسټ له خپلو وطنوالو سره نه، بلکې له خپل سکه اولاد سره هم اړیکه پرې شوه.

د سیدنا ابراهیم علیه السلام اسوه

د وطن د بُت عبادت کونکي دې د حضرت ابراهیم علیه السلام مبارک سیرت هم را پورته کړي او ودې ګوري، هغه څوک چې د خپل وطن له ټولو خدایانو څخه یې بغاوت وکړ او هغه ټول یې مات کړل او داسې یې ټوټه ټوټه کړل، چې نه یې بُت پرستان هېرولی شي او نه بُت شکنانو دا سنت هېر کړی دی.

سیدنا ابراهیم علیه السلام خپلو وطنوالو ته دعوت ورکړ، چې بُتان پرېږدئ د یوه الله منونکي شئ. کله چې یې دا احساس کړه، چې د ژبې په دعوت یې دا قوم نه پوهېږي، نو تبر یې را واخیست او د «ګران وطن» «خدایان» یې مات کړل. بیا څه وشول؟ د بُتانو پر عبادت کونکو اور بل شو، هر لور ته د انتقام انتقام غږونه پورته شول، د قوم باغي، د وطن باغي، د وطن د قانون او د پلار و نیکه د دین باغي! په ګران هیواد کې ګډوډي جوړه شوه، څوک دی، چې زمور د خدایانو په شان کې یې ګستاخي کړې ده؟ آزر وویل:

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ ۖ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا ○(مریم:۴۶)

پلار یې ورته وویل: «ابراهیمه! آیا ته زما له معبودانو څخه اووښتی یې؟ که ته بېرته را وانه وړې، نو زه به تا سنګسار کړم. ته د تل لپاره زما څخه بېل شه.»

له عقله خالي او له فهمه لېرې دغو عبادت کونکو سره هیڅ دلیل نه و، چې د «بُت شکن» مقابله یې ورباندې کړې وای، ځکه یې نو اخطارونه ورکول پیل کړل، همداسې هم د دلیل ځواب په زور سره ورکول د طاغوت د عبادت کونکو همیشنی عادت پاتې شوی دی او تر ننه پورې را روان دی، هغوی ټول سره یو ځای شول او ویې ویل:

قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ ○(الانبیاء:68)

«هغوی وویل: دی وسوځوئ او د خپلو خدایانو ملاتړ وکړئ که تاسې څه کوونکي یاست.»

یوې خوا ته سل کلن[3] تک تنها بُت شکن او بل اړخ ته د ټول قوم یو موټی «قومي اتحاد» «یو دریځ» «ملي یووالی» ... د خپل تراشل شوي نظام، پر خواهشاتو د بناء شویو رسوماتو او د وطن د مسلک او شریعت د روح د ساتنې له پاره ټول هیوادوال سره یو شول، خو آیا د غیر الله انکار کونکي، له طاغوت څخه بغاوت کونکي او د وطن د عبادت کونکو په لاس د تراشل شویو بُتانو ټوټه ټوټه کونکي د دوی اور وسوځول؟ دوی دومره ډېر زور څکه وکړ، چې په راتلونکي کې بیا

[3] کما رواه الامام ابن کثیر و العلامة آلوسي رحمهما الله

څوک دومره جرئت ونه کړي، چې د بُتانو په حق کې ګستاخي وکړي، خو کله چې ابراهیم علیه السلام دا ورته ثابته کړه، چې په اور کې لوېدلو ته چمتو دی، خو د بُت شکنۍ سنت پرېښودلو ته نه دی تیار، نو الله تعالی اور پر ابراهیم علیه السلام باندې یخ او د سلامتیا باعث کړ.

د سیدنا لوط علیه السلام اسوه

سیدنا حضرت لوط علیه السلام خپل قوم ته سر ور خلاص کړ، چې په کومو غلاظتونو کې تاسې لوېدلي یاست، کومو ته چې ستاسې جاهلي کلتور د فیشن او تفریح نوم ورکړی دی، له دې څخه را وګرځېږئ، د هنر او کلتور تر نوم لاندې تاسې د الله غضب ته دعوت ورکوئ، له دې ناپاکه کارونو څخه را وګرځئ، خو هیوادوال وو، په ګناهونو کې مست! د دوی د وطن منشور، مسلک او قانون پر همدې ټپټو/سفلی خواهشاتو بناء د ژوند طرز و، دوی ته چېرې د یو چا را ګرځولو خوند ورکاوه. دوی په خپل «ذاتي ژوند» کې خلل اچونکي ونه زغمل. کله چې د حضرت لوط علیه السلام په وعظ او نصیحت را ونه ګرځېدل، نو د خپلو ټپټو خواهشاتو غلامانو هغه علیه السلام په داسې انداز کې مخاطب کړ، لکه نن چې شهوت پرستان د انبیاوو وارثان مخاطبوي: په دې هیواد کې به یا ته اوسې یا مورِ! دا وطن د عوامو دی، نه د «څو جنوني ملایانو»! دا څوک دي، چې خپلې رایې پر نورو تپي؟ دوی ته چا دا حق ورکړ، چې ښځې په کورونو کې بندې کړي؟ د هیواد قانون په خپل لاس کې د اخیستلو اجازه هیڅا ته نه ورکول کېږي! .... د خواهشاتو تکمیل چې د کومو خلکو شریعت شو، هغوی ته بیا داسې دین ولې خوند ورکړي، چې د دوی شیطانت ته لګام ور واچوي او د شرف او پاک لمنې لور ته یې را وبولي. ځکه نو حضرت لوط علیه السلام ته د هغه قوم له هیواده د شړلو اخطار ورکړ:

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ○(الاعراف:۸۲)

«خو د هغه د قوم ځواب له دې پرته بل څه نه و چې: دا خلک (لوط او د هغه پیروان) له خپلو کلیو څخه وباسئ، دوی ډېر ځان پاک پاک کوي.»

نو الله سبحانه و تعالی خپل نبي ته حکم وکړ چې داسې وطن پرېږدي، چېرې چې د الله تعالی نا فرماني په ښکاره ډول ترسره کېږي، د الله له قانون څخه چې بغاوت د چا دنده وي، د داسې وطنوالو پروا مه کوئ، چې خپل خواهشات یې خپل خدای جوړ کړی وي، کوم چې په خپله رنګینه نړۍ کې مست دي، چاته چې تنبیه ورکول خوند نه ورکوي. دوی ته دا خوند نه ورکوي، چې له فحاشۍ او عریانۍ څخه را وګرځول شي، د دوی پر فحش خانو، نایټ کلبونو او د رقص او موسیقي پر محفلونو بندیز ولګېږي، څوک د دوی په سودي کاروبار کې مداخله وکړي یا د طاغوت له قانون څخه په فیصله کونکو عدالتونو خلاف یو لفظ هم ووایي. دوی مست شوي دي، له دې ځایه هجرت وکړه او ته چې وطن پرېږدې، نو شاته هم مه ګوره، زمورِ د حکم په مقابله کې د داسې زرګونو وطنونو هیڅ حیثیت نشته. بېشکه ته زمورِ نبي یې، ته دلته و اوسېدې، د دوی په کوڅو کې وګرځېدې، خو دوی ټول یوه طرف ته، د دوی وطنوالو زمورِ په احکامو رشخند وواهه، نو دا ځکه مورِ سر چپه را اړوو. ځکه نو رباني ارشاد وشو:

فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَاتَّبِعْ اَدْبَارَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ وَّامْضُوْا حَيْثُ تُؤْمَرُوْنَ ○وَقَضَيْنَآ اِلَيْهِ ذٰلِكَ الْاَمْرَ اَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَاۤءِ مَقْطُوْعٌ مُّصْبِحِيْنَ○ (الحجر:۶۵،۶۶)

«نو اوس چې د شپې یو څه برخه پاتې شي، ته له خپلې کورنۍ سره ووځه او په خپله د هغوی شا شا ته ځه، ستاسې څخه د هېڅوک شاته نه ګوري، سم سیخ هغې خواته لاړ شئ چې تاسې ته حکم کېږي. او هغوی ته مورِ خپله دغه فیصله ورسوله چې د سهار له راختلو سره به د دغو خلکو جړپې غوڅې کړای شي.»

د حضرت موسی علیه السلام اسوه

سیدنا حضرت موسی علیه السلام د فرعون په کور کې لوی شو، خو کله چې الله تعالی موسی علیه السلام ته حکم وکړ، چې فرعون ته ورشه، هغه ډېره سرکشي کړې ده، نو هغه علیه السلام د الله حکم ومانه او فرعون ته ورغی او د مقابلې خبر یې ورکړ، د نبوت له ترلاسه کولو وروسته چې موسی علیه السلام په مصر کې څومره وخت تېر کړ، ټول یې له فرعون سره په مقابله کې تېر کړ. نه یې د قومي همغږۍ خبره وکړه او نه یې د وطني ګټو په خاطر حق پرېښود. بالاخره موسی علیه السلام د خپل دین د ساتلو په خاطر له خپل وطن څخه هجرت ته مجبور شو. هغه علیه السلام چې کله د فرعون د دروغجنې خدایي انکار وکړ، د الله تعالی د ربوبیت اعلان یې وکړ، نو هغه وویل:

قَالَ اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا وَلِيْدًا وَّلَبِثْتَ فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِيْنَ○ (الشعراء:۱۸)

«فرعون وويل: آيا ته موږ له ځان سره د اولاد په ځير نه وې پاللې؟ تا د خپل عمر ډېر کلونه له موږ سره تېر کړل.»

يعني ګويا فرعون پر هغه عليه السلام احسان اچول غوښتل او هغه ورځې يې هم ور يادې کړې چې دده په ځمکه کې يې تېرې کړې وې. خو کله چې د دين معامله راغله، نو موسى عليه السلام له دې خاورې سره خپل تړاو شاته غورځار کړ، د بنو اسرائيلو له مؤمنانو سره يې له هغه ځايه هجرت وکړ او دين ته يې ترجيح ورکړه.

د اصحاب کهف اسوه

د اصحاب کهف کيسه زموږ په ځير راحت خوښوونکو د سترګو د خلاصولو له پاره بسنه کوي، هغو شهزاده ګانو د بُتانو له مذهب ځخه بغاوت وکړ او د عيش او آرام ژوند د پرېښودلو فيصله يې وکړه. پوښتنه دا وه، چې ځو نو چېرې ځو؟ د دوی مخې ته لار نه وه. خو هغوی دا عذر ونه ګرځاوه، چې هجرت چېرې وکړي، له دې ځايه چيرې لاړ شو، موږ بايد دلته واوسو او دا خپل وطن غوره کړو. نه! بلکې هغوی له الله تعالى ځخه دعاء وغوښته:

إِذْ أَوَى الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوا رَبَّنَا آتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ○ (الكهف:١٠)

«کله چې ځو تنه زلميانو سمځې ته پناه ور وړه، او ويې ويل: اې پروردګاره! موږ په خپل ځانګړي رحمت سره سرلوړي کړه او زموږ چاره سمه کړه.»

کوم خلک چې الله خپل رب مني، هغه يې له هغه ځخه غواړي. هغوی له اندېښنو، وهمونو او خوف و خطر ځخه نه وېرېږي او په دين باندې سود بازي نه کوي، بلکې په هر حال کې خپل دين ساتي او يوازې له الله تعالى ځخه رهنمايي غواړي. لکه ځنګه چې نبي کرين صلى الله عليه وسلم په خپلو صحابه کرامو باندې حبشې ته هجرت وکړ، يوازې په دې اميد چې د هغه ځای حاکم عادل دی او که چېرې د اندېښنو خبره يې مخته اېښودلای، نو تر ټولو لومړی خبره دا مخې ته راتله، چې چېرې مکه مکرمه او چېرې حبشه (ايتوپيا)!

وطن پرستي؛ د کافرانو په نزد

ددې برعکس د الله دښمنانو تل «وطن پرستي) د الله والاوو پر ضد استعمال کړې ده. کله خلک پر وطن پرستي را پاروي، د اهل حق پر وړاندې يې را ټولوي او کله بيا د الله والا خلکو ته له وطنه د ايستلو اخطارونه ورکوي:

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم مِّنْ أَرْضِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا (ابراهيم:13)

«په پاې کې منکرانو خپلو پيغمبرانو ته وويل: تاسې به بېرته زموږ دين ته را واوړئ، کنه نو موږ به تاسې له خپل هېواد ځخه وباسو»

حضرت شعيب عليه السلام خپل قوم ته دعوت وکړ، چې کار وبار پر اسلامي طريقه باندې وکړي، په وزن او تول کې کمی پرېږدي. هغه ته د قوم سردارنو وويل:

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا (الاعراف:٨٨)

«د هغه (شعيب عليه السلام) د قوم مشرانو چې د خپل تکبر په غرور کې اخته ول، هغه ته وويل: اې شعيبه! موږ به تا او هغه خلک چې ستا سره يې ايمان راوړی دی، له خپلې سيمې ځخه وباسو او يا به بېرته زموږ ملت ته را اوښتونکي ياست.»

يعني دلته د پاتې کېدو يوازې يو صورت دی، چې ته زموږ د وطن قانون مقدس ومنه او د هغه پر ضد خبرې مه کوه!

حضرت لوط عليه السلام ته هم دغه اخطار ورکړل شو، چې که په دې ګران وطن کې اوسېږې، نو په چوپه خوله واوسېږه، د الله تعالى له لورې د پوځي جوړېدو اړتيا دې نشته:

قَالُوا أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعَالَمِينَ ○ (الحجر:٧٠)

«هغوی وويل: آيا موږ ته په وارو وارو نه يې منع کړی چې د ټولې نړۍ ټېکداري مه کوه.»

دا هغه غوښتنه ده، چې نن د افغانستان او وزيرستان له غيورو مسلمانانو ځخه کېږي. بيا چې کله ټول پلانونه، اخطارونه، اميدونه ناکام شول، نو په آخر کې د لوط عليه السلام قوم وويل:

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَنْ قَالُوا أَخْرِجُوهُمْ مِنْ قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ○ (الاعراف:82)

«خو د هغه د قوم ځواب له دې پرته بل څه نه و چې: دا خلک (لوط او د هغه پيروان) له خپلو کليو څخه وباسئ، دوی ډېر ځان پاکوونکي خلک دي.»

د رحمة للعالمين خاتم الانبياء حضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم پر وړاندې هم کفارو دا حربه استعمالول وغوښتل:

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ ۖ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ○ (الانفال:30)

«هغه وخت (هم د يادونې وړ دی) چې د حق منکرانو ستا پر خلاف دسيسې جوړولې چې بندي دې کړي، يا دې ووژني يا د له وطنه وشړي، هغوی خپل تدبيرونه په کار اچول او الله خپل تدبير کاوه او الله تر ټولو ډېر ښه تدبير کوونکی دی.»

د عقل خاوندانو لره په دې کې لوی نصيحت دی، چې د مکې مکرمې په ځېر مقدس ښار چې په هغه کې بيت الله ده، چې د نړۍ د ټولو مسلمانانو مرکز دی او په خپله رسول الله صلى الله عليه وسلم هم له دې ښار سره زياته مينه لرله. خو ددې ټولو باوجود يې الله تعالى د پرېښودلو حکم ورته وکړ. که د نن تش په نامه علماء او دانشوران وای، نو د اسلام په مقابله کې به يې د وطن پر اهميت باندې د دلائلو انبار جوړاوه. په مکه د پاتې کېدو او د پر امن دعوت کولو نعرې به يې وهلې. بيا که په اسلام کې چېرې د وطن اهميت پر دين زيات وای، نو د مکې له فتحې وروسته چې مکه مکرمه دار الاسلام وګرځېده، نبي کريم صلى الله عليه وسلم به ښېرته ورته راغلی وای، همدلته به يې مستقل اوسېدل غوره کړي وای او همدا ځای به يې دار الخلافة ګرځولی وای، خو دلته هم د وطن په مقابله کې د اسلام اهميت را وښودل شو. کوم وطن چې د اسلام په پيل کې د اسلام پناه ګاه جوړ شو اوس يې هماغه دار الخلافة وګرځاوه او د کوم وطن والاوو چې تکليفونه ورکړل، له وطنه يې ايستلی و، هلته ښېرته تلل ناروا وګڼل شول، ځکه نو د مکې له فتحې وروسته هم هيڅ مهاجر ته دا اجازه نه وه، چې په مکه کې مستقل واوسي. آن تر دې چې د مکې مکرمې تر فتحې وروسته يوازې درې ورځې په مکه کې د اوسېدو اجازه ورکړل شوه.

د مکې د فتحې پر مهال له مدينې والاوو سره يوه اندېښنه پيدا شوه، چې اوس خو مکه فتحه شوه، نو هسې نه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هلته پاتې نه شي او موږ به ورځخه محروم شو. هغه صلى الله عليه وسلم ټول انصار صحابه سره را ټول کړل او خپله فيصله يې ور واوروله، چې:

«که ټول خلک پر يوه لاره لاړ شي او انصار پر بله لار، نو زه به د انصارو پر لار لاړ شم.»

نو د انبياء کرامو عليهم السلام پر مبارک کردار باندې له يوه سرسري نظر کولو څخه دا خبره معلوميږي، چې الله تعالى زموږ له پاره کوم اصول او ضوابط جوړ کړي دي او کوم دين چې يې موږ ته راکړی دی، د هغه په رڼا کې بايد موږ خپل عقائد، معاملات او تعلقات استوار کړو. له دې اصولو او ضوابطو څخه هاخوا د وطن د مينې هيڅ تصور د محمد صلى الله عليه وسلم په شريعت کې نشته. بيا هم که چېرې يو څوک د اسلام په مقابله کې دا شيان ساتي، نو هغه د طاغوت عبادت کوي.

يوه باريکه نکته

دا مسئله په ښه ډول زده کول په کار دي، چې اصل دين اسلام دی، وطن نه دی. د اسلام پر اساس د وطن حکم بدلېږي، د وطن له امله د اسلام حکم نه بدلېږي. د شريعت احکام قطعي دي. يعني که په يو ملک کې اسلامي قانون رائج او غالب وي، نو هغه دارالاسلام دی او که په همدې ملک کې د کفر قانون غالب شي، نو اوس همدا ملک دارالحرب ګرځي او له همدې ځايه هجرت واجب کېږي. ګويا د شرعي حکم دار ومدار پر کفر او اسلام دی، نه پر وطني معيارونو.

د الله د بندګانو او د وطن د بندګانو جنګ نن هم روان دی

د انبياوو تاريخ پر دې خبره شاهد دی، چې هغوی د حق په ويلو کې له هېڅا څخه وېره نه کوله، چې دين به يې به غوښتنه وکړه، نو له وطن څخه يې بغاوت کاوه او د الله د حاکميت له پاره يې خلک عوت کول. کوم نفوس قدسيه چې الله د همدې له پاره را لېږلي وو، چې د الله تعالى دين واضح تر خلکو پورې ورسوي، نو هغه به حق څنګه پټ کړي؟ که پر چا ښه لګېږي، که بد، که د واک خاوندان ناراضه وي، که خوشحاله، هغوی په هر حال کې د الله تعالى حکم پوره کوي. دا سنت تر ننه پورې روان دی. الله والا هغه کوي، څه چې يې له انبياوو څخه زده کړي وي او خواهشات بيا خپل دين هغه خلک ګرځوي، چې له

نمرود، شداد، هامان، فرعون او ابوجهل و عتبه او شیبه څخه یې زده کړي وي. دواړې لارې ډېرې واضحې او جلا دي. هر یو هغه لار خوښوي، چې خوند ورکوي. له کومې لارې سره چې محبُت کوي، هغه غوره کوي او د هغې له پاره کوشش کوي. د الله والا د الله په لار کې خپل هرڅه قربانوي او د وطن د بُت ساتونکي د خپل بُت له پاره تر خپلو ځانونو تېرېږي.

د زړه په غوږونو یې واورئ او ووایئ چې څوک د نمرود او شداد په لهجه خبرې کوي؟ د دینِ حق په مقابل کې د وطن د بُت د ژغورلو له پاره چا په ټول هېواد کې د اور لمبې بلې کړې دي؟ .... او د ایماني بصیرت په نظر وګورئ چې هغه څوک دي چې له لسو کلونو راهیسې په دې اور کې سوځول کېږي؟ د بُتانو عبادت کوونکي که د بُتانو ماتوونکي؟ د کلمې ویلو سره سره د خپلې غوښتنې معبود ګرځوونکي که د نمرود او فرعون پر وړاندې د توحید نعره پورته کوونکي؟ د رسنیو په فریب، افواهاتو او پروپاګند پسې مه ځئ .... عمل او کردار وګورئ، د خبرو طریقه، لهجه او پر مخ تکبر وګورئ .... شداد څوک دی؟ د آخرت پر لور منډه وهونکو ته د اقتصادي تمې په ورکولو سره د دنیا په تنګیو کې د بندولو پلانونه څوک جوړوي؟

اسلام ته پر وطن ترجیح ورکړئ!

د وطن په مقابل کې د اسلام او د اسلام له پاره د ځانونو قرباني کوونکو ملاتړ کول پر هر ایمان لرونکي فرض دي. هر څوک چې د اسلام پر وړاندې د دې بُت له پاره جګړه وکړي، هغه به د جاهلیت په مرګ مړ شي. جهاد یوازې هغه دی چې د الله تعالی د دین د لوړتیا له پاره وي، یعني د شریعت د نافذولو له پاره وي.

یو کس د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضور ته راغی او پوښتنه یې وکړه:

> يا رسول الله ما القتال في سبيل الله فإن أحدنا يقاتل غضبا ويقاتل حمية فرفع إليه رأسه فقال: من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا فهو في سبيل الله.

> «اې د الله رسوله! د الله په لاره کې قتال څه ته وایي؟ ځکه زموږ له منځه ځینې کسان د غوسې له امله جګړه کوي او ځینې د غیرت (لکه قومي یا وطني غیرت) له امله جګړه کوي. (دا چې یې واورېدل) نو هغه مبارک خپل سر د پوښتونکي لور ته پورته کړ او ویې فرمایل: څوک چې د الله د کلمې د لوړتیا له پاره جګړه وکړي، هماغه د الله په لاره کې جګړه کوونکی دی[4].»

له دې څخه څرګندیږي چې که څوک یوازې د وطني غیرت او تعصب له پاره جګړه وکړي، نو هغه جهاد نه بلل کېږي. جهاد هغه دی چې د شریعت د نافذولو له پاره وي. په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

> «ومن قاتل تحت راية عمية يغضب لعصبة أو يدعوا إلى عصبة أو ينصر عصبة فقتل فقتلة جاهلية».

> «څوک چې تر داسې بیرغ لاندې جګړه وکړي چې هدف یې روښانه نه وي او د کوم تعصب (وطني، قومي، ژبني یا کورني) له امله غوسه شي، یا خلک تعصب ته راوبولي او د تعصب پر بنسټ مرسته وکړي او (په دې حالت کې) ووژل شي، نو هغه د جاهلیت په مرګ مړ شوی دی[5].»

هر څوک چې د خپل ځان یا خپل مال د ساتنې په حال کې ووژل شي، هغه شهید دی، خو دا معنی نه لري چې که څوک د وطن، ځان یا مال د دفاع شعار پورته کوي او له هغو خلکو سره جګړه کوي چې د اسلام د دفاع په جګړه بوخت دي، نو دا به هم جهاد بلل کېږي! نه! داسې جګړه ښکاره حرامه ده او د طاغوت له پاره جګړه کول دي. د ځمکې پر مخ له دې څخه لویه ګناه څه کېدای شي چې د وطن د بُت پر ناپاکو آستانو باندې د مجاهدینو پاکه وینه قرباني کړل شي!

****

[4] صحيح البخاري، كتاب العلم، باب من سئل و هو قائم عالما جالسا

[5] صحيح مسلم، باب وجوب ملازمة جماعة المسلمين عند ظهور الفتن

هغه مينې چې په يوه زړه
کې نشي سره يوځای کېدای

- د الله تعالی مینه او د ګناهونو مینه
- د جهاد مینه او د ژوند مینه
- د قربانۍ مینه او د مال مینه
- د حق مینه او د چوکۍ مینه
- د سولې مینه او د انتقام مینه

مأخذ: كتاب، إمتاع القاري



استراتېژيک بحثونه (01)

ملاتړی

أبو خالد الصنعاني

د اداري يادونه

دا ليکنه د أبو خـــالد الصـــنـــعاني ده او پکې يې مسلمانو اميرانو او ټولو مجاهدينو ته ځينې توصيې کړې دي، په خاصه توګه مجاهدين يې مخاطب کړي دي چې د مرستې په دود هر اوړېدونکي لاس ته خوشحاله نشي. ځکه د قدرتونو لاسونه او مرستې هېڅکله له زهرو څخه خالي نه وي، ليکوال اسلامي تنظيمونو ته توصيه کوي چې يوازې په عامو مسلمانانو او د عقيدې په تار باندې تړلو غير سياسي مرستو باندې باور کېدای شي، دا چې په دې ليکنه کې د افغانستان د جهاد او معاصر تاريخ اړوند ځينو مهمو نقطو او درسونو ته هم اشاره شوې ده، نو ځکه يې د بت شکن اداره په پښتو ژبه ژباړي.

په چريکي جګړو کې د بريالي کېدو لپاره له تر ټولو مهمو مرستندويه عناصرو څخه يو د ملاتړي (اتحادي) د موندلو هنر دی. دا خبره ډېره مهمه ده چې پوه شو، چې متحدين بېلابېل ډولونه او مثبت او منفي اړخونه هم لري. (د مثال په ډول) غربۍ ځمکه د چريکيانو لپاره يو ښه متحد او ملاتړی دی، خو که هغه سيمې له ګاونډيانو سره ښه چلند ونه کړي او له دې ځمکې څخه د تکيې او د پيل د نقطې په توګه کار وانه خلي، بلکې د تېښتې او پټېدو ځای يې وګرځوي، نو همدا سيمه کېدای شي د هغوی د ګوښه کېدو او انزوا لامل شي. شپه د پټې ګرځېدنې، له خطر څخه د ځان ايستلو او پټو عملياتو لپاره يو ښه ملاتړی او ملګری دی. همدارنګه، سيندونه او سمندرونه د مجاهدينو لپاره د داسې عملياتو په ترسره کولو کې غوره متحدين دي چې له لارې يې هغه دښمن ناڅاپه په نښه کړي چې د دغو سيمو له ساتنې غافل وي. په همدې توګه، بايد د چريکيانو شاوخوا چاپېريال په داسې متحد بدل شي چې هغوی له خطر څخه وساتي او دښمن ته د زيان رسولو توان ورکړي.

خو په دې ليکنه کې له متحد[1] څخه د انساني اتحادي مراد اخلو؛ ځکه دا ډول ملاتړی او متحد تر ځمکه او شپه ډېر خطرناک دی او تر سيندونو ډېر د راچاپېرېدو او راګېرولو وړتيا لري. دا متحدين هم بېلابېل ډولونه لري او له هغه سره د متحد کېدو علت هم توپير کوي. متحد کېدای شي عقيدتي وي، يعني دواړه يوه پيغام يا يوې تګلارې سره يوځای کړي وي. همدارنګه، کېدای شي سياسي وي، چې دواړه لنډمهاله ګټه سره شريکوي، خو ګڼ عوامل يې له يو بل څخه بېلوي. دا هم شونې ده چې اتحاد د سرحدي ګاونډيتوب له امله وي، لکه د نژادي تړاو يا د ګاونډې حکومتي نظام له مخې. کله چې د سياستوالو يا پوځي چارواکو ارادې سره يوځای شي، نو هغوی هدفونه ټاکي او بيا په همدې موخو سره توافق کوي؛ ځينې موخې د ډلو او ځينې د متحد په ګټه وي. کېدای شي دوی يوازې په يوه نقطه او کېدای شي د څو موخو لپاره سره يوځای شي. خو (په دې ډول ټرونونو او اتحادونو کې) اخلاقي او عقيدتي مسئلې ځای نلري (يعني سياسيون که په اتحاد کې د اخلاقو او عقيدې يادونه کوي نو دا يوازې) د خلکو د غولولو او د ټرون د ښکلي ښودلو لپاره کوي. (په اصل کې خو) عقيدتي اتحاد د مجاهدينو او د هغوی د امت ترمنځ وي او همدا هغه څه دي چې وروسته به يې يادونه وکړو.

د ډلو او تنظيمونو په ګومان د يوځای کېدو نقطه د ګډ دښمن له منځه وړل وي، خو ملاتړی په دې اتحاد سره يوازې غواړي خپل ګډ دښمن کمزوری کړي. د «دښمن د کمزوري کولو» اصطلاح د دې اتحاد لپاره تر ټولو غوره تعريفي اصطلاح ده. له همدې امله، ملاتړ کوونکی خپلو مربوطه ډلو ته د دښمن د کمزوري کولو لپاره د خپلې ارتيا په اندازه مرسته ورکوي، نه د چريکيانو د غوښتنې په اندازه.

سياسي ملاتړی نه غواړي، چې خپل نوی ګاونډی پياوړی کړي، ځکه راتلونکی بدلېدونکی دی. ملاتړ کوونکی او متحد معمولاً د ملاتړ په بدل کې د راتلونکي لپاره خدمتونه غواړي، لکه اقتصادي امتيازات،

[1] له متحد يا ملاتړي څخه دلته مراد هغه خلک يا دولتونه دي چې له يوې ډلې يا ګروپ سره ټرون وکړي، د خپل ګټو يا متقابلو ګټو په مقابل کې ورسره مرسته کوي. (ژباړن)

سیاسي او آن تر دې چې پوځي خدمتونه، یا د سرحدي سیمې پرېښودل. ځکه په سیاست کې اساس د اخلاقو پر ځای، بیرته باج اخیستل دي.

د مجاهدینو مشران باید دومره پوهه ولري چې د سیاست چلونه او بدلونونه درک کړي. ځینې دولتونه له ډلو او تنظیمونو سره اتحاد کوي او په عین وخت کې د هغوی پر ضد هم اتحاد جوړوي. متحد به هېڅکله وړیا مرسته ورنه کړي او نه به راتلونکی سیال پیاوړی کړي، بلکې هغوی به په محدود حالت کې وساتي؛ نه به ګډ دښمن له منځه یوسي، بلکې کمزوری به یې وساتي، څو دواړه ګاونډیان خپلو کې بوخت وساتي او خپله ګټه ترې واخلي. د جګړې دوام او اوږدېدل د ملاتړي لپاره د اقتصادي عاید یوه غوره سرچینه جوړوي، هغه که د خامو موادو د لوټلو له لارې وي او که د خپلو تولیداتو د خرڅولو له لارې. د ګډوډۍ په فضا کې متحد د هغوی له ځمکې څخه د نشه یي توکو د کرکیلې لپاره ګټه اخلي. دا کار په لاتیني امریکا کې هم شوی، لکه څنګه چې په افغانستان کې هم شوی دی. وروسته له هغه چې (په اوله دوره کې) د افغانستان اسلامي امارت هلته د نشه یي توکو کرل منع کړل، متحده ایالاتو بېرته په افغانستان کې د نشه یي توکو کرل راژوندي کړل او پانګونه یې پکې وکړه. همدا هغه څه دي چې په جنوبي امریکا کې هم کېږي.

په هر حال، د ډلو او تنظیمونو لپاره تر ټولو خطرناک متحد او ملاتړی حکومتي متحد دی؛ ځکه هغه خپلې ځانګړې محاسبې لري، چې چریکي ډلو ته اجازه ورکوي څو پر ګډ دښمن برلاسي شي، خو هغوی کمزوري ساتي، څو تل ورته محتاجه وي او ورته اړتیا ولري. د دواړو ترمنځ اړیکه په ډېر حساس حالت کې روانه وي، تر هغه چې د بېلتون یا پرېښودلو شپېه راورسي. دا هغه وخت دی چې د همدې تنظیم یا ډلې پاتې کېدل د ملاتړي لپاره خطر جوړوي، یا د هغوی لګښتونه د هغو ګټو په پرتله زیات شي چې ملاتړی او متحد حکومت یې له هغوی څخه ترلاسه کوي. یا دا چې ملاتړی حکومت ووینې چې پخوانی ګډ دښمن (یا هغه لوری چې د حکومت ملاتړ لرونکې ډله یې پر وړاندې جګړه کوي) کمزوری شوی او ورسره تفاهم ممکن دی او یا دا چې د دغې ډلې او تنظیم د ملاتړ بار د حکومت لپاره په کور دننه او بهر مشکلات جوړوي. په دې پراو کې مرستې تر ټولو ټیټې کچې ته رسېږي، خو ډېر کم داسې کېږي چې مرستې په بشپړه توګه بندې شي؛ ځکه په سیاست کې هېڅ دروازه په بشپړه توګه تړلې نه وي.

معمولاً د یوځای کېدو نقطه په اصل کې د بېلتون نقطه هم وي؛ ځکه هغه موخه چې دوی پرې سره متحد شوي وو، بشپړه شوې وي، یا په بل عبارت چې خطر یې کم شوی وي. دا ګرانه ده چې د بېلتون نقطه د دښمنۍ نقطه وي، خو همدا د اختلاف نقطه جوړېدای شي. په سیاست کې طلاق د بشپړ بېلتون معنا نه لري؛ بلکې داسې دی لکه د (طلاق وروسته) د عدت هغه میاشتې چې هېڅکله پای ته نه رسېږي. اړیکه په خپل تر ټولو کمزوري حالت کې پاتې کېږي. ډلې او تنظیمونه هڅه کوي د جګړې پر مهال او له هغې وروسته د خپل ملاتړي او متحد د استثماري کړنو له املې د خپګان احساسات وځپي. په سیاست کې اکثره داسې وي چې ګټې د سیاسي اړیکو اساس جوړېږي. که د (وسلوالې) ډلې مشرتابه هوښیار او د کافي ځیرکتیا خاوند وي، نو باید د اتحاد له پیل څخه دې حقیقت ته پام وکړي چې متحد یې د دوی له جګړې څخه څه غواړي. دوی باید په عقلاني ډول چمتووالی ونیسي، داسې چې د ښه ګومان، نېک نیت او ورته احساساتو له اغېز څخه پاک او لرې وي او د بدې ورځې لپاره تر رارسېدو مخکې تیاری ونیسي، په اصل کې خو هوښیاري او د مهارت کچه همدا ده.

د اتحاد پر مهال دا هم مهمه ده چې ډله په دې ځان پوه کړي چې دوی له خپلې ظاهري کمزورۍ سره سره، بیا هم یو پیاوړی لوری دی؛ ځکه که متحدینو او ملاتړ کوونکو ورته اړتیا نه درلودای، نو له هغوی سره به یې د اتحاد لپاره هڅې نه کولې. هغوی ښایي د متحدینو او د هغوی د ګټو لپاره د دفاع لومړۍ کرښه وي. له همدې املې، مشرتابه باید هوښیار او بیدار وي، څو د لویو قدرتونو په جګړه کې یوازې د پیاده مهرې په توګه پاتې نه شي، له غنیمت څخه محروم نه شي، د بریا مخه یې ونه نیول شي، او نه یې د خپل راتلونکي او خپلې جهادي مبارزې له برخلیک سره لوبې وشي. لکه څنګه چې په افغانستان کې وضعیت همداسې و؛ افغانانو د خپل دین او خپلواکۍ دفاع کوله، خو په حقیقت کې یې د نړۍ د نقشې په مخ، له یوې خوا د پاکستان د امنیت او ګټو له بلې خوا د خلیج د ټبلو د شتمنیو دفاع کوله. په دې کې خو شک نشته چې پاکستان، د خلیج هېوادونو او د هغوی تر شا امریکا دا په دې جګړه کې د ځان لپاره حیاتي ګټې لیدلې، له همدې املې یې له افغانانو سره په چټکۍ اتحاد وکړ او په خورا سخاوت سره یې د جګړې تمویل او مرستې وکړې.

د حکومتي سیاسي متحدینو په مسئله کې بله مهمه نکته د هغوی د رښتینولۍ او جدیت کچه او اندازه ده. ځینې یې، په ځانګړې ډول هغه

متحدین او ملاتړي چې د نورو لويو قدرتونو لپاره کار کوي، خپلې مرستې د خپلو پټو اهدافو د پلي کولو په بدل کې وړاندې کوي، د هغوی کړنې او کارونه دومره ناڅرګند وي چې وړاندې د پوهېدو لپاره خو خضر علیه السلام ته اړتیا وي. د بېلګې په توګه، د (شوروي اتحاد پر وړاندې) د افغاني جهاد پر مهال د سعودي نمونه را اخلو. چې په اصل کې د امریکا د استخباراتي ادارې دوهم مخ و، نو د خپل ټول توان یې د امریکایي امر د پلي کولو لپاره کارولو. کار یې له اسلامي منبرونو څخه پیل کړ، څو اسلامي امت ته ورپېښ د شوروي د خطر حقیقت روښانه کړي، په اصطلاح چې امریکایان خو اسلام خوښوي او د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې اصلي دښمن او کینه کښان خو شورویان دي. خطیبانو او واعظانو هم خپله دنده ترسره کړه او د الله په لار کې د مال او ځان په وسیله د جهاد لپاره یې د خلکو جذبات راوپارول.

د سعودي استخباراتو په خپل ټول توان سره امکانات او کسان بسیج کړل او تر نورو مخکې د پاکستان پېښور ته ورسېدل. هغوی هلته د پیسو او ځوانانو په ترتیب او تنظیم لاس پورې کړ. د پاکستان استخباراتي ادارې خو له وړاندې د افغانستان ډګر منظم کړی و. دواړه ادارې د امریکا تر چتر لاندې په یوه فیصله شوي کار باندې سره یو ځای شوې داسې چې، امریکایي پلان جوړونه، په پاکستاني رنګ او د سعودي په تمویل باندې. د هغوی له موخو څخه دا وې:

- د شوروي اتحاد کمزورې کول او له جګړې څخه په مناسبه بڼه د هغوی ایستل
- مجاهدینو ته د یووالي او اتحاد اجازه نه ورکول او د هغوی ترمنځ د اختلافاتو ژورول
- په پوځي توګه د جګړې لپاره د حل نه پیدا کول او دا چې حل باید سیاسي وي، څو حالات ګډوډ او د لاسوهنې موقع شته وي.
- د کمونیستانو او اسلامپالو ترمنځ د ګډ حکومت جوړول
- له جګړې وروسته د عربانو شتون له منځه وړل
- د دې تجربې نورو ځایونو ته نه صادرول
- په لنډه توګه که ووایو نو د هغوی هدف دا وو، چې ثابته کړي څو په جهاد کې یوازې ورانول شتون لري او جوړولو ته پکې ځای نشته او دا چې د مجاهدینو د شتون پراو پای ته رسېدلی او راتلونکي کې باید د مجاهدینو پرځای سیاستوال وي.

په دې توګه، مجاهدینو هر څه وبایلل او یوازې د متحدینو او ملاتړو موخې او هدفونه پوره شول. په اسلامي کچه امت له ناهیلۍ سره مخ شو او د وسلې په زور او د جهاد له لارې د دولت د جوړولو پر امکان یې خپل باور له لاسه ورکړ.

د دې په اړه برید جنرال محمد یوسف، د «د خرس دام» په نوم د یوه کتاب لیکوال او په جګړه کې یو ګډونوال، داسې تبصره کړې وه: «ماتې د بریا له منځنیو ژامو څخه را وایستل شوه.» څومره عجیبه تشبیه ده! د مجاهدینو بریا نړدې وه، خو هغوی یې له بریا څخه محروم کړل او بریا یې په ناورین بدله کړه.

امریکایانو د خپلو دوو نیابتي لوړو (عربستان او پاکستان) له لارې د افغانستان حلقه تنګه کړه، د سعودي ستر او پراخ تمویل افغان مشران فاسد کړل، لکه څنګه چې پاکستان د جګړې د اکمالاتي لارو په کنټرولولو سره پوځي هڅې خرابې کړې. هغوی ټولو په قصدي ډول د افغانانو خپلمنځي خبرې اترې هم خرابې کړې.

له دې سره سره بیا هم، جهاد خپلې ډېرې مستقیمې او غیرمستقیمې موخې ترلاسه کړې او د الله تعالی په فضل یې د محدودیتونو له کړۍ څخه سر راپورته کړ؛ او دا هر څه لومړی د الله تعالی په مرسته او بیا د ځینو محلي مشرانو او د هغوی د هغو انصارو (مهاجرو او مجاهدو) وروڼو په مرسته وو، چې د اسلامي نړۍ له بېلابېلو هېوادونو څخه راغلي وو.

په افغانستان کې یوازې امریکایان او د پاکستان او سعودي نظامونه لوبغاړي نه وو؛ بلکې د افغانستان په بل اړخ کې فرانسې او ایران هم ورته رول ولوباوه، خو د هېواد په شمال کې.

د مجاهدینو لپاره د ملاتړو او متحدینو تر ټولو غوره بېلګه تل هغه ولسونه دي چې د عقیدې یا ان د انسانیت له مخې اړیکې ورسره لري. دا ډول متحدین په ندرت سره پټې موخې لري (پټې موخې اکثره نلري). هغوی معمولاً په هغه څه ملاتړ کوي چې په واک کې یې وي او په بدل کې یې له مننې او احسان څخه پرته د بل هېڅ شي تمه او توقع نلري.

ډېر ډاکټران د خپلو شخصي انګېزو له مخې افغانستان ته راغلي وو؛ هغه انګېزې چې د (اسلامي) عقیدې یا انسانیت څخه یې سرچینه اخیسته. همدارنګه، د شتمنو خلکو او نورو کسانو هم همدا ډول مرسته کړې وه.

د سعودي امیرانو چې څه کړي او یا یې کوي هغه دا دي چې غواړي د اسلامي مرستو بهیر د هغوی له لارې تېر شي، دا یوازې دوه موخې لري: لومړی، د مرستو غلا کول؛ او دویم، د ولس (عام مسلمانان) د ملاتړ او اتحاد له معادلې څخه ایستل، څو (وروسته د همدې مرستو له لارې) پېښې کنټرول کړي (او خپل رسوخ وساتي).

له همدې امله، د مجاهدینو سترګې باید په هر لوري متوجې وي او هغه دسیسو ته بیداره وي چې د دوی پر ضد جوړېږي. امریکایان، سعودي او نور د روسانو پر وړاندې د د افغانستان په جهاد کې ژوره تجربه لري. ناشونې ده چې د شیطانانو دا اتحاد دې د اسلام د ملاتړ لپاره سره راټول شوی وي؛ بلکې هغوی په خپلو ګټو او د خپلو متحدینو په ګټو پسې دي. هر هغه تحریک چې د هغوی رضایت او ملاتړ ترلاسه کړي (باید پوه شي چې) هغوی د الله تعالی له لارې څخه لرې او د (امریکا او د هغې د متحدینو) موخو ته نږدې دي.

هغوی (امریکا او د هغې متحدین) به د جهادي ډلو د زیاتېدو او ګڼېدو لپاره کار وکړي، بیا به له هغو څخه تر ټولو بدې ډلې خوښې او پیدا کړي، ملاتړ به یې وکړي، د همدې ډلو په ملتیا به له مجاهدینو سره په ګډه وجنګېږي، او وروسته به (په هر هېواد کې د هغوی) له نظام سره د مسئلې سیاسي حل ته مخه کړي. خو هغه ډلې چې اول یې پرسولې وي او بې‌وسه شوې وي، نو په مناسب وخت کې به یې تمویل پرې کړي او په بهرنیو اډو کې به یې ګوابښي، څو مشران یې د امریکایي، سعودي او ترکي لوري د تګلارې څخه د انکار او هغوی د ردولو توان ونه لري. په دې توګه به هغوی (په بل لاس) جګړه په سخاوت سره تمویل کړي، خو کله چې د بریا نښې په افق کې راڅرګندې شي، د مجاهدینو او د هغوی د غوښتنو ترمنځ به خندې شي او داسې سیاسي حل به ورته جوړ کړي چې په سیمه کې د یهودانو پاتې کېدل او دوام تضمین کړي.



مورِ باید د سعودي د کورنۍ او د هغې د اماراتي لکۍ په اړه پوره بصیرت او پوهه ولرو؛ ځکه د هغوی یوازینۍ موخه د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې جګړه او د یهودانو د شتون یقیني کول دي.

مجاهدین باید د (دا ډول) نظام متحدینو ته پام وکړي، مجاهدین باید د هغوی اتحاد خراب او د هغه د ټوټه کولو لپاره کار وکړي، په ځانګړي ډول هغه وخت چې دا یو سیاسي او د ګټو پر بنسټ ولاړ اتحاد وي؛ که د نظام سره د یوځای کېدو د نقطې لپاره بدیل حل پیدا شي، نو ډېر ژر به د بېلتون نقطې ته ورسېږي.

مجاهدین په دې هر څه هغه وخت بریا ته رسېږي (او ترې بچ پاتې کیږي) کله چې د الله تعالی په توفیق سره، صبر وکړي، وعدو ته ژمن شي، ټینګار وکړي او دین قائم کړي. مجاهدین چې په هر ځای کې وي باید پوهاوی ولري او په لوړه کچه باندې بیداره او هوښیاره وي، او دا که په هر ځای کې وي که په افغانستان، سوریه، سومالیا، مالي، الجزایر، لیبیا، یمن، مصر، پاکستان یا بل هر ځای کې وي؛ ځکه دښمن یې ګډ دی.

تاسو به تل په هغو قضیو کې چې د اسلامي نړۍ په ځمکو کې اداره کېږي، دوه داسې نمونه وویني چې له یو بل څخه نه بېلېږي او موخه یې یوازې د هر اسلامي خوځښت او حرکت ځپل، له خپلې لارې څخه اړول یا له هغه سره دښمني کول دي. دا دواړه نمونه د «امریکا د متحده ایالاتو او د سعودي عربستان د پاچاهۍ دي»، او همدا شان هغه کسان چې د دوی ملاتړ کوي، لکه «فرانسه، بریتانیا او متحده عربي امارات». دا په عربي تمویل او بڼه کې د اجیر پوځي ځواک یوه بېلګه ده چې پر دې سیاره د الله تعالی، اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د جګړې لپاره کارول کېږي.

د ملاتړي د لاسه ورکولو او د اتحاد پای ته رسېدو بل لامل د ډلو یا انقلابیانو ناکامي ده چې هغه څه ترلاسه نه کړي چې متحد او ملاتړي پرې شرط اینبی و. کله چې هم په افق کې د وسلوالو ډلو او تنظیمونو د ماتې نښې راڅرګندې شي، متحدین یې یو په بل پسې پرېښودل پیلوي.

دا هم باید په یاد ولرو چې ملاتړی او متحد به له داسې سیال سره اوږده دښمني ونه ساتي چې تفاهم ورسره ممکن وي او د خپل دولت لپاره ترې ګټې ترلاسه کولای شي.

د هغو عناصرو د ملاتړ د دوام لپاره هېڅ دلیل نه پاتې کېږي چې په خپله سیاسي او پوځي مبارزه کې یې پرمختګ نه وي کړی. له همدې ځایه مورِ د ترکیې دریځ او د مصر د سیاسي مخالفینو له ملاتړ څخه د هغې لاس اخیستل درک کولای شو. له مصر سره به د اړیکو ترینګلتیا د مخالفینو د هڅو د ناکامۍ او د مصر د وضعیت د ثبات لپاره د نړیوال او سیمه‌ییز ملاتړ په بدل کې دوام ونه کړي.

آیا ستونزه اخلاقي ده؟!

اخلاق کله د سیاست له عناصرو څخه وو؟!

د ترکیې هغه بېلګه چې د دین په نوم او د عثماني میراث په وسیله یې سیاسي مانورونه کول، دا ټول یې شاته وغورځول او د مصر له نظام سره یې د اړیکو د بیا رغولو او له هغه سره د عربي متحدینو د اړیکو د بیا ټینګولو لپاره یې امتیازات ورکړل.

ارطغرل په دې شخړه کې بریالی نه شو. هغه په خپلو ادعاوو کې رښتینی نه و؛ که نه، نو د دې ادعا لپاره به مړ شوی وای. (الله تعالی دې په ملا عمر رحم وکړي.)[2]

ټول مستضعفین باید دا خبره ښه درک کړي: د مصر له مخالفینو سره د ترکیې له ننني تجربې او سبا له سوریې سره د هغې د تجربې له مخې باید پوه شي چې سیاستوال، سره له دې چې د خلکو د غولولو او تمثیل کولو وړتیا لري، له خپلې کچې څخه نه اوړي. د هغوی لپاره له خپلو ګټو پرته بل دین نشته. د تېر وخت شعارونه یو مات میراث دی، خو د سیاسي مانور او غولونې لپاره ګټور دی.[3]

****

[2] دلته د لیکوال مراد دا دی چې ملا عمر رحمه الله د ترکیې د ارطغرل او اردوغان برعکس په خپلو وعدو وفا وکوله او قرباني یې ورکړه. (ژباړن)

[3] دا لیکنه په ۱۴۴۳ هـ.ق کال د رجب په میاشت کې شوې ده، او د وړاندوینې مطابق څه کم دوه کاله وروسته په سوریه کې د ترکیې په مرسته یوه جمهوري دولت جوړ شو، چې دا دولت د سیاسي مانور او د خلکو د غولولو او تېر ایستلو لپاره د هغه مجاهدینو په قربانیو باندې کړېدیت اخلي، چې هېڅکله یې د جمهوري دولت او د امریکا د متحد کېدو لپاره قربانۍ نه دي ورکړې. بلکې هغو مجاهدینو د الله تعالی د کلمې د لوړېدو لپاره قربانۍ ورکړې، خو د اوسني حکومت مشران فکر کوي چې ګواکې پخوانیو مجاهدینو د دوی د فاسد او د امریکا متحد حکومت لپاره قربانۍ ورکړې دي. او دا ټول د ترکیې په شان د منافقو هېوادونو سره له اتحاد وروسته کېږي. (ژباړن)

صلیبي جګړې



دوهمه برخه

د. إياد أسيد

نړۍ تورو تيارو پخپله غيږ کې رانغاړلې وه، چې نبي کريم صلى عليه وسلم د جاهليت په سينه يو داسې غيشى وار کړ چې نيغ يې له زړه ووت؛ پخپلو مبارکو لاسونو يې داسې نسل وروزه چې د صبر، استقامت، ايثار او ننګونو ماده يې پکې حک کړې وه.

داسې ټولى چې نه له کوم مصيبت ويريدل، نه يې کوم دنيوي نعمت عزم متزلزل کړ، غربت يې د لارې خنډ نشو، تجارت نه يې پروا کول، کوم مادي ځواک يې پر مخ خنډ نشو جوړيداى، د ولسونو لپاره د عدالت تلې او لار ورکو لپاره د لارښود ستوري وه.

هماغه وه چې الله تعالى جل جلاله خپله ځمکه د دوى تر قدمونو لاندې او نړۍ يې د دوى تابع وګرزوله.

مګر کله چې مو خپل اصلي هدف هېر کړ، د دنيا عيش او عشرت په دام کې ښکېل شوو، شخصي ګټو ته مو د امت پر ګټو اولويت ورکړ؛ د اروپا يو بې سر او سامان صليبي طوفان راوالوت چې 200 کاله يې اسلامي امت له کړاو او وحشت سره لاس او ګريوان کړ. د صليبي جګړو د پيل په دوران کې د اسلامي نړۍ داخلي حالات:

د باطنيه او اسماعيليه شعيه ډلو ظهور:

د دې حرکت بنسټ د حسن بن صباح په مشرۍ 438هـ کال کېښودل شو. حسن بن صباح په ټولنه کې يو عادي انسان وه چې د خپل ذهانت او ځيرکتيا په اساس يې وکولاى شول د دې حرکت بنسټ کېږدي، پدې ډول د نړۍ له مشهورو خلکو څخه وګرځېده.

په 483 هجري/1090 ميلادي کال کې يې د الموت کلا، چې د قزوين سره نږدې د الموت په سيمه کې وه، ترلاسه کړه، حسن بن صباح همدلته د سختو او دنګو غرونو تر منځ په يوه ژور ځاى کې د ځان او خپلو مريدانو لپاره مصنوعي جنت جوړ کړى وه، نومورې به همدلته خپلو مريدانو ته حشيش "چرس" ورکول چې هغوى به يې بې هوشه کول، د همدې بې خودۍ په حالت کې به يې خپل مصنوعي جنت ته داخلول، ترڅو ورځو به په همدې بې هوشۍ کې يې له ځانه سره خپل جنت کې ساتل او بيا يې په همدې حالت کې له جنته ويستل؛ چې د دې مصنوعي جنت يادونه او خپل فدايان پرې مخمورول مارکوپولو په خپلو يادښتونو کې هم راخيستي.

همدا خلک به بیا حشاشین فدائین ګرځیدل ځکه چې دوی به یوځل دا جنت ولیده نو بیا به یې د خپلولو لپاره د تل لپاره غلامان ګرځیدل. د دوی رهبر ته به شیخ الجبل ویل کیده، په تاریخونو کې د حشیشینو، فدایانو او باطنیانو په نومونو مشهور دي.

باطنیانو پخپل تشکیل کې مختلفې درجې درلودې لکه داعي الدعاة چې د یوې لویې سیمې یا د ټول دعوت د ځانګې عالي مشر بلل کېده؛ د داعیانو ټاکل، ځارنه او لارښوونه یې کوله؛ داعي الکبیر د مهمو سیمو لکه د شام د عوت مشري، د محلي داعیانو ترمنځ همغږي او د مرکز له لارښوونو سره اړیکه ساتل یې مسؤلیت وه؛ داعي د اسماعیلي عقیدې تبلیغ، د نویو پلویانو جذب، د ټولنو ځارنه او د مرکز د لارښوونو رسول یې مسؤلیت وه؛ الرفیق د دعوت ساده غړی یا نوی پېژندل شوی کس وو چې د عقیدې زده‌کړه او د ډلې د ژوند منظمه پیروي به یې کوله؛ لاصق ډېری وخت د عامو غړو او کاریګرانو طبقه وه او فدایي د ټاکل شوو سیاسي پوځي عملیاتو په تېره بیا د مخالفو مشرانو د وژنې لپاره روزل شوی کس وو.

باطنیانو د څو کلونو په موده کې دومره ستر واک تر لاسه کړ چې سلطان محمد سلجوقي او سلطان سنجر سلجوقي دواړو پخپل ټول ځواک سره هم مات نشوای کړای. لومړی یې د الموت کلا په نیولو سره همدا خپل مرکز وټاکه، همدارنګه یې په سلګونو کلاګانې او ساحې ونیولې چې یو ستر طاقت تري جوړ شو. حسن بن صباح (شیخ الجبل) به چې هر څوک د خپل ځان دښمن وکوت سمدلاسه به یې هغه د خپل فدایي په واسطه له منځه یوړ. د فدایانو تورې، خنجرونه او غیشي به تل په زهرو ککړ وه، هغوی به له تېز خنجره کار اخیسته. همدا خبیثان تل د اسلام پر ضد جنګیدل، په لس ګونو زره مسلمانان یې له منځه وړي دي، ګڼ شمیر علماء او د مسلمانانو حاکمان یې هم شهیدان کړي چې له جملې یې: سلطان عماد الدین زنګي او د اسلام ستر فاتح نورالدین زنګي هم د همدوی د زهرو په واسطه شهیدان کړل شول همدارنګه یې د سلجوقي اسلامي امپراطورۍ وزیر اعظم نظام الملک طوسي په 1092 م کال، د اصفهان قاضي ابوسعد حروي د 11م پیړۍ وروستیو کې، مستظهربالله د عباسي خلافت خلیفه 1135م کال کې په شهادت ورسول.

څو ځلې یې په سیف الجهاد سلطان صلاح الدین ایوبي "رحمه الله" هم مرګوني بریدونه وکړل، مګر ایوبي رحمه الله د الله تعالی په نصرت او د باري تعالی لخوا د ورکړل شوي ذکاوت، نصرت او تدبیر په توسط یې ژغوره. دا ډله 170 کاله د اسلامي امت لپاره یو ناسور ګرځیدلې وه، تل به یې د اسلام خلاف له یهودو، صلیبیانو او مغلو سره ټرونونه کول او د امت نخبه ګان به یې له منځه وړل.

د شام باطني نزاري مشر علي بن وفا ۱۱۴۹م کال کې د انطاکیې د صلیبي واکمن ریموند دو پواتیه سره یوځای شو، تر څو د زنګي اسلامي حکمرانۍ د پراخېدو مخه ونیسي، دوی د نورالدین زنګي په وړاندې د اناب جګړه کې ماته وخوړه؛ هم ریموند او هم علي بن وفا ووژل شول.

همدارنګه یې د مسلمانانو خلاف 1129 م کال د بیت المقدس صلیبي پاچا بالدون دوهم سره اتحاد وکړ؛ داسې په لسګونو او سلګونو مثالونه وجود لري چې پر مسلمانانو یې د شا له طرفه وارونه کړي.

د مغلو حکمران هلاکو خان د دوی په سلګونو کلاګانې او په زرګونو باطني فدائي حشاشین ووژل خو د دوی په ریښې ویستلو ونه توانیده. تر دې چې د اسلام یو بل غازي سلطان رکن الدین ظاهر ببرس رحمه الله د دې فتنې ریښې له بیخه وویستې د العیلیقه، الرصافة، الخوابي، القلیعه، المنیقه، القدموس، الکحف مشهورې او نورې ټولې کلاګانې او ساحې یې یو پر بل پسې ترې فتحه او په لسګونو زره باطنیان یې د ګازرو او مولیو په څیر له تیغه تېر کړل.

خپل منځي اختلافات:

کله چې د عباسي خلافت پر آسمان د زوال ستوری راښکاره شو او ورځ په ورځ کمزوري کېدل، د خپل واک د بقاء لپاره یې په پیسو تورپوستي غلامان له مختلفو هېوادونو وپیرل او بیا به یې پوځ ته داخلول، د وخت په ګذر سره دا تور پوستي غلامان په پوځ کې د عالي رتبو، منصبونو او جاه او جلال څښتنان شول، عباسي خلیفه تش په نوم پاتې، ټول واک ترکي او تور پوستو غلامانو ترلاسه کړ، حتی چې کله به خلیفه ورته ویل یو څو روپۍ راکړه چې روژه ماتی پرې وکړم، اختر ته ځان او کورنۍ ته څه سودا او جامې پرې وپیرم، مګر دوی به نه ورکولې؛ دا بدماشان د خلافت پر ټولو چارو واکمنان شول، په پټه به یې خپله بت پرستي هم کوله او یو خلیفه به یې واژه او پر ځای به یې بل د دې له کورنۍ څخه مقرراوه، څه موده بعد به یې چې هغه پر طبیعت نه وه وبه یې واژه او د خلافت د کورنۍ یو بل به یې پر ځای کیناوه.

کله چې آل بویه لرې په مازندران کې د قدرت څښتنان شول او تر بغداد راورسیدل، خلیفه له موقع څخه په استفادې د ترکي غلامانو او تور پوستو غلامانو چې پر خلافت واکمنان وه د له منځه وړلو لپاره ورسره متفق شول او په حکومت کې یې دخیل کړل، دوی بیا داسې کارونه ترسره کړل چې دې تیرو غلامانو سوچ کې هم نه ګرزېدل، تر دې چې د سلجوقیانو

په نوم یوه نېکه او جهادي کورنۍ واک ته ورسیده، فتوحات یې تر بغداد راورسیدل، د دې لړۍ له زوال بعد بیل بیل دولتونه رامنځ ته شول، واحد رهبریت له منځه لاړ، امت ټوټه شو او خپل منځي شخړو ته یې مټې راونغاړلې. د خپل مسلمان ورور په مقابل کې به یې له صلیبیانو سره ټرونونه کول او د ورور وژنې بازار یې ګرم ساتلی وه.

د صلیبیانو متحد کېدل او د اسلامي امت ټوټه کیدل:

اروپا کې صلیبیانو خپلې زر کلنې جګړې پای ته ورسولې او د اسلام پر ضد سره متحد شول، د کلیسا او حکمرانانو تر رهبرۍ لاندې په لکونو لښکرې چمتو او د اسلام پر خلاف د جګړې په تکل راوخوځیدې.

د زندیقانو او خوارجو ظهور:

همدې فتنو اسلامي امت په عقیدوي او دیني برخه کې سره وویشه او یو پر بل د کفر ټاپې لګول پیل شول.

په اسلامي افریقا کې د باطني شعیه ګانو خرافات تر دې حده ورسیدل چې حاکم بامرالله د خدایی دعوه وکړه.

حج ته پر تګ یې بندیز لګولای وه او شراب په ازادانه ډول پلورل او څښل کیدل؛ دا هغه عوامل وه چې صلیبي نړۍ ته یې د اسلامي امت پر خلاف د جګړې زمینه مساعده کړه.

پر بیت المقدس او اسلامي نړۍ د یرغل په تکل دعوت او لښکرې راټولول

تر 1090م لسیزې پورې بیت المقدس د اسلامي سلجوقي لړۍ تر تسلط لاندې وه، پر بیت المقدس او فلسطین د مسلمانانو د واک له اولې ورځې د دې ښار کوڅې د عیسویانو او یهودو پر مخ خلاصې وې، مسلمانانو خپل لمونځونه کول، عیسویانو خپلو کلیساوو ته لار وهله او یهودو خپل دودیز مراسم په خپلو محلو کې ترسره کول؛ هیڅ زور او جبر پرې نه وه او هیڅ دیني قشر ځان پردی نه احساسولو، هر چاسره د اسلامي اصولو په چوکاټ کې برخورد کېده؛ دا وخت پر بیت المقدس کې د بطریق اعظم په نوم یو پاپ اوسیده چې ټولې عیسوي نړۍ ورته احترام درلوده او د نومورې خبره یې د خدای خبره بلله.

په صلیبي نړۍ کې د رومن کاتولیک مذهب حاکمیت درلوده چې په کلیساګانو کې یې د عیسی علیه السلام او مریم علیها السلام په درواغو جوړ کړای شوي تصویرونه راځړولي وه؛ د دې مذهب په اساس اونۍ کې یو ځل او یا هم کال کې یو وار باید هر عیسوي کلیسا ته لاړ شي، پخپلو ګناهونو اعتراف وکړي بیا که د راهبانو او پاپ خوښه وه ورته یې بښي، همدارنګه راهب او راهبې ټول عمر واده نشوای کولای.

پیټر یا پطروس د اروپا د یوې اطرافي سیمې اوسیدونکی او د کلیسا پادري وه، د لنډ قد، اوږدې سپینې ږیرې او تور رنګ څښتن وه، د حج پر نیت د بیت المقدس په لور راوخوځیده، له رارسیدو سره سم یې بطریق ډیر توند هرکلی وکړ او د ده قچره یې له پرې نیولې خپلې مانۍ ته ننویسته.

د دوی په وینا: پطروس لومړی د عیسی"علیه السلام" روضې ته ورغی په دعا او سجده پروت وه همدې حالت کې شپه ډیره تیره شوې وه چې یو ناڅاپه ټوله کوټه رڼا شوه نومورې چې سر راپورته کړ یو غږ پرې وشو، زه عیسی مسیح د خدای زوی یم، زما پیروان راټول کړه او زما پیغام ور ورسوه، زمونږ مقدس اماکن بیرته ونیسئ، وحشي مسلمانان د ځمکې له نقشې ورک کړئ او ته د دې کار لپاره ټاکل شوی یې، غږ ورک شو او تر سهار بیا غږ پرې ونشو، سهار سمدستي نومورې بطریق اعظم ته ورغی او ټول جریان یې ورته بیان کړ؛ بطریق ورته مسکی او زیری یې ورکړ او ترې د پخواني صلیب غوښتونکی شو.

په اصل کې داد همده بطریق اعظم جال وه چې په پټه یې د نومورې لپاره غورولی وه، خبرې کوونکی هم دده یو پادرې او رڼا هم ورته نومورې چمتو کړې وه.

بطریق اعظم پخوانی صلیب او د اروپا د هر پاچا په نوم خطونه ورکړل، پطرس دومره په چټکۍ د اروپا په لور لاړ تا به ویل الوزي، نژدې وه چې ټوله قافله یې له سترپا له منځه ولاړه شي.

اروپا ته له رسیدو سره سمدستي واتیکان ته د لوی پاپ حضور ته ورغی، ټوله واقعه یې پداسې اثرناک ډول ورته بیان کړه چې پاپ په چیغو او ژړا پیل وکړ او پطروس یې په غیږ کې کلک ونیوه.

له ځانه جوړې شوې قیصې یې د پاپ د راپارولو په پار ورته وکړې داسې چې:

> «فلسطین کې وحشي مسلمانان زمونږ له عیسوي ورونو سره د غلامانو او حیواناتو په څیر سلوک کوي، عبادت ته یې نه پریږدي، ښځې بې عفته کوي هغوی له مورِ څخه د مرستې چیغې وهي، ټولې هیلې یې د اروپا عیسوي نړۍ ته دي چې لدې مظالمو یې وژغوري.»

پاپ دوهم اوربان پطروس ته وویل ته د دې کار لپاره ټاکل شوی یې، همت وکړه، د اروپا

ښارونو او کوڅو کې وګرزه او خلک صلیبي جګړې ته وهڅوه.

بیا پاپ د ټولې اروپا پاچاهانو او شهزادګانو ته خطونه ولیږل چې په دغه ټاکل شوي تاریخ د فرانسې د کلرمونټ په ښار کې زما انتظار وکړئ.

پطروس پخپله قچر سپور به په هر ښار او کلي ګرځیده، مخکیني حالات به یې خلکو ته بیانول، خپلو خبرو کې به یو دم په ژړا شو چې حتی ږیره به یې لمده شوه، چې سترې به شو هغه راوړی زوړ صلیب به یې خلکو ته ښوده. بلاخره یې ځوانان، ښځې، ماشومان او د ټولنې فاسقه طبقه ټول په ځان راټول او جګړې ته چمتو کړل.

خلکو به د پطروس لیدو ته سترګې په لار وه، د برکت په خاطر به یې د نوموړي د سر او ږیرې ویښته له ځانه سره اخیستل، تر دې چې د سر او ږیرې ویښته یې خلاص شول بیا یې د نوموړي د کچرې په ویښتو راشکولو پیل وکړ چې هغه هم خلاص شول.

تاریخونو دا هم راخیستي: چې یو ځوان په یوه انجلۍ عاشق وه، دا نجلی یې له کورنۍ وغوښته وروسته له ډیرو هڅو یې نجلی نوموړي هلک ته ورکړه او د واده نیټه وټاکل شوه د نوموړي له واده یوه ورځ مخکې پطروس د دوی کلي ته راغی دا ځوان یې دومره له خبرو متأثر شو چې واده یې پریښود او د کلرمونټ د غونډې په لور رهي شو، چې نجلۍ خبره شوه هغه هم په صلیبي جګړو کې یو ځای کیدو په تکل کلرمونټ ته رهي شوه بلاخره د دواړو کورنۍ هم جګړه کې د ګډون په تکل روان شول او دا یې عهد وکړ تر هغه به دا واده نه کیږي تر څو مو چې بیت المقدس نه وي نیولی.

ښځو به خپل زیورات د دې جنګ لپاره خرڅول، د کور سامان به یې پلوره او د جنګ سامان یې پرې اخیسته، دا هر څه د پطروس د ویناګانو نتیجه وه چې په اروپا کې یې یوه لیونۍ جذبه راپیدا کړې وه.

د کلرمونټ غونډه او پر اسلامي نړۍ یرغل

پاپ دوهم اوربان چې کله د اروپا ټول پاچاهان، حاکمان، شهزاده ګان او لوړه رتبه خلک یې په ټاکلي تاریخ د فرانسې کلرمونټ ښار ته را دعوت کړي وه تر څنګ یې په لکونو خلک هم د دې ښار په لور رهي شول.

کلرمونټ ډیر ستر ښار وه مګر دومره ډک شو چې د لویشت ځای پکې نه وه او له ښار بهر د خلکو د هستوګنې په پار خیمې ووهل شوې، خوراکي توکي قیمته شول، اسلحې دومره قیمته شوې چې د ټول کور په سامان به د یو نفر د جنګ آلات کیدل.

د کلرمونټ جلسې ته پاپ، پطروس، پاچاهان، شهزاده ګان او په لکونو خلک راغلل، د هر چا د رتبې په نظر کې نیولو سره څوکۍ ورته ایښودل شوې وې، د پاپ یو څنګ ته پطروس او بل څنګ ته یې د فلورا په نوم د یونان شهزادګۍ ناسته وه.

لومړی پطروس پاڅیده او په تقریر یې پیل وکړ، مخکیني ټول حالات یې بیان کړل او یوه داسې اثرناکه وینا یې وکړه چې په ټول ښار کې چیغې او غوغا پیل شوه؛ بیا پاپ وینا وکړه، ورپسې فلورا سټیج ته پورته شوه او په لکونو خلک یې چې په نندارې وه، په خبرو یې پیل وکړ:

> زه د یونان شهزاده الکسیس رالیږلې یم، هغه له صلیبي اتلانو سره د کمک وعده کړې ده، که تاسو بیرته فاتح راغلی نو د یونان ښایسته پیغلې به په تحفه کې درکړم.

بیا فلورا وویل ما هم اراده کړې چې په دې مقدسه جګړه کې برخه واخلم او هر څوک چې اول بیت المقدس ته ننوتل زه به له هغه سره واده کوم.

دا وحشي لیوان د دې خبرو مست او مخمور کړل او دا د دې وحشیانو لپاره د ترغیب بهترینه حربه او چل و .

د غونډې له پای ته رسیدو وروسته صلیبي لښکرې د بیت المقدس په لور رهي شوې، لومړۍ او مخکې پطروس له یولک لښکر سره ورپسې ګاډفرې د بولان پاچا اتیا زره لښکر سره، رینالډ له شپیته زره پوځ سره او نورې ډیرې ډلې د لس لس او شل شل زره لښکرو سره چې د سردارانو تر قومندې لاندې وه د اسلامي نړۍ په لور راوخوځیدل.

لومړی مینس ته ورسیدل او د هغه ځای یو یهودي یې هم ژوندی پرنښود، مالونه یې ولوټل او ښار یې ونړاوه، همداسې روان وه چې قسطنطنیې ته راورسیدل؛ قسطنطنیه کې یې په غلا، چور، لوفرۍ، د نجونو په تښتولو او د خلکو په کورونو ورختل پیل کړل، د دې لوچک لښکر له کارونو د قسطنطنیې پاچا الکسیس په تنګ راغی او ډیر ژر یې فلسطین په لور را مرش کړل.

دې لوچک لښکر ته به چې په لار کې هرڅه په لاس ورتلل له منځه یې وړل.

رینالډ د خپلو 60000 لښکرو په مټ لومړی د مسلمانانو د اګزروګوروا په نوم کلا برید وکړ، پدې کلا کې 1500 مسلمانان اوسیدل چې 150 نفره نظامي مجاهدین وه او نور عام، یو څه اندازه عیسویان هم پکې استوګن وه .

د برید د مقابلې په پار عوامو مسلمانانو هم تورې راواخیستې چې تنها 3000 عیسویان یې په دروازه کې ووژل، محاصره دومره سخته شوه چې صلیبي لښکر نامیده شو، د اسلام دا کوچنۍ ټولی په پوره میړانه جنګیده او یرغلګرو ته یې د یو قدم پرمختګ اجازه هم نه ورکوله.

له یوې میاشتې محاصرې او کلکونو جنګونو بعد په کلا کې دننه عیسویانو خیانت وکړ او دروازې یې خپلو وحشي لښکرو ته پرانیستې او کلا ته راننوتل، مسلمانانو په کلا کې جنګ شروع کړ، د ایمان او مادیت دا معرکه تاریخ سازه وه تر دې چې ټول مجاهدین شهیدان شول او په کلا کې 16000 صلیبیان لکه ریبل شوې ګازرې او مولۍ پراته ول.

پدې جګړه کې 21000 صلیبیان ووژل شول او ټول مجاهدین چې شمیر یې 1000 هم نه وه شهیدان شول.

صلیبیانو چې کلا ولکه کړه نو یې د ښځو او ماشومانو په وژلو پیل وکړ. طیب یو تجار وه، له خپلې تجارتي قافلې سره چې بیرته راغی، صلیبیانو له طیب د خزانې کلیانې وغوښتې، نوموړي پدې شرط ورکړې چې ما او کورنۍ ته به مې ضرر نه رسوئ، صلیبیانو ومنله او طیب هم د خزانه ورته وسپارله، کله چې صلیبیان خزانه تر لاسه کړه د طیب ټوله کورنۍ یې په شهادت ورسوله؛ طیب چې دا حالت ولیده رامنډه یې کړه او په صلیبیانو یې حمله وکړه، صلیبي داړه مارانو طیب داسې وواهه چې ګمان کیده شـهید شو.

طیب چې ګمان کیده شهید شوی، د یوه وژل شوي صلیبي کالي واغوستل او له کلا ووت، د قونیې حاکم سلطان قزل ارسلان ته یې په زخمي حالت کې ځان ورساوه .

ټوله واقعه یې ورته بیان کړه؛ دا یې هم ورته وویل چې تنها د مسلمانانو له جملې زه ژوندی پاتې یم بس.

د اسلام د دې اتل بچي سلطان قزل ارسلان ایماني غیرت په ځپو شو، د آماده ګۍ حکم یې وکړ او د سلطان د لښکر تر څنګ په زرګونو رضاکارانه مجاهدین، ښځې او ماشومان د خپلو ورونو د انتقام لپاره آماده شول.

د اسلام لښکر په پوره ځوږ سره روان وه چې بلاخره یې کلا محاصره کړه، اوبه یې پرې بندې کړې، څو ورځې بعد صلیبي لښکر دومره تګی شو چې آسان به یې حلالول او د هغوی وینې به یې څښلې چې دې کار یې تنده دوه چنده کړه، خپله رینالډ له تندې خټه څټله؛ یوه ورځ د اسلام زمریان د یوې پریکنده جګړې په پایله کې پر کلا وروختل، په کلا کې د صلیبیانو سرونو داسې پرې کیدل لکه ګازرې او مولی یو صلیبي هم ژوندی پاتې نشو.

د اسلام لښکر صلیب ته داسې ماتې ورکړه چې تر ننه تاریخ پرې ویاړي او الله تعالی لدې لوچک لښکر د خپلو مظلومو بنده ګانو سختترین انتقام واخیست.

سلطان قزل ارسلان د اګزروګوروا کلا په نظم بوخت وه چې یو عیسوي د منسیا د مسلمانانو د قتل عام او صلیبیانو د غدر خبر راوړ، وحشي لښکرو منسیا کې یو مسلمان هم ژوندی نه وه پرېښئ، همدا خبر راوړونکی صلیبي بیا مسلمان او نوم یې عبدالرحمن شو.

سلطان قزل ارسلان له خپل 50000 زره مجاهد لښکر سره د منسیا په لور حرکت وکړ، هلته خپله پطروس له دوه لکه لښکر سره چې فلورا او والټر هم ورسره وه دمه وه.

د شپې ناوخته د اسلام لښکر منسیا ته ورسیده، ۱۰۹۶م کال اکتوبر په ۲۱ مه د سهار له لمانځه بعد د جنګ صفونه برابر شول، لومړی یو صلیبی چې د دیو پشان غټ وه میدان ته راغی او د مسلمان سره یې تن په تن جګړې غوښتنه وکړه؛ د اسلام د لښکرو له منځه یو نری ځوان چې غالب نومېده او د لښکر سپه سالار وه راووت، صلیبي لومړی ریشخند پرې واهه چې ټول لښکر کې مو همدا باتور وه، خو چې کله سره مخامخ شول د صلیبي دېو ماغزه سر ته ورغلل، دوهمې حملې ته چې صلیبي ځان برابروه سر یې په ځمکه او بدن یې په آس ځوړند پاتې شو.

دې پسې سمدستي عمومي حمله پیل شوه، د اسلام زمري سلطان قزل ارسلان د اسلام توغ پخپله پوندې ترلی وه او په دوه تورو جنګیده، د هر مسلمان مقابل کې پنځه صلیبیان وه، مسلمانان لومړی په شا شول، چې یو ناڅاپه د اسلام ښځینه لښکر تورې په لاس رامخکې او لومړی ملکې برید وکړ، مسلمانان وشرمیدل بیرته راتاو او لکه زخمي زمریان پر دښمن ورولویدل نر او ښځې ګډ جنګیدل.

د جنګ پدې سخت حالت کې د اسلام د سپه سالار غالب سترګې په والټر ولګیدې، پرې ورخیز یې کړ او د سترګو په رپ کې یې په منځ نیم کړ.

تر مازدیګره د یولک صلیبیانو مړي په میدان کې پراته وه، تینبته یې پیل کړه، تر اوسه لا یونیم لک ژوندي وه، مجاهد غالب له خپل ګوریلایي ځواک سره ورپسې شو او په لاره کې لکه تړل شوي پسونه له تیغه تیرول، تر دې چې انطاکیې ته درې زره تنه ژوندي ورسیدل.

پطروس او ټول راهبان مجاهدینو ژوندي ونیول، ویې نه وژل ځکه چې اسلام کې د راهبانو وژل جایز نه دي، پداسې حال کې چې

همدا خبيثان د صليبي جګړو اصلي عاملين وه، دا وه د اسلامي باتور لښکر لوړ اخلاق.

150 مجاهدينو 3000 صليبيان پسې اخيستي وه تر دې چې د انطاکيې کلا ته ننوتل، همدې 150مجاهدينو کلا محاصره کړه او يو تن د کمک به پار سلطان ته ورغی، سلطان زر تنه د غالب په مشرۍ د کلا د محاصرې لپاره وروا‌ستول.

کلا ډيره کلکه وه غالب او مجاهدينو تورې په غاښونو کلکې ونيولې او د کلا پر دروازه وروختل، صليبيانو چې دا حالت وليده دروازې ته يې اور واچوه، مجاهدينو بيرته را خيز کړل، له دروازې اور کلا ته لاړ او ټوله کلا سره له صليبيانو د اور خوراک او الله تعالی د خپلو اعمالو سزا ورکړه او ځينې وتښتيدل او د کښتيو له لارې اروپا ته مخ تورن ولاړل.

کله چې اروپايان د خپلو دوه نيم لکه بې نظمه، لوچک، لوټمار او بې تجربې لښکر چې يوازې جذباتو او د عيش، عشرت او مادياتو مينې دلته په راوستلو مجبور کړي وه له تارومار کيدو خبر شول، نو پاپ دوهم اوربان يو ځل بيا پادريان او راهبان د اروپا هر ښار او کلي ته د يو نوي لښکر جوړولو په تکل وليږل، دې پادريانو به له ځانه جوړې شوې کيسې چې څنګه مسلمانانو د دوی لښکر په چل، دوکې او فريب سره په بې رحمۍ له منځه يوړ کولې او په دوی کې به يې د انتقام اورونه بلول. بلاخره دوهم ځل يولک سپاره او پنځه لکه پياده چې د اروپا مختلفو پاچاهانو، شهزاده ګانو او نوابانو يې رهبري کوله او له جګړې سره تر يوه حده بلد وه اسلامي نړۍ ته راننوتل، قونيه يې محاصره کړه، سلطان قزل ارسلان او غالب په ډيره ميړانه مقابله کوله چې بلاخره يې په لومړي ځل ماتې وخوړه او قونيه يې د قسطنطينې باچا الکسيس ته تسليم کړه.

کله چې سلطان په قونيه کې ماتې وخوړه يو ځل بيا يې اسلامي لښکرې برابرې او په لارو او غرونو کې يې پټې مورچلې جوړې کړې، هغه وخت چې صليبي لښکرې مورچلو ته راورسيدې ناڅاپه پرې قيامت جوړ شو، له هرې خوا پرې غيشي او تيرې راتلې، بيا غالب د صليبيانو د لښکر په کونجونو او سلطان پر منځ حمله وکړه، دښمن تينبته پيل کړه چې د صليبيانو بل لښکر راورسيده او سلطان د جګړې درولو حکم او شاته لاړل.

بالډون لومړی صليبي پاچا وه چې په ۱۰۹۸م کال مارچ په لسم د اډيسه په نيولو سره په آسيا کې د تاج ځينبتن شو؛ صليبي لښکرې چې انطاکيې ته ورسيدې له شپږلکو څخه درې لکه ژوندي پاتې وه چې په لارو، دښتو، غرونو او ځنګلونو کې د مجاهدين ښکار کېدلې، صليبيانو انطاکيه محاصره کړه چې حاکم يې يو تکړه مجاهد باغستان په ځينو روايتونو کې د دقاق په نوم ياد شوی؛ وه چې 17000 مجاهدين يې لرل؛ د انطاکيې محاصرې مياشتې په بر کې ونيولې چې بلاخره يې صليبيان پوزې ته راوستلي وه، مجاهدين داسې جنګيدل چې صليبي پاچاهان يې هک حيران کړي وه او په مرګ نه تسليميدل.

يوه ورځ يو ښايسته صليبي ځوان د فيروز په نوم باغستان ته راغي، نوموړی يې د خبرو تر اثر لاندې راغی او په ښکاره مسلمان شو، د وخت په تيريدو يې ډير صداقت وښود او داغستان ته يې ځان نژدې کړ، نوموړي هم د څو برجونو مسؤل وټاکه، بلاخره يې خپل اصليت ښکاره کړ، يوه شپه يې صليبيان په پټه په ديوالونو راوخيژول او د کلا دننه جګړه پيل شوه، تر سهاره 6000 بې ګناه مسلمانان يې ووژل، باغستان وتښتيده چې کمک راولي خو دوه عيسوي لرګي وهونکو وپيژانده او په چل يې شهيد او سر يې د انطاکيې نوي حاکم بوهمنډ ته ډالۍ او زياتې پيسې په بدل کې ترې واخيستې.

پدې توکه وروسته له 9 مياشتو محاصرې صليبيانو انطاکيه هم اشغال کړه.

کله چې د انطاکيې د نيولو خبر د اسلام يو بل غازي کربوغا چې د موصل اتابک او مشهور سلجوقي قوماندان وه؛ ته ورسيده سمدستی يې له موصل او حلب لښکر راټول او ځلور ورځې وروسته انطاکيه دا ځل د اسلام لښکرو محاصره کړه. سختې جګړې وشوې، مسلمانانو پر انطاکيه هر قسم لارې او د خواړه بند کړل، يو ځل بيا پرې قحطي راغله، چې د آسونو، پانړو او سپيانو په خوړولو يې پيل وکړ، حتی چې ځينو وحشيانو له ډيرې لوږې د شهيدو مسلمانانو غوښې خوړلې.

صليبي مشران سره راټول شول او د خپل لښکر د مرام لوړولو په پار يې له ځانه په درواغو معجزې جوړې کړې؛ نژدې وه چې انطاکيه مسلمانان فتحه کړي چې کربوغا محاصره ماته او بيرته راستون شو. صليبيان همداسې پرمخ روان وه، هر ښار به يې چې ونيوه هلته به يې قتل عام کاوه، په هيچا يې رحم نه کاوه، د ښځو ماشومانو او بوډاګانو له جسدونو به کوڅې ډکې وې. له انطاکيې وروسته صليبي لښکرو طرطوس په ۱۰۹۷ سپټمبر په ۲۱ اشغال او بيا يې ارکاه په محاصره کړه، ارکاه کې د مسلمانانو له داسې مقاومت سره مخ شول چې ماتې يې وخوړه، لدې ځای په ۱۰۹۹م کال ۱۳ د مې همداسې ماتې خوړلې د فلسطين په لور رهي او د ۱۰۹۹م کال د جون په ۷مه يې د بيت المقدس محاصره پيل کړه.

****

داعش

ساعين بالفساد

داعش يا يوه افراطي، رټل شوې او ګمراه ډله چې د بشريت لپاره يې يوازې د تباهۍ زيري راوړي دي.

د مسلمانانو له ټولې څخه ببلتون، د خپلو څو ګمراهو لارويانو څخه پرته ټول امت ته په کمه سترګه کتل او تکفير، د يوې بې معنا او وينې څښونکې امپراطورۍ د پراخولو لپاره د مسلمانانو په هېوادونو کې جګړې او وينې تويول، د اسلام د قسم خوړلو دښمنانو پر ضد د جهاد کوونکو مجاهدينو د صفونو کمزوري کول او د فرصتونو له منځه وړل د دغه ناوړې او بدمرغې ډلې تاريخي کارنامې دي.

دوی په خپل ناوړه او بد کردار نه يوازې د اسلام مبارکه او ښکلې څهره ګردجنه کړې ده، بلکې د اسلام دښمنان يې په مسلمان امت باندې خندولي دي.

#داعش #فساد #فتنه #تباهي #شقاق #ګمراهي #ظلم #افراط

داعشیانو د بغدادي د خوني او ویجاړونکي تش په نوم خلافت د مشهورتیا لپاره په هېڅ کار شرم نه دی کړی.
د اهل سنت مسلمانانو د مسجدونو او مدرسو د انفجار څخه نیولې د علماوو، داعیانو، مجاهدینو، سپین ږیرو، ملکي وګړو، لمونځ کوونکو لویانو او ماشومانو تر شهادته او د مسلمانو عوامو له نیولو او ورک کولو څخه نیولې بیا د هغوی د بیا مسلمانۍ د ویډیوګانو تر نشره یې هېڅ کار نه دی پرېښی.
د جعلي خلافت دغه لارویانو د مسلمانانو په لویو لویو مشرانو او جهادي رهبرانو باندې د کفر ټاپه لګولې او د هغوی مال او وینه یې بابېزه اعلان کړې ده. لنډه دا چې هېڅ داسې جرم نشته چې د دغه خارجي ډلې په تاریخچه کې نه وي لیکل شوی.



په ننګرهار کې د هغه ولسي وګړو یو تصویر چې د داعشیانو لخوا په بمونو کېنول او وروسته والوځول شول

د شکر ځای دا دی چې مسلمان امت دغه فتنه ډېره ښه پیژندلې ده، د داعشي مفسدانو له څو غړو پرته چې سترګې یې د حق له لیدلو څخه ړندې او غوږونه یې د حق اورېدلو لپاره کاڼه شوي دي نور ټول امت د دغې بدنامې ډلې په ګمراهۍ اتفاق لري، لکه څنګه چې یوه معاصر او پیژندل شوي استاد «احمد السید» په وروستیو کې ویلي دي چې:

" هېڅ داسې ډله نشته چې ټول جریانونه، فکري مکتبونه، مذهبونه او اسلامي خوځښتونه یې په ګمراهۍ هغه ډول یوه خوله وي څنګه چې د داعش په هکله یوه خوله دي، او هېڅ ډلې د مسلمانانو په منځ کې خپل مخالفین دومره ندي تکفیر کړي لکه داعش چې کړي دي."





یادونه

دا لیکنه د یوه مهاجر مجاهد «حسن ترابي» په لاس لیکل شوې ده، داسې یو څوک چې د افغانستان په جغرافیه کې یې د نورو مجاهدینو وروڼو سره یوځای تشکیلونه تېر کړي او د امریکا په مشرۍ د صلیبي اشغالګرو پر وړاندې د جهاد سعادت ورته په برخه شوی دی. نومورې څه کم درې کاله مخکې د یوه داسې مسلمان او مجاهد په توګه چې یوازې د الله تعالی د دین په خاطر له اسلامي امارت او افغانانو سره اړیکه لري خپل احساسات او نېکې مشورې د قلم په ژبه بیان کړي دي، د بت شکن اداره یې د ټولو پښتنو او په ځانګړې توګه د افغانانو د ګټې لپاره په پښتو ژبه ژباړي او نشروي.

د اسلامي امارت لخوا ښځو ته د هغوی د حقونو ورکول

د افغانستان له فتحې وروسته، کله چې اسلامي امارت په افغانستان کې واک او تمکین ترلاسه کړ، نو امیر المؤمنین شیخ هبة الله اخوندزاده (نصره الله) د خپل یوه فرمان «د ښځو د حقونو په اړه ځانګړی فرمان (تاریخ ۲۸ ربیع الثاني ۱۴۴۳ هـ)»[1] له لارې ښځو ته د هغوی د شرعي اسلامي حقونو د ورکولو امر صادر کړ. دغه راز د ځینو نورو حکمونو او فرامینو له لارې هم امیر المؤمنین ډاډ ورکړ چې ښځو ته به د هغوی حقونه ور وسپارل شي.

پر ولور باندې بندیز

په افغاني ټولنه کې او د پاکستان په ځینو قبایلي سیمو کې هم د ولور په نوم یو رواج شتون لري، چې پکې پلار یا ورور د خپلې لور یا خور د واده پر مهال د هغې په بدل کې پیسې اخلي. د دغه رواج که زر رنګه ښه تاویلونه هم وشي او که څه هم یو څه دینداره او شریف خلک ترلاسه شوې پیسې ښرته پر هماغه لور باندې مصرف کړي، خو دا یو ډېر زشت (بد) او قبیح دود دی او له ښځې سره د هغې د انساني درجې او شرف موافق د چلند نه کولو یوه لویه نښه ده. د پیسو د اخیستلو کچه په بېلابېلو سیمو، قومونو او قبیلو کې جلا جلا وي؛ له دوو، څلورو زرو امریکایي ډالرو څخه نیولې تر پنځوسو زرو ډالرو پورې دا رقم اخیستل کېږي. د ظلم انتها خو دا ده چې په ځینو کورنیو کې پلار د خپلې دوه، درې کلنې لور مزی (ژمنه) هم له چا سره تړي او له هغه وروسته تر څو چې نجلۍ بالغه کېږي، په دغه ټوله موده کې د ماشومې د جامو او خوراک پیسې هم د هغې له راتلونکي مېړه څخه اخلي؛ د دغسې یوې پېښې عیني شاهد پخپله لیکوال د پکتیکا ولایت په ګومل کې و.

امیر المؤمنین شیخ هبة الله اخوندزاده د یوه فرمان له لارې پر ولور اخیستلو، چې یو غیر اسلامي او غیر انساني دود دی، بندیز لګولی دی. د لیکوال د معلوماتو له مخې، د افغانانو په تاریخ کې دا لومړی ځل دی چې یوه افغان واکمن ولور ناجائز بللی او بندیز یې پرې لګولی دی. د ولور پیسې په افغاني ټولنه کې دومره مهم ځای لري چې آن لوی لوی علماء هم د دغه دود پر خلاف د خبرو کولو پر مهال زړه نا زړه کېدل. د ولور دود لا هم شتون لري، خو لکه څنګه چې د امیر المؤمنین او د هغه تر مشرۍ لاندې د اسلامي امارت نور احکام په تدریجي ډول په ټولنه کې پلي شوي او کمال ته رسېدلي یا یې و لور ته سفر روان دی، نو ان شاء الله دا حکم به هم په بشپړه توګه په افغانستان کې پلي شي!

د نکاح لپاره د ښځو خوښه او رضایت

اسلام ښځې ته دا حق ورکړی چې د نکاح لپاره د خپلې خوښې او رضایت څرګندونه وکړي، یا د سړي د نه خوښېدو په صورت کې یا د کوم بل لامل له امله له هغه سره له واده کولو انکار وکړي. خو دا حق په برصغیر او د افغانستان په ټولنه کې مفقود شوی و. په بر صغیر کې خو

[1] د امیر المؤمنین دا فرمان د «نوای غزوۀ هند» مجلې د ۲۰۲۱ زېږدیز کال د نومبر او ډسمبر میاشتو په ګڼه کې پر ۸۷ مخ باندې لیدلای شئ.

لومړی د علماوو او د دین د داعیانو د هڅو او د عادلو او مسلمانو واکمنانو له امله ښځو ته دا جائز حق ورسېد، خو وروسته بیا د جاهلي فرهنګ زور د نکاح پر تړون باندې تبرونه راواخیستل، تر دې چې نن ورځ ښځو ته د طلاق د حق ورکولو تحریکونه چلېږي چې موخه یې ښځو ته د کوم حق ورکول نه، بلکې د کورونو نړول دي. البته د نکاح پر مهال د ښځې د رضایت حق د افغانستان په ټولنه کې، که هغه ښاري وي او که کلیوالي، ډېرى ښځو ته نه دى حاصل.

امیر المؤمنین په لومړي سر کې د خپل یاد شوي ځانګړي فرمان له لارې داسې حکم جاري کړ:

«د نکاح (واده) لپاره د بالغې ښځې د خوښې او رضایت ترلاسه کول اړین دي. (په نکاح کې د دواړو لورو کفو او برابري هم لازمي ده او د فتنې او فساد د لیرې کولو اصول دې په پام کې ونیول شي) هېڅوک نشي کولای په زور او جبر سره کومه مېرمن نکاح ته مجبوره کړي».

ښځه: د چا ملکیت یا جایداد نه، بلکې محترم انسان دی

دغه راز، د افغانستان په ټولنه او قبایلي سیمو کې د دښمنۍ یا جګړې د پای ته رسولو او یا د سولې د ټرون په بدله کې له ښځو (په بدو کې د نجونو ورکولو په بڼه) ګټه پورته کېده. امیر المؤمنین پر دغه چاره هم په مطلق ډول بندیز ولګاوه او په خپل ځانګړي فرمان کې یې وفرمایل:

«ښځه د چا ملکیت یا جایداد نه دی، بلکې یو آزاد او محترم انسان دی؛ هېڅوک نشي کولای له بل چا سره د جګړې او دښمنۍ د ختمولو یا د سولې د ټرون کولو لپاره د ښځې سودا وکړي».

کونډې ته د حقونو ورکول

په افغانستان او د پاکستان په پنجابي، کشمیري او سندي قومونو او بلوڅو او پښتنو قبیلو کې دا دود عام پاتې شوی او اوس هم شتون لري چې که د کومې ښځې مېړه مړ شي، نو د مېړه ورور له دغې ښځې سره نکاح کول خپل حق ګڼي، یا د ښځې د مړه شوي مېړه خپلوان دغه ښځه د خپل کور غړې بولي او د هغې د راتلونکي ژوند (واده او داسې نورو) په اړه پرېکړه کول خپل حق او واک ګڼي. که دا کار ونه شي او کونډه د خپل پلار کور ته راشي، نو ځینې وخت پلار او وروڼه د ښځې له خوښې پرته د هغې واده په زور کول غواړي. د دغسې پېښو زمونږ په ټولنو کې ډېرې بېلګې شته دي.

پخپله لیکوال په ۲۰۱۵ زېږدیز کال کې د افغانستان د پکتیکا ولایت په اومنه ولسوالۍ کې له یوې داسې پېښې خبر شو چې د یوې کونډې ښځې پلار او ورور د ولور د طمعې له امله د خپلې لور په زور دویم واده کول غوښتل، په داسې حال کې چې مېرمن دې کار ته راضي نه وه. په لنډه توګه دا خبره طالبانو ته ورسېده. مجاهدینو دا مسئله له شریعت سره سم د حل کولو هڅه وکړه، خو د نجلۍ پلار یو زورور سړی و او بدمعاشي یې کوله. له همدې امله مجاهدینو د طالب مشرانو په امر دغه سړی او د هغه زوی د جنوبي وزیرستان د مرکز وانې له بازار سره نژدې په خپل یوه مرکز کې د ډوډۍ خوړلو په پلمه راوبلل چې پخپله لیکوال هم هلته موجود و. په دغه بلنه کې طالبانو مجاهدینو دغه سړی له خپل زوی سره یو ځای ونیول او د شرعي پرېکړې لپاره یې اړوند قاضي ته وړاندې کړل او مېرمنې ته یې خپل حق ور واخیست.

د همدغه حق د ادا کولو په خاطر امیر المؤمنین په خپل ځانګړي فرمان کې داسې حکم وکړ:

«د خاوند د مړینې په صورت کې، د شرعي عدت (څلور میاشتې او لس ورځې یا د امیندوارۍ د مودې ختمېدو) تېرېدو وروسته، د کونډې د کورنۍ او خپلوانو په ګډون د هېڅ چا لپاره روا نه دي چې له کونډې سره په زور او د هغې د خوښې خلاف نکاح وکړي. کونډه د واده کولو یا د خپل راتلونکي په اړه د پرېکړې کولو واک پخپله لري. (د کونډې د دویم واده په صورت کې د دواړو خواوو ترمنځ د برابري، کفاءت او د فتنې او فساد د لیرې کولو اصول په پام کې نیول کېږي)».

دغه راز، کونډو ښځو ته ډېرى وخت د مهر حق نه ورکول کېږي، بلکې په ډېرو ځایونو کې د کونډې لپاره د مهر حق مفهوم شتون نه لري، په دې اړه امیر المؤمنین وفرمایل:

«له خپل نوي خاوند څخه د «مهر» ترلاسه کول د کونډې شرعي حق دی».

د ښځو د میراث حق

دا دود خو بیخي عام دی چې ښځو ته د پلار یا مېړه په میراث کې د هغوی حق نه ورکول کېږي. پخپله زما تړاو له یوه پنجابي-کشمیري کلتور سره دی؛ زمونږ په کورنۍ کې لومړی ځل ښځو ته د پلار او مېړه په میراث کې د شرعي وېش له مخې حق زما محترم پلار (مد ظله) ورکړ، کله چې زمونږ نیکه وفات شو؛ سره له دې چې زمونږ کورنۍ خورا لوستې، مهذبه او ماډرنه بلل کېده او په بنسټیزه توګه په برېتانیا کې مېشته ده. ښځو ته د میراث د حق نه ورکول زمونږ په کورنۍ او سیمه کې دومره عام وو چې همدا «ناحق» د «حق» په توګه پېژندل کېده. کله چې زما پلار خپلو خوېندو ته د میراث حق ووېشه، نو پخپله زما عمه ګانو د دودونو پر خلاف د موندلو له امله د دغه حق اخیستل ننګ ګانه او زمونږ په پلرنیو سیمو کې به زما د پلار په اړه په پټه خبرې کېدلې. کټ مټ همدغه حال په افغانستان او نورو سیمو کې هم دی. ښځو ته د هغوی د پلار، مېړه او زامنو په میراث کې د حق ورکول امیر المؤمنین د خپل فرمان له لارې یقیني کړل:

«ښځه د خپل خاوند، اولادونو، پلار او خپلوانو په مال کې د میراث شرعي حق لري او هېڅوک نشي کولای هغه له دغه حقه محرومه کړي».

له یوې څخه د زیاتو مېرمنو ترمنځ عدل او برابري

زمونږ په ټولنو کې عموما له یوې څخه د زیاتو ښځو ترمنځ د عدل او برابرۍ قائمول بیخي نشته او په قبایلي ټولنو کې خو بې عدلي نه بلکې ښکاره ظلم چلیږي. د مېرمنو ترمنځ د عدل او برابرۍ نه ساتل خورا لویه ګناه ده او د الله ﷻ له ښکاره احکامو څخه سرغړونه ده. د دغه عدل او برابرۍ د قائم ساتلو لپاره امیر المؤمنین په یاد شوي ځانګړي فرمان کې داسې حکم صادر کړ:

«له یوې څخه د زیاتو نکاح کونکو لپاره اړینه ده چې د شریعتِ مطهره موافق د ټولو ښځو حقونه ادا کړي او د مېرمنو ترمنځ عدل او برابري قائمه کړي».

په یاد شوي فرمان کې نورې راغلې لارښوونې

مناسب ښکاري چې د دغه ځانګړي فرمان اقتباسات چې په تېرو عنوانونو کې ذکر شوي دي، په دغه ځانګړي فرمان کې درج شوې نورې لارښوونې هم دلته نقل کړل شي. دا لارښوونې د ښځو د حقونو په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د الهي وېرې او ښځو ته د هغوی د حقونو د ورکولو د باوري کولو یوه بېلګه ده. په کوم وخت کې چې حضرت امیر المؤمنین (نصره الله) دا فرمان جاري کړ، نو د نړۍ رسنیو دغه بیان ته دا رنګ ورکړ چې اسلامي امارت د «ښځو د حقونو» په اړه د نړیوال فشار له امله دا بیان جاري کړی دی. پر دې خبره امیر المؤمنین او د هغه تر لاس لاندې مشرانو په ځینو ځانګړو او عامو غونډو کې د تبصرې پر مهال وویل:

«مونږ دا احکام د الله ﷻ د راضي کولو لپاره جاري کړي دي، له مخلوق څخه د چا د خوشحاله کولو لپاره نه؛ ښځو ته د هغوی د حق ورکول د شریعت حکم دی او همدا زمونږ له دغو فرامینو څخه اصلي مقصد دی!».

په دغه فرمان کې وړاندې ویل شوي دي:

«د دې فرمان په سمه توګه د پلي کېدو لپاره ټولو اړوندو ادارو ته د لاندې ګامونو پورته کولو لارښوونه کېږي:

- د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته لارښوونه کېږي چې علماء د خلکو په منځ کې د ښځو د حقونو په اړه د پوهاوي خپرولو ته وهڅوي، ترڅو هغوی په خپلو خطبو، درسونو او تبلیغونو کې په خلکو کې دا شعور پیدا کړي چې پر ښځو ظلم او د هغوی د حقونو تر پښو لاندې کول، د الله تعالی د غضب او ناراضۍ لامل دی.
- د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته لارښوونه کېږي چې له خپلو وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره د ښځو د حقونو په ټراو لیکلي او غږیز مضامین او مقالې خپرې او نشر کړي او د نورو لیکوالانو، ادیبانو، داعیانو او مبلغینو هم حوصله افزایي وکړي ترڅو په دې موضوع ګټورې مقالې ولیکي او نشر یې کړي، ترڅو د ښځو د شرعي حقونو په موضوع باندې د علماوو او عامو خلکو پاملرنه را واړول شي او پر ښځو د روان ظلم مخنیوی وشي.
- سترې محکمې ته لارښوونه کېږي چې خپلو ټولو اړوندو محکمو ته امر وکړي ترڅو د ښځو د حقونو په اړه په عمومي توګه او د کونډو د حقونو په اړه په ځانګړې توګه، ټولې غوښتنې او عریضې په سمه، مناسبه او بااصوله توګه واورېدل

شي او غور پرې وشي، ترڅو ښځې د خپلو شرعي حقونو د ترلاسه کولو او له ظلم او جبر څخه د خلاصون په چاره کې له مایوسۍ سره مخ نشي.

- د ټولو والیانو او ولسوالانو لپاره اړینه ده چې د دې فرمان د پلي کېدو لپاره له یادو وزارتونو او سترې محکمې سره پوره همکاري وکړي».

د ښځو په کورنۍ ژوند کې د کورنۍ تاوتریخوالي په تړاو د حقونو د ورکړې یوه بېلګه

د واک له ترلاسه کولو وروسته یوې مېرمنې ته د هغې د حق د اخیستلو پېښه مورِ په تېرو کربنو کې ولیده. نژدې یو کال وروسته د کابل ښار له یوې حوزې څخه بهر له یوې دري ژبې مېرمنې[2] سره مرکه د یوه په پتلون او کوټ کې ملبوس، ږیره خرېیلي خبریال له لوري وشوه[3]. خبرې اترې په دې ډول نقل کېږي:

خبریال: «السلام علیکم! خوږې! تاسې ته څه ستونزه پېښه شوې چې حوزې ته راتلو ته مجبوره شوې؟»

مېرمن: «وعلیکم السلام! وروره ستاسې په خدمت کې هم سلام عرض کوم! زما وروره! ما د کورنۍ تاوتریخوالي یوه قضیه راوړې ده. زما د خور مېړه، هره ورځ زما پر خور باندې تشدد کوي او هغه وهي ډبوي. دا لومړی ځل دی چې زه حوزې ته راغلې یم او دلته له مورِ سره دومره ښه چلند او په پوره درناوي معامله کېږي ... داسې چلند مورِ پخوا په ډیموکراتیک حکومت کې نه و لیدلی. د امارت په حکومت کې دا ټول وروڼه (نارینه) مورِ ته لاره پرېږدي او زمورِ په وړاندې خپلې سترګې تېټې ساتي. په تېره حکومتي دوره کې ښځې ځورول کېدې او ښځې به د بدنظرۍ ښکار کېدې. اوس دلته هر څوک زمورِ د مسئلې د حل کولو هڅه کوي. دوی مورِ ته د را پېښې ستونزې په اړه څېړنه کوي او له مورِ سره همکاري کوي. لکه څنګه چې خلکو به ویل (چې طالبان به عدل او انصاف راولي) کټ مټ داسې ده، عدل او انصاف شته دی. واقعا عدل او انصاف شتون لري چې مورِ په خپلو سترګو د عدل او انصاف ننداره کوو.

مورِ له هغوی (طالبانو) څخه غوښتنه وکړه چې (زما د خور مېړه) مجرم دلته راولي. هغوی مجرم نیولی دی او دلته یې د پلټنو لپاره راوستی دی».

خبریال: «څومره موده کېږي چې تاسې له دغې ستونزې سره مخامخ یاست؟»

مېرمن: «درې میاشتې. د هغوی د واده درې میاشتې کېږي او دغه سړی هر ډول ناوړه چلند هم کوي او وهي ډبوي یې هم. هغه دا ګواښونه هم کول چې د خپلې کورنۍ غړو ته به حال نه وایې. دا یې هم ویل چې اوس د اسلامي امارت حکومت دی، د نارینه وو حکومت دی او اوس د ښځو هېڅ پوښتونکی نشته.

خو داسې نه ده! زه پخپله دلته راغلم نو د اسلامي امارت د (پولیسو) افسرانو سمدستي دغه مجرم ونیو او دلته یې (حوزې ته) راوړ. دغه سړی افغان نژاده برتانوی وګړی دی او ویل به یې چې زه اسلامي امارت ته هېڅ ارزښت نه ورکوم. د هغه یو بل ورور دی چا چې یو قتل کړی او ترکیې ته تښتېدلی دی، د ده خپل نیت هم د تېښتې و. له نېکه مرغه (مورِ دلته راغلو او) هغه ونیول شو».

خبریال: «ستاسې ستونزه څو سلنه حل شوې ده؟»

مېرمن: «زما په نظر په عملي توګه پنځوس سلنه یا ... دېرش سلنه زمورِ ستونزه حل شوې ده!»

خبریال: «ایا تاسې له اسلامي امارته خوشحاله یاست؟»

مېرمن: «زه ډېره زیاته خوشحاله یم. ځکه چې لومړی مورِ دلته راغلو نو له هېڅ ډول ځورونې سره مخ نه شوو. دویم دا چې له مورِ سره په ډېر

---

[2] یاده شوې مېرمن هم د خپلې بڼې (حلیې) او خبرو کولو له اسلوبه نوې او لوستې معلومېږي؛ څوک دې داسې نه ګڼي چې طالبانو ټولې ښځې په یو ډول جبرې لباس کې بندې کړې دي او یوازې د چادرې لرونکې د طالبانو له چلند څخه مطمئنې دي. د برقعې د تفصیل او داسې نورو په اړه به په راتلونکو عنوانونو کې ان شاء الله خبرې وشي.

[3] د پتلون کوټ او ږیره خرېیلو صراحت ما ځکه کړی دی چې، لومړی دا چې څوک داسې فکر ونکړي چې دا یوازې د مولویانو یا طالبانو پروپاګند دی؛ دویم دا چې پتلون کوټ اغوستونکي او ږیره خریونکي مسلمانان هم د مجاهدینو په وړاندې خورا محترم او عزتمند دي، لباس او حلیه (که څه هم مسنونه یا د مسنونو لارښوونو مطابق نه وي) د عزت، درناوي او د چلندونو د توپیر لامل نه ګرځي (هو، د دې معنی دا هم پکار نه ده چې غیر متشرع خلک د حکومت په ایوانونو کې د پالیسۍ جوړولو پر چوکیو کښېنول شي، کوم چې نن د امریکا او د هغې د غوړه مالانو غوښتنه ده او دا غوښتنه له شریعتِ مطهره سره په ټکر کې ده)!

درناوي او ادب چلند وشو، له دخولي دروازې څخه نيولې د دفترونو تر دننيو دروازو پورې په خورا درناوي چلند راسره وشو».

خبريال: «هيله ده چې ستاسې ستونزه حل شي. ډېره مننه!»

مېرمن: «ستاسې هم ډېره ډېره مننه».

خبريال: «هيله ده چې زمونږ د خوښدو ستونزه حل شي. زمونږ خوښدې د امارت له چلند څخه ډېرې خوشحاله دي. په تېر حکومت کې داسې نه وو، ښځې ځورول کېدې او (د هغوی د ستونزو د حل کولو لپاره) د جنسي اړيکو غوښتنه کېدله»[4].

د اسلامي امارت له لوري ښځو ته د هغوی د جائزو شرعي حقونو ورکول، او پر هغوی باندې د ظلم او جبر پای ته رسول که هغه د ټولنې وي، که د کورنۍ او که د خپل مېړه لخوا وي د دې هر څه په اړه دا يوازې يوه بېلګه ده. کاشکې د اسلامي نړۍ ليکوالان، مستند جوړونکي، خبريالان او خبر ليکونکي د اسلامي امارت تر سيوري لاندې د افغانستان لور ته مخه کړي. په عملي ډګر کې حالات او پېښې له نژدې وڅېړي او دا ګواهيانې په ليکلو او فلمونو کې راوليږي ترڅو د اسلامي نظام د پلي کېدو يو انځور د اسلامي امت مخې ته لاړ شي او نه يوازې اسلامي امت، بلکې د هغه بشريت مخې ته هم دا انځور وړاندې کړل شي چې د خپلو په څېر انسانانو په ظلم او ستم کې، يو ځای په سوشيو-کيپيټليزم کې زېښنل کېږي او بل ځای په کيپيټليست-ډيموکراسۍ کې..... او د اسلامي نظام د نفاذ هڅو ته له شمالي قطب څخه تر جنوبي قطب پورې ځواک ور په برخه شي. د داسې يو نظام بېلګه نړۍ په خپلو سترګو وګوري چې وروستۍ پايله يې د رب جل جلاله د رضا په خاطر د شريعت تر چتر لاندې خلافة علي منهاج النبوة ده؛ هغه نظام چې انسان د نړۍ له تنګځو څخه د نړۍ او اخرت تر پراخيو پورې رسوي!

زمونږ په محکمو کې عدل او انصاف چېرته دی؟ په ځانګړې توګه په ټوله نړۍ کې د ښځو په وړاندې په محکمو کې ناست قاضيان داسې سپکونکي چلندونه او غوښتنې لري چې ښځه له يوه ظلم څخه وباسي او په بل ډېر لوی ظلم کې يې وغورځوي. په پاکستان کې د لادرکه شويو کسانو د حقونو لپاره د سرګردانه ښځو حالت وګورئ، له امنه مسعود جنجوعه څخه نيولې تر سمي دين بلوچ پورې. د مشهور خبريال حامد مير په تلويزيوني خپرونه «کيپيټل ټاک» کې به تاسې شايد د امنه مسعود جنجوعه هغه خبره اورېدلې وي چې د لادرکه شويو کسانو په تړاو د جوړ شوي ځانګړي کمېسيون مشر، د شرعي علومو او فلسفې متخصص د پاکستان پخواني قاضي القضات جاويد اقبال د يوې دوسيې د ارزونې پر مهال د يوه لادرکه شوي تن ځوانې مېرمنې ته څه ويلي وو. جاويد اقبال ورته ويلي وو: «ته خو دومره ښکلې يې، ته مېړه ته څه اړتيا لرې؟». دا دي محکمې، دا دي د قاضيانو قاضيان او دا هم د عدل او انصاف د جنازې وتل! دا اداري عدل نشي ورکولای، د اويا کالو قاضي القضات د خپلې نږور او لور په عمر يوې مېرمنې ته په داسې ذليل او تېټ ډول ځواب ورکوي. دا دي د ښځو هغه حقونه چې په نړۍ کې شته ظالم کفري نظام يې ښځو ته ورکوي!

[د دغې لیکنې لومړی باب يعني «د ښځو حقوق او تعليم» لا هم ډېر پاتې دی، خو له حده زيات اوږدوالي څخه د ژغورلو لپاره دا ليکنه همدا دلته ودرول کېږي. الله ﷻ دې د دې لړۍ د رواني ساتلو توفيق را په برخه کړي او دا هڅه دې په خپل دربار کې قبوله او منظوره کړي، آمين! درانه لوستونکي کولای شي خپلې مشورې، تبصرې او نظرونه له دغې مجلې سره ترلو برېښنالیکونو (ايميلونو) ته راولېږي، جزاکم الله خيراً كثيراً]

وما توفيقي إلّا بالله. وآخر دعوانا أن الحمد لله ربّ العالمين.
وصلى الله على نبينا وقرة أعيننا محمد وعلى آله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

****

[4] بحواله ټېک ټاک: @ahmed.khalozi



د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د کتاب

«د اهل السنة والجماعة عقیده»

د اهمیت او تشریح په غونډه کې د اطلاعاتو او کلتور د وزیر

شیخ شیر احمد حقاني څرګندونې

" نن مورږ او تاسې اسلامي امارت لرو او دا د خلافت معنا لري، د ځینو علماوو په نزد خلافت د الله تعالی له طرفه وي او هغه یې ورکوي، د خلافت اصلي مقصد، د الله جل جلاله وحدانیت، د هغه پیژندل، په هغه باندې عقیده ساتل او خلکو ته رسول دي. د امارت، مشرتابه او اسلامي مشرتابه اصلي هدف همدا وي، تر څو دا شیان خلکو ته ورسوي.

د رزق او اقتصاد مسئله ضمني او یا طبیعي ده، یا دا په دوهمه درجه کې ده؛ خو داسې یو وخت راغلی، د خلکو ذهنونو په دې باندې مصروف شوي دي (دوی فکر کوي) چې البته هدف دغه اقتصاد ده.

اقتصاد جوړونه، ترقي او آبادي نښه شیان دي، مورږ پرې رد نه کوو، دا هم ضرور دي، البته له اولنیو ضروریاتو څخه نه دي، اولني او ضرور شیان هغه دي چې مورږ عقیده صحیح او برابره کړو، اعمال صحیح کړو، نور شیان به الله جل جلاله برابروي. ان شاء الله

اقتصاد به هم برابریږي (جوړیږي)، زمورږ او ستاسو مشکلات به هم حل کیږي، ځکه ډېره مهمه دا ده چې مورږ او تاسو خپله عقیده جوړه کړو. "

مأخذ: د روانو لوستلو لپاره په لږ تصرف، د RTA Pashto News په واسطه د نشر شوي اصدار څخه

د نشر نېټه: د ۲۰۲۶ کال د اکتوبر ۲۱ مه نېټه

د فرمانونو د اغېزو په اړه علمي ـ څېړنيز کنفرانس ته د شيخ الاسلام

أمير المؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي

هبة الله اخندزاده وينا

حفظه الله

۹ جمادی الآخر، ۱۴۴۸ هـ.ق
۲۸ عقرب، ۱۴۰۵ هـ.ش

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره و نؤمن به، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله. اما بعد، فأعوذ بالله من الشيطن الرجيم

قال الله تعالى:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوٓا اَطِيعُوا اللهَ وَاَطِيعُوا الرَّسُوْلَ وَأُولِى الْاَمْرِ مِنْكُمْ (سورة النساء:۵۹)

«اې مؤمنانو! د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسې څخه د امر خاوندان دي.»

و قال الله :

وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا (سورة آل عمران:۱۰۳)

«ټول يوځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونيسئ او تيت او پرک کيږې مه.»

و قال رسول الله صلى عليه وسلم:

«الدِّينُ النَّصِيحَةُ» قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: «لِلهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ». [1]

«"دين نصيحت دی" مونږ وويل: د چا لپاره؟ هغه وفرمايل: "د الله لپاره، د هغه د کتاب لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانو چارواکو او د دوی عامو خلکو ته».

او كما قال صلى الله عليه وسلم

صدق الله ورسوله النبي الكريم، ونحن على ذلك من الشاهدين والشاكرين والحمد لله رب العالمين.

ډېرو درنو، قدرمنو، شيوخ کرامو، علماء عزامو، مجاهدينو کرامو او په دې حاضر قدرمن او مقدس مجلس کې د اسلامي امارت ټولو مسؤولينو ته او نورو شريکانو او ګډونوالو ته السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

الله جل جلاله د دې علماء کرامو، مشايخو عزامو او دې مجاهدينو او دې مجلس د شريکانو دغه محنت چې کړی يې دی، الله تعالى يې په جهاد في سبيل الله کې حساب کړي او الله جل جلاله د دين د احياء لپاره ذريعه وګرځوي او الله د مسلمانانو لپاره د خير او برکت ذريعه وګرځوي!

دغه مقدس عمل چې دا علماوو سرته رسولی دی، چا چې په دې کې نظر کې ورکړی دی چې دغه مقدس مجلس يا او په دې کې چې چا همکاري کړې ده او تر دې آخرې نقطې پورې چې ټول پکې شريکان شوي دي او چا يې د دې جوړېدو خدمت کړی، چا يې امنيت نيولی دی، چا يې نور خدمات سرته رسولي دي، الله جل جلاله د هغوی ته اجر عظيم ورکړي او الله تعالى يې په جهاد في سبيل الله کې ورته حساب کړي.

ورونو يقيناً دا يو مقدس مجلس دی، دا د اسلام او د دين په حمايت کې مجلس او اجتماع ده، دا شيخ صاحب په مجلس کې دا خبره وکړه چې دغه د پوهنتون علماوو کرامو، دغه مجاهدينو داسې يو عمل سرته رسولی دی، پر دې فرامينو او قوانينو، د دې په شريعت او حقيت باندې يې مقالات ليکلي دي، نو غواړي چې د علماوو داسې يو مجلس جوړ

[1] صحيح مسلم

شي څو علماوو ته، دا مقالې وويل شي، او علماوو ته پيش شي، په مجموع کې دې امت ته د رهنمايي لپاره راووځي، ذهنونونه جوړ شي، فکرونه جوړ شي. نو په هغه مجلس کې مشران ډېر ناست وو، بيا ما مشرانو ته دا وويل چې الله جل جلاله خو د دې دغه علماوو ته ډېر لوی اجرونه ورکړي دا خو يې ډېر ښه کار کړی دی، او دې خپلو مشرانو ته، دې وزيرانو صاحبانو او دې نورو ته په هغه مجلس کې ما وويل چې دې خلکو ته تقدير ورکړی، ستاسو د امير چې هر څوک حمايت وکړي هغوی ته تقدير ورکړی، ځکه ستاسو د امير فرمانونه عملي کول، ستاسو اعزاز دی، چې ستاسو امير څومره معزز وي، قدرمن وي محترم وي نو دا د ټولو مسلمانانو، د دې رعيت احترام دی، او که د امير احترام نه وي، نو بيا خو د دې رعيت احترام نشته.

او دا يوه مهمه وظيفه ده چې د دې امير د فرمانونو، حکمونو، هداياتو، توصيو د دې حمايت دا سبب د وحدت دمسلمانانو گرځي، او دا سبب د فتنو د دروازو د بنديدو سبب گرځي، هغه فتنه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل مقدس حديث شريف کې فرمايي:

الفِتنةُ نائمةٌ لعنَ اللَّهُ مَن أيقظَها

پر هغه چا چې فتنه را ويښوي په هغه باندې رسول الله صلى الله عليه وسلم، د لعنت ښيرا کړې، نو يو سړی چې د فتنې دروازه بندوي نو بالمقابل په هغه باندې رحمت د الله تعالى دی، نو دا نن چې دا علماء د دې فرمانونو او قوانينو حمايت کوي دا د فتنو دروازه بندوي، نو د دې خلکو سره کمک وکړئ، تعاون وکړئ، مجلس ته يې ورشئ او د مجلس مصرف ورکړئ، د دې علماوو قدر وکړئ، مورِ يې هم قدر کوو. علماوو کرامو ستاسو د جد او جهد د اسلام او دين په خاطر مورِ ستاسو شکريه اداء کوو، الله مو دغه خدمت قبول کړه.

دا (مجلس) زما نه دی، نه دا عمل تاسو زما د شخصيت لپاره کړی دی، نه مو زما لپاره محنت کړی دی، دا تاسو د الله لپاره کړی، تاسې د الله د دين لپاره کړی، د تاسو د الله د شريعت او رضا لپاره کړی.

زمورِ عجيبه ښه سياست دی، د قرآن پاک سياست دی، د شريعت سياست دی، يو اصل لرو:

لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق...

«د خالق په بې اطاعتۍ کې د مخلوق اطاعت نشته.»

بس دا يو اصل دی د اسلام يو اصل دی، چې د امير اطاعت د خالق په معصيت کې نه کوو . نو امير هغه وخت مورِ ته د اعتبار وړ دی، چې حکم، فرمان، قانون، هدايات او نصائح يې په معصيت او گناه نه وي، دا به د الله جل جلاله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مقدسې لارې خلاف نه وي، بيا يې مورِ منو، بيا مورِ امير نه منو، مورِ هغه مقدسه لاره منو، گورئ تاسو علماوو کرامو دا مقالات ليکلي او زما مخ ته ۷۵ جلد پروت دی، په دې ټولو کې د اسلامي امارت حقيقت او دا چې اسلامي امارت څشی دی (بيان شوی دی) او دا ډېره مهمه مسئله ده. دا ډېر وخت د اسلامي نظام او اسلامي امارت هغه معرفت، تعريف، پيژندل او آثار يې بيخي ختم شوي وو، اوس چې الله جل جلاله بيا اعاده وکړه.

إِنَّ الدِّينَ بَدَأَ غَرِيبًا وَسَيَعُودُ غَرِيبًا [2]

تاسې علماوو ته معلومه ده، فتوی کاملې د دې ترجمه داسې کړې ده، چې ان الدين قد بداء غريبا په اسلام د ظهور په اول وخت کې په ډېر عجيب انداز باندې الله دا دين راپورته کړ، په ټولو دينونو يې غالب کړ، چې ټوله دنيا کفر او شرک نيولې وه، بې دينی، يهوديت او نصرانيت نيولې وه، د ابراهيم عليه السلام دعوه يې کوله چې مورِ په ابراهيمي دين باندې يو، خو هغه دين يې نه پيژندلو چې دا ابراهيمي دين اوس څشی دی، له خلکو څخه ورک وو، خلکو د ډېرو عبادت کولو، د جماداتو عبادت يې کولو په خدايۍ يې نيولې وو، خو الله پاک دغه دين (اسلام) را پورته کړ، په داسې يو حالت کې، نو دغه کاملې ليکلې دي چې لکه په اول کې چې الله تعالى داسې عجيب او غريب دا دين راپورته کړ، وروسته به په آخرالزمان کې بيا الله تعالى دا دين داسې عجيب او غريب راپورته کړي. بيا به دا دين راپورته شي، اسلام به راپورته شي.

نو په داسې يو عجيب انداز باندې الله تعالى دا دين راپورته کوي چې بيخي د توقع خلاف وي، زما خو خپله په دغه شعبان کې يوولس کاله د اميريت او مسؤوليت پوره کيږي، په دا يوولس کاله چې زما د امارت دوره وه زما بيخي دا توقع نه وه چې داسې يو حالت به راځي چې اسلامي نظام به وي دا کفر به شکست خوري او دغه د فکر خلک دي دا به حاکمان کيږي دا به په څمکه باندې الله پاک مسلط کوي. زما سره

[2] أخرجه أحمد في مسنده

دا توقع نه وه، دغه وو چې دا جهاد ماض الی یوم القیامة دا جهادونه به وي شهادتونه به وي. دغه جنګ به وي د کفر خلاف مقابله به روانه وي خو الله جل جلاله زموږ د توقع خلاف داسې فتحه او کامیابي او د دې دین نصرت وکړ، چې ټوله دنیا کې د چا دا توقع نه وه، دا یو عجیب حالت و، عجیب حالت راغلو چې الله پاک د دین نصرت وکړ او دا دین یې کامیاب کړ، نو اوس چې دا دین کامیاب شو، اسلام کامیاب شو، اسلامي نظام او اسلامي امارت حاکم شو، اوس د اسلامي امارت په حقیقت باندې خلک پوهول او ورته یې تعریفول، په ښه آسانه الفاظو او تعبیراتو، که مسؤولین دي که غیر مسؤولین دي د دې اسلامي امارت تعریف او د هغې حقیقت ورته بیانوو.

دا محدثین علماء دا مجتهدین اوس خو موږ ته د دې مجتهدینو له منځ څخه چې د دوی د رأیې او اجتهاد اتباع شوې ده دغه څلور مذهبونه مشهور شوي دي چې د دې امت اتباع کړې ده او مجتهدین په دې باندې مقصور نه دي، مجتهدین تر دې ډېر دي. هر حدیث چې په احکامو کې راشي نو په هغه کې مختلف قولونه وي، فلان محدث وایي چې د دې دا معنا ده، فلان محدث وایي چې د دې دا معنا ده، فلان محدث وایي چې د دې دا معنا ده، اوس د حدیث په معناوو باندې عمل، اوس ما او تا خو په هغه زمانه کې راغلي یو چې د حدیث معنا هم نشو بیانولای، ځکه ما او تا خو تر ۴۰۰ کاله وروسته را پیدا شوي یو، چې د اجتهاد دروازه بنده شوې ده، اجتهاد هم نشو کولای، ما او تا هغه خلکو یو چې تقلید را باندې واجب دی چې اوس به موږ د دې فقهاوو رحمهم الله تعالی تقلید کوو او اجتهاد به نه کوو، نو اوس چې ته تقلید کوې نو خامخا به د یوه مذهب اتباع کوې او د یوه مجتهد اتباع به کوې، نو د کوم مجتهد اتباع کوې؟ یو مجتهد یو څه وایي او بل خو بل څه وایي، ته به د یوه مجتهد اتباع وکړې بل څوک خو د بل مجتهد اتباع کوي نو بیا خو به په منځ کې اختلاف وي، یو به وایي دا حق ده بل به وایي دا حق ده، نو دلته بیا شریعت عملي شو؟ د الله جل د دغه حکم د دغه امر عملي کېدل چې واعتصموا بحبل الله دی، دا موقوف دی په امیر باندې چې امیر نه وي د دغه امر عملي کېدل نشي کېدای ځکه چې د امیر په وجه باندې خلک په یوه مسیر روانیږي د شریعت په احکامو کې تاسې علماو ته معلومه ده په دې فقه شریفه کې د دغه مجتهدینو اقوال دي اختلاف دی، ډېر اختلاف پکې دی. خلک خو په یوه مسیر باندې نشي تللی..اوس په مسلمانانو باندې واجب ده چې یو امام ولري، یو څوک مخته کړي ترڅو دا اختلاف ختم کړي نو اوس د دې امیر وظیفه دا ده چې دا خلک په یوه مسیر باندې روان کړي د دې فقهاوو رحمهم الله تعالی د اقوالو څخه یو قول انتخابوي له هغه څخه فرمان جوړوي او دا فرمان رایه او ذهني فکر نه وي دا دیموکراسي او خلکو فکر ندی، دا د الله جل جلاله په شریعت کې امام یوه لاره انتخابوي چې د دې مجتهدینو په قولونو کې کومې لارې معلومې کړې دي دی (امیر) یوه لاره او یوه مذهب انتخابوي په افغانستان کې به په حنفي مذهب باندې ټول خلک روان یاست، بیا په شافعي مذهب باندې تعامل ناروا دی بس خبره خلاصه شوه اوس تاسې ټول په یوه مسیر باندې روان یاست، دلته به څوک په بل مذهب باندې نه ځي.

علماء کرامو، شیوخو کرامو، دا نصب د امیر دا خو د اهمو واجباتو څخه په اسلام کې دی، تاسې ته معلومه ده رسول الله صلی الله علیه وسلم چې وفات شو نو له تدفین څخه مخکې صحابه رضي الله عنهم امیر ودراوه، دا د دې لپاره چې فتنې سر پورته نکړي، د مسلمانانو په منځ کې اختلاف رانشي چې دا د مسلمانانو او اسلام لپاره هلاکت دی، نو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم مبارک دفن نه کوي اول ځي ابوبکر صدیق رضي الله عنه امیر ټاکي د هغه له ټاکنې تفصیل خو تاسې ته معلوم دی. نو د امیر له نصب څخه مقصد د مسلمانانو وحدت دی، دا د کلمې یوالی، دا د فتنو ورک کېدل، دا ملوک الطوایفي ورک کېدل، او مسلمانان لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې دې امت ته څومره ډېر هدایات د وحدت کړي دي چې تاسې سره متحد شی لکه یو جسد، مؤمنان باید داسې وي که په یوه جسد کې یو عضوه نا آرامه شي نو ټول جسد به ورسره نا آرامه وي او تاسې داسې شی لکه بناء، مستحکمه بناء یو پر بل باندې ځانونونه ټینګ کړی، چې یوه خښته وکاږې نو ټوله بناء سستیږي. او الله جل جلاله فرمایي:

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَرْصُوصٌ ○
(سورة الصف:۴)

«د الله خو هغه خلک خوښ دي چې د هغه په لار کې په داسې شان صف ترلي دي جنګیږي چې ګواکې هغوی یو محکم کړی شوی دېوال دی.»

الله څومره د وحدت خواته د خلکو ترغیب کړی دی او الله جل جلاله په مقدس کتاب کې فرمایي:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا (سورة آل عمران:۱۰۳)

«ټول یوځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونیسئ او تیت او پرک کیږئ مه.»

دا د اتحاد لپاره هغه منبع ده، الله په دې آیت کې په اتفاق باندې امر کړی اعتصام بحبل الله او شریعت باندې او د رسول الله په سنتو باندې.

وروڼو تاسې علماوو ته معلومه ده په شریعت باندې عمل پرته له امارته امکان نلري هېڅوک یې نشي کولای. ترڅو چې شرعي امارت او امیر موجود نه وي امکان نشته چې اعتصام بحبل الله راشي، په قرآن او احادیثو دې عمل وشي او سنت د رسول الله د عملي شي، یوازې د امیر په وجود کې شریعت عملي کیږي.

اوس الله تعالی امر کړی په اعتصام بحبل الله په اتفاق او وحدت او لارې یې هم راته ښودلې ده چې د اتفاق او اتحاد لاره مو دا ده چې الله پاک وایي چې اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِى الْاَمْرِ مِنْكُمْ دا اولی الامر دي، موږ یو څه وخت مخکې دا مسئله ما قاضي صاحبانو ته ویلې وویل، ما ویل قاضي صاحبانو زما یوه ملاحظه ده، په دې فیصلو کې چې تعزیري فیضلې دي هغه دا ده چې قاضیان صاحبان چې د تعزیر فیصله کوي نو بیا دوی په خپله رایه باندې یوه اندازه معلوموي او د دې قاضیانو دا اجتهاد سره مختلف وي، یوه موضوع یې په هغه کې یو قاضي صاحب مجرم ته برائت ورکوي بل قاضي صاحب بیا درنه سزا ورکوي بل بیا سپکه سزا ورکوي، نو خلک پوښتنه کوي چې دا څه روان دي؟ نو یو خو ما ویل لکه په کتاب کې چې وایي دغه تعزیر مفوض دی د قاضي رایې او نظر ته، نو کتابونو لیکلې دي چې د قاضي له رأیې څخه هغه مجتهد قاضي مراد دی، چې دا قاضي به مجتهد وي، دا زموږ د زمانې قاضیان مجتهدین نه دي، دا مقلدین نه دي، دوی رایه نلري، دوی به په دې تعزیر کې هم رأیه نه ښکاره کوي، نو دوی به څنګه کوي؟

اوس امام رافعي وایي، چې امام او اولی الامر به دا سزاوې معلوموي او ټاکي به یې، او قاضیان به هغه سزاوې ورکوي، بیا نو د دې لپاره علماوو کار وکړو، دا جزئیات یې سره را جمع کړه، چې د مسلمانانو امام د جرمونو لپاره سزاوې معلومې کړي، بیا دې علماوو ته د شیخ مولانا عبدالحکیم صاحب په مشرۍ یو مجلس جوړ شو زموږ د قاضي القضات په مشرۍ، ډېر قاضیان راغلي وو او دا موضوع دوی ته وسپارل شوه، چې تاسې د جرمونو لپاره جزاوې معلومې کړئ، په هغه باندې کار وشو، او اوس به تاسې لیدلي وي چې یوه اصول نامه جوړه شوې ده په هغه کې د جرمونو سزاوې معلومې شوې دي، دا اوس موږ ورته معلوموو او دا اختلاف ختم شو، نو اصل مقصد دا دی د شرعي احکامو تطبیق وشي او اختلافونه ختم شي، په شرعي امورو کې امام او امارت ته، شرعي ضرورت دی، دا یو مادي ضرورت نه دی بلکې دا د مسلمانانو یو معنوي ضرورت دی.

ماته خو دغه د قصاص او اعدام فیصلې راځي، نورې فیصلې خو دغه قاضي صاحبان تطبیق کوي، خو موږ ورته ویلي دي چې د قصاص او حدودو فیصلې به زموږ له تنفیذي امر څخه مخکې نه نافذوئ، دلته به یې راوړئ، نو دوی یې رالیږي، نو د قصاص په فیصلو کې به ماته دوه ډوله فیصلې راتللې، یو ډول داسې وه چې په محکمه کې به فیصله شوې وه چې دې سړي اقرار کړی دی، چې بل مې په وژونکې آله یا آله قاتله باندې ووژلو، نو دا آله قاتله د عمدي قتل دلیل دی، د امام صاحب قول دی چې دلته بیا قید ته ضرورت نشته او دا سړی باید قصاص شي. دوهم ډول دا وې چې دې سړي په یوه وژونکې وسیله او آله باندې قتل کړی دی او دا آله قاتله د عمدي قتل دلیل نشي کېدای، امام یوسف صاحب وایي تر څو چې قید د عمد نه وي (یعني اقرار وکړي چې ما په عمد او قصد سره قتل کړی دی). اوس دا دوې لارې دي، ماته فیصلې په مختلفو لارو راځي، بیا مې دا قاضیان صاحب راټول کړل او ورته مې وویل چې تاسې به په قصاص کې د امام ابو یوسف رحمه الله په قول باندې فیصله کوئ، بس دغه پر تاسې باندې لازم دي، اوس مسیر یو شو، د ټولو قاضیانو فیصلې یو شوې، اوس امیر د دې لپاره دی، چې د شریعت د ننه مسیر یو کړي، نو په شریعت باندې عمل ناممکن شو، تر څو چې امیر نه وي، او د امیر وظیفه دا ده چې د خلکو په منځ کې وحدت راولي، نو الله جل جلاله موږ ته په اعتصام بحبل الله، اتحاد او اتفاق باندې امر کړی دی، او لارې یې هم راته ښودلې ده چې د اتفاق او اتحاد لاره مو بیا دا ده چې الله پاک وایي چې:

اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِى الْاَمْرِ مِنْكُمْ (سورة النساء:۵۹)

«د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسې څخه د امر خاوندان دي.»

دا اولی الامر دي.

اوس نو دا د امیر المؤمنین، یا مسلمانانو د امیر یا د اسلام د خلیفه یا د سلطان واجبات څشی دي؟ د خلکو په امیر المؤمنین باندې او د امیر المؤمنین په خلکو باندې څه حقوق دي، د دې پوهاوی د خلکو مسؤولیت دی، د علماوو ذمه واري ده، چې دوی خلکو ته پوهاوی

ورکړي، ما تېرو ورځو کې کتاب کتلو، زمونږ د علماوو د شورا لایحه اوس راوتلې ده، نو مونږ په سر کې یوه مقدمه ور اچولې ده د علماوو د علم، د هغوی د اهمیت او د هغوی د مسؤولیت په اړه په دې مقدمه کې یو تخریج راغلی دی، او دا حدیث شریف د ابن ماجة حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي، نصیحت، دعوت، وعظ او کیسې درې کسان کوي، یو امیر دی، بل مأمور دی، بل مرائي دی[3]، نصیحت به امیر کوي ځکه د امیر مسؤولیت دی چې د خلکو ذهن جوړ کړي او خلک په یو مسیر باندې روان کړي او د الله جل جلاله دین پکې عملي کړي دا ټول رعیت چې دی دا د امیر تر قیادت لاندې دی او د امیر دا مسؤولیت دی چې دی راعي دی دا یې رعیت دی دا یې مسؤولیت دی چې حفاظت او ساتنه به یې کوي امیر په اصل کې شپون دی، د ټولو مسلمانانو قیادت به امام کوي او ټول مسلمانان ده ته د رمې په حیثیت کې دي، نومورې یې د ساتنې مسؤولیت لري او بل هېڅوک دا حق نلري چې دغه رمې ته ور نېږدې شي، دا یې خپله رمه ده چې څنګه یې ساتي، هغه به دی خپله مصالح پکې ګوري، په امیر به نور څوک کار نلري تر هغه وخت چې په معصیت او بواه کفر باندې امر نه وي راغلی.

نو نصیحت امیر کوي او دا یې شرعي حق دی، چې نصحیت وکړي، تبلیغ وکړي وعظ وکړي دوهم مأمور دی، مأمور هغه نائب د امام دی چې امام ده ته وظیفه ورکړې وي چې خلکو ته دغه دعوت ورکړه، دغه تبلیغ وکړه دغه وعظ وکړه، هغه به داسې تبلیغ او دعوت او نصیحت کوي چې د دغه امیر د مصلحت او د هغه د امر مطابق وي مخالف تقریر به نه کوي.

دریم مرائي دی چې تقریر او نصیحت کوي خو نه امیر دی نه مأمور دی، دا نو بیا ریا کوي. علامه سندي رحمه الله په دغه حدیث باندې شرحه کړې ده په هغه شرحه کې یې لیکلې دي، چې دا د امیر مسؤولیت دی چې خلک متحد کړي، او یا یې د نائب مسؤولیت دی چې ده ورته امر کړی وي، دریم سړی اګر که په صحیح نیت باندې نصحیت کوي، خو کله کله د ده نصیحت تاوان او ضرر پېښ کړي چې د امارت او امیر تر نظر لاندې نه وي تر ګټې یې تاوان ډېر شي، ځکه دا سړی د امیر مخالف لوري ته دعوت ورکوي، نو ما دوی ته وویل چې دا د علماوو مسؤولیت دی.

اوس الله پاک یو نظام راوستلی دی، امیر راغی، امامت جوړ شو، خونه جوړه شوه، اوس یې د نړولو پرځای محکم کول پکار دي، عجیبه دا فتنه ویده شوه، اوس فتنه ویده شوې ده او دا د توقع خلاف ده، هر وخت چې د مسلمانانو ترمنځ توره لوڅه شوې ده بیا بیرته په تیکي کې نه ده اېښودل شوې، لیکن الله تعالی په افغانستان باندې دومره رحم وکړ چې الله پاک دا توره په تیکي کې ننباسله او فتنه ختمه شوه، د وطن له یو سر څخه تر بل پورې، هېڅ فتنه نشته، یوه لویشت ځمکه باندې څوک اختیار نلري، ټوله د امارت په اختیار، اطاعت او قیادت کې ده. زه کله کله وایم چې په ټول کې ژوند مې کله هم د جمعې لمانځه ته دومره عقیده نه ده شوې، لکه اوس؛ اوس مې د جمعې لمانځه ته عقیده سمه، اسلامي امارت ته مې عقیده سمه ده، ځکه چې دغسې اطاعت، حاکمیت او امارت مونږ په ژوند کې نه وو لیدلی. د امارت قیادت شرعي قیادت دی.

په دې وخت کې هم چې څوک ملاحظه کوي، او (د امارت) اطاعت او حمایت نه کوي نو خو کوښښ یې همدا دی چې دا فتنه بېرته راپورته کړي، نو اوس د مسلمانانو اتحاد او اتفاق د همدغه علماوو مسؤولیت دی، چې همدغه علماء به دا هرڅه ساتي.

نن چې علماوو دا کوم نصیحت خوښ کړی دی چې په دې فرمان باندې نصیحت کوي دا بلکل د ابن ماجه د حدیث موافق دی، چې خلکو ته د امام د نظریې مطابق نصیحت کوي، د امام له نظریې سره خلک جوړوي او د امام اعزاز کوي د دې لپاره چې خلک یې اطاعت وکړي.

زمونږ یو کتاب دی چې اوس کار پرې روان دی او د افغانستان د ټولو ولایاتو د علماوو شورا ته مو استولی دی، له هغه ځایه څخه بېرته راغلی دی او هغوی خپل نظرونه وړاندې کړي دي، د هغوی هر ډول ملاحظات مو اصلاح کړل، دا کتاب د اسلامي نظام پیژندنې په نوم دی، د دې کتاب تالیف ما کړی دی او دا شیان مې ورته جمعه کړي دي، چا ویل چې د دې کتاب نسبت یو بل چاته وکړه خپله یې ځانته مه منسوب کوه، ما ویل چې پریږده خلک یې وګوري چې دا زمونږ امیر المؤمنین څه لیکلي دي، دا زمونږ د علماوو شورا دومره دقیق کتلی وو چې نقطه

[3] عن عبد الله بن عمرو أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قال: "لا يقص على الناس إلا أمير أو مأمور أو مراء". (رواه ابن ماجة)

په نقطه يې ځيرلې ده او دا يې ځکه دومره دقيق کتلی دی چې زما لخوا ورغلی و، دوی زيات شيان پکې لټولي وو (دقيق يې کتلی وو) چې زمونږ امير ته کومه کمزوري متوجې نشي، او په ما يې د رحم او شفقت نظر وو، الله تعالی دې دوی په دنيا او آخرت کې کاميابه کړي، لکه زما شا مو چې تر اوسه پورې نيولې ده همداسې يې ونيسئ، زه هېڅ کار نه کوم، زه هغه مقصد ته چې علماوو کرامو د تعليم او تعلم له ابتداء څخه شروع پرې کړه وه چې اسلام به راځي، د اسلام لپاره يې دا خوارئ ايستلې دي، نن الله تعالی يو نظام راوستلی دی، په هغه کې دعوه د اسلام او شريعت ده، اوس د دې لپاره چې دغه دعوه په حقيقت باندې بدله شي نو تاسې علماوو سره ودريږئ، نو په دې کتاب باندې يې ښه نظر کړی دی، هغه هرڅه اوس مونږ اصلاح کړی دی، په هغه کې يوه خبره دا راغلې ده چې امير المؤمنين ښېګڼې بيانوئ، دا د دې لپاره بيانوئ چې د خلکو محبت ورسره پيدا شي، دا محبت يې ځکه ورسره پيدا کوئ چې اطاعت يې وکړي، اطاعت ته يې ځکه هڅوئ چې فتنه بنده شي او فتنه ځکه بندوئ چې فتنه خو د الله تعالی لعنت دی، او بندول يې بيا د الله تعالی رحمت دی.

څه وخت مخکې يو مدرسې ته لاړم، کله کله هلته د کار لپاره ځم، هلته خلک را غواړم ملايان يو يو وينم او روغبړ ورسره کوم، تېره شپه تللی وم او اراده مې وه چې نن شپه به د همدې مدرسې له ملايانو سره مجلس کوم، د خاص ځواک ځينې ملايان مې هم را وغوښتل، له دوی سره مې په آزاد مجلس کې دا خبره وکړه چې گورئ، ملا صاحبانو زه تاسې ته يوه خبره کوم، هغه دا چې د فتنې په دفع او بندولو کې ځانونه قرباني کړئ، سر ورکړئ او شهيدان شئ، ما ويل چې زه خپله واقعه درته بيانوم، کله چې شهيد امير المؤمنين ملا اختر محمد منصور تقبله الله، امير المؤمنين شو، نو زه زمونږ د رهبري شورا په مجلس کې وم، کله چې ورسره بيعت وشو، نو هغه وويل چې دی (هبة الله آخندزاده حفظه الله) زما معاون دی، نو يې زه معاون شوم، بل يې دغه خليفه صاحب (سراج الدين حقاني) ته ويل يې چې دا زما معاونان دي، مونږ چې هر څومره زاری وکړي چې نه کيږي، زه خو (يې خپله) بيخي نشم کولای، زه په څه نه پوهيږم او هسې د دې ملا صاحبانو په صف کې يم، نوم مې د ملا دی، خو ملا نه يم، خو فيصله وشوه چې بله خبره به نه وي، نو زه معاون شوم او خليفه صاحب هم معاون شو، دا سلسله روانه شوه، کله چې منصور صاحب شهيد شو، خبر راغی، ما ترجمه کوله. دغه د معاونت په وخت کې مې دوره هم وکړه بيا مې وروسته د برات په وخت کې ترجمه شروع کړه، نو ترجمې ته تلم، اودس مې وکړ چې خبر مې واورېدلو چې منصور صاحب شهيد شوی دی، (حيران شوم) چې دا څنګه خبره ده، د باندې ووتلم معلومات مې وکړل، خلکو ويل چې داسې آوازې ګرځي نو چې څنګه ده؟! هغه ترجمه راڅخه پاتې شوه، پرېشانه شوم، فکر مې خراب شو، چې دا څنګه کيسه وشوله، خو بالآخره هغه واقعه واقيعت شوه، نو مې دا ملګري را وغوښتل چې زر يو امير ودروئ، څو خلاء او تشه رانشي او فتنه رانشي، نو دا ملګري کښاستل چې امير ودروي، کله چې سره کښاستل او خبره راشروع شوه نو ويل يې چې له ده (امير المؤمنين شيخ صاحب) سره بيعت وکړئ، بس خبره ودرېده او چې هر څو زاری مو وکړې نه کېده، نو ما قبوله کړه، «سدا لباب الفتنة» يا د فتنې د دروازې د ترلو لپاره مې قبوله کړه، ځکه را باندې فرض عين شو، تاسو علماوو ته معلومه ده چې که يو سړی د امير له وفات څخه وروسته دبيعت لپاره مشخص شو، په هغه باندې فرض عين ګرځي سدا لباب الفتنة، نو په همدې نيت باندې ما قبوله کړه او حالات هم داسې دي، چې زمونږ امير المؤمنين امريکايانو په ډرون باندې شهيد کړی دی، بدن يې ور وسوځولو او دا مو سل په سل کې يقين وو چې د بل امير به هم ور سوځي، زما (بدن) به هم سوځي خو پروا نکوي، زما بدن د وسوځول شي خو دا مسلمانان د له فتنې څخه وژغورل شي، نو مې دا کوښښ وکړ چې په خپل سر باندې دا مسلمانان وساتم، که زه شهيد کيږم بل به راپورته کيږي که هغه شهيد کيږي بل به راپورته کيږي، دا قرباني به ورکوي.

اوس درته وايم چې زما دا سر اوس هم، په هغه وخت کې هم ما د مسلمانانو د حفاظت لپاره وقف کړی دی، چې زه په دې باندې د مسلمانانو حفاظت وکړم، قسم په الله که خپل سر په مسلمانانو وساتم زه په مسلمانانو سر نه ساتم، ترڅو پورې چې ژوندی يم زما په سر مسلمان ساتل کيږي، زه دا خپل سر نه دريغوم، او زما به دا عهد درسره وکړم، چې زه به خپل سر په مسلمانانو نه ساتم چې د خپل حاکميت لپاره جنګيږم، او مسلمانان د نورو مسلمانانو په مقابل کې جنګوم، دا کار هم په الله قسم که وکړم، خدای د زما په قيادت کې دغه حالت نه راولي، چې زه به د مسلمانانو سره جنګيږم د خپل قيادت لپاره به جنګيږم، يو هغه د شريعت حکم دی چې د تغلب او د خوارجو او بغاتو مسئله ده دا خو ځانته ده، زه به د خپل حاکميت لپاره دا جګړې ونکړم لکه علماوو چې وويل چې کله د روسانو پر خلاف جهاد کامياب شو، بيا خلکو د خپلې چوکۍ او خپل حاکميت لپاره جګړه کوله، امارت نه

وو، هلته امیر نه وو، هره یوه د خپلې چوکۍ لپاره جنګ کولو، یعني په مسلمانانو یې ځان ساتلو په مسلمانانو یې خپله چوکۍ ساتله، چوکۍ یې د مسلمانانو په وینو باندې پیدا کوله، نو دې ملایانو ته ما وویل چې ګورئ ځوانان ملایان یاست، د فتنې په دفع کې دا خپل سر قرباني کړئ په خپلو سرو دا مسلمانان وساتئ، او د فتنې د دفع لپاره کار وکړئ، هغه په تاسې علماوو باندې کیږي، که دغه علماء سره متحد شي او خبره یې یوه شي، د دې په مقابل کې نه بیا دنیا ځواب لري او نه بیا څوک د دې قوت مقابله کولای شي، او د الله جل جلاله نصرت لکه اوس چې ملګری دی دا به تر آخره ملګری وي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ (سورة الرعد:١١)

«حقیقت دا دی چې الله د هېڅ قوم حالت نه بدلوي، تر څو پورې چې هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي.»

چې تغیر رانشي، الله تغیر نه راولي، نو ستاسو د علماوو وظیفه اوس دغه ده چې د دې اسلامي امارت تر شا به محکم دریږئ، د اسلامي او شرعي نظام کامیابه کول نن ستاسې مسؤولیت دی، خلکو ته ذهن ورجوړ کړئ، عامو خلکو ته، مسؤولینو ته، وزیرانو ته، والیانو ته ذهن ورجوړ کړئ، نصیحت ورته وکړئ، د چا له ملامتیا څخه مه وېریږئ، تاسې علماء کرام یاست، په رد المختار کې دا مسئله راغلې ده، وایي چې که چېرې یو مجاهد په کافرانو باندې د حملې کولو اراده وکړه او د ده یقین وو چې وژل کیږي او شهید کیږي خو په کافرانو کې څه اثر نشي کولای، نو هلته وایي چې دا حمله ورته جواز نلري. او دا سړی دې حمله نه کوي، بل که چېرې یو سړی له منکر څخه نهی او منع کول کوي او دا یې یقین وي چې مړ کیږي، وژني یې، دا یې هم یقین وي چې کار اثر نه کوي، نو اوس دلته باید دا نهی او منع کول وکړي کنه؟ (نو هلته لیکل شوي چې) ودې کړي. اګر چې دا امر بالمعروف او نهی عن المنکر خو د مسلمان کیږي، وایي چې مسلمان دې له منکر څخه منعه کړي که څه هم دی په دې لاره کې وژل کیږي، عزیمت یې همدا دی که څه هم د خوله پټولو رخصت شته دی ورته، او که په دې لاره کې ووژل شي، نو د بهترینو شهیدانو څخه شمېرل کیږي، ما په درس کې طالبانو ته ویل چې تاسې د شهادت په لټه یاست خو دغه دی شهادت.

او ته ملا، مولوي صاحب چې ته په عزیمت باندې لاس ونه نیسې په رخصت پسې لاړ شې نو دا عوام به څه کوي؟ ولې په عزیمت باندې لاس نه نیسې؟ زه امیر یم چې په رخصت باندې لاس نیسم، رخصتونه غواړم، نو دا عزیمت به څوک راولي؟ تاسې علماوو ته معلومه ده امام بخاري صاحب څو بابه ترې، یو باب دا دی چې د بېړې په حالت کې سړی چابک شي[4] په وېره کې یوازې وتل چې د دښمن څخه د خوف حالت وي او یوازې وځي، د دې څه حکم دی؟ په دې کې مسلسل حدیثونه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حدیثونه راوړي، وایي چې په مدینه منوره کې یو وخت د شپې دا غږ وشو چې د دښمن لخوا څخه د څه خطر احساس کیږي، وایي چې دا مجاهدین سره راووتل، آسونه یې هم را وایستل چې هغه طرف ته لاړ شي، (ګوري چې) نبي صلی الله علیه وسلم له هغه خوا څخه را روان و، د ابو طلحه په لوڅه شا آس باندې سپور و، په غاړه کې یې توره ده او خلکو ته وایي چې مه وېریږئ! مه وېریږئ! وایي دا امام د مسلمانانو دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم دی د بېړې او ډار ځای ته له ټولو څخه مخکې ورغلی دی، دلته ابن بطال صاحب چې د بخاري شریف شارح دی، هغه وایي چې د دې ټولو تراجمو څخه دا معلومیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله څومره غیرت ورکړی و، او الله تعالی ورسره د عصمت وعده کړې وه.

وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ (سورة المائدة:٦٧)

«الله د خلکو له شر څخه ستا ژغورونکی دی»

دا چې د هغه صلی الله علیه وسلم لوړ مقام و، الله تعالی د نصرت وعده ورسره کړې وه، د نورو امیرانو سره یې نه ده کړې، نو وایي پکار دی چې د مسلمانانو امام په خپل ځان باندې یو څه بخل وکړي، داسې نشي لکه نبي صلی الله علیه وسلم او د بېړې او ډار ځای ته لاړ نشي، په دې کې به د مسلمانانو لپاره شفقت وي ځکه که دغه امیر لاړ شي، د مسلمانانو په منځ کې به بیا فتنې رامنځته کیږي نو باید چې ځان وساتي، عمدة القاري هم د د همدې ابن بطال قول را نقل کوي، نجاح القاري هم دا قول را نقل کوي او فیض الجاري بیا وایي چې په دې کې لږ فکر او تأمل پکار دی، هغه یې نه پریږدي او ورته وایي چې ته مخکې شه، نو اوس به امیر هم مخته روان وي عالم به هم مخته روان وي او په

[4] بَابُ السُّرْعَةِ وَالرَّكْضِ فِي الفَزَعِ

عزیمت باندې به لاس ټینګوي اوس که رخصت ته سره لاړ شو خو دا دین پټیږي، او دا مشکل چې نن موږ ورسره مخ یو او خلک په دین باندې نه پوهیږي دا د دین د پټوالي نتیجه او لامل دی، چې موږ دین نشوای ښکاره کولای.

د جهاد یوه ثمره، فایده او هدف چې موږ په لاس راوړو دا وو چې د اسلام اظهار موږ ته آسانه شو، دا د اسلامي احکامو د بیان او ښکاره کولو موانع د جهاد په برکت باندې پورته شول، اوس ضروري ده چې علماء د اسلام او شریعت احکام خلکو ته ورسوي.

ماته یو طالب راغی په فراه کې د پرچمن په نوم ولسوالي ده چې ډېره لرې او په غرو کې پرته ده، ویل چې دلته خلکو ویل چې موږ ته یوه مدرسه راجوړه کړه، ما ویل چې هله زر کوه، پورته شه او ځان ورسوه، او د معارف واله ته مې وویل چې یقیناً دا خلک په موږ باندې حق لري، ماته تر ټولو ډېر خوند دا راکوي چې د هر غره هرې شیلې ته دغه دین ور ورسوو او چې دا مسؤولین په هغه ځای کې خلکو ته مدرسه ورجوړه کړي او دیني تعلیم ور ورسوي چې د غره هغه آخري نقطه ده. اوس د دغه وخت دی دا ورسوئ، ستاسې اوس یوه ذمه واري او مسؤولیت دی، او بیا هغه طالب لاړو، بیا یې راپور راته راوړو، دغه ولسوالي (پرچمن) دوې حصې دي په دواړو برخو کې مو مدرسې او مسجدونه ورته جوړ کړل، اوس چې څوک راشي چې په هغه شګو کې (مدرسه جوړوو) زه ورته وایم چې لاړ شه (جوړه کړه).

ابله ورځ د کندهار د معارف پخواني رئیس نقشبندي صاحب ته مې ویل چې لاړه شه هلته د ربګ په منځ کې مدرسه جوړه کړه، نو لاړو هلته یې مدرسه جوړه کړه، بیا ماته رحماني صاحب چې د دې مدرسې لپاره یې اکمالات کول راته وویل چې یوه ورځ ورغلی وای دا مدرسه د لیدلې وای، نو ما ویل چې راځه ورشو، روان شوو او د ربګ منځ ته لاړو، ماته یې عجیبه خوند راکړ، خلک مو را وغوښتل خلک هم ډېر خوشحاله وو، ویل چې خدای موږ ته داسې د رحم په نظر باندې وکتل، زموږ عزت یې وکړ او مدرسه راته جوړه شوه. وړمه ورځ یې مهتمم راغلی وو چې په همدې ربګونو کې ۲۵ طالبان لیلیه اوسیږي، ویل چې یخ دی، ما ورته ویل چې بس زه بوتې او لرګي په موټر کې دروړم، اکمالات مو کوم، الله پاک دې موږ ته توفیق راکړي چې موږ دا دین او اسلام ورسوو.

علماء کرامو نن د دې وخت دی چې دین خلکو ته ورسول شي، د خلکو ذهن جوړ شي، امارت ور وپېژندل شي، اسلام ور وپېژندل شي. شریعت او د هغه عملي کول د دې سبب دی چې د مسلمانانو په منځ کې وحدت او اتحاد او اتفاق راشي.

ماته ابله ورځ د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رئیس وایي چې زه د ترانه خوانانو لپاره یو سیمینار جوړوم، او همدغه تر سلو زیاتو ترانه خوانانو ته د امر بالمعروف قانون د درس په ډول ورته وایم، ما ورته ویل چې ته خو تنها د کندهار څخه ترانه خوانان را غواړې دا مشهوره مشهوره (د نورو ولایتونو) هم را وغواړه، نو ویل یې چې اول یې کندهار کې دا سیمینار جوړوو که نتیجه یې مثبت وه نو وزیر صاحب راته ویلي دي چې بیا یې په ټولو ولایتونو کې ورته جوړوو، نو ما ورته وویل چې په کندهار کې یې چې کوې نو دغه مشهوره مشهوره ترانه ویونکي هم را وغواړه، ویل غرض مې دا دی چې دا زموږ ترانه ویونکي خو اوس په دغه قوانینو باندې په اجمالي توګه پوه دي، چې دا ۱۷ مه ګڼه فرمان دی لکه اوس چې یوه مولوي صاحب یوه مقاله پرې لیکلې وه، الله جل جلاله یې دې په ځوانۍ او علم برکت واچوي، ویل چې دا خو اوس خلکو اورېدلي دي خو تفصیلي دغه خلک نه دي پرې خبر، نو موږ دا او د امر بالمعروف قانون، د شاعرانو قانون او دوه نور کتابونه ورته د سبق په شکل وایو، ما ویل چې زه (امکانات) درکوم او دفتر کې مې مولوي عبدالولي صاحب ته وویل چې زر یې پېشنهاد ورمنظور کړه چې دا کار وکړي، الله تعالی د دوې ته توفیق ورکړي چې د خلکو ذهن جوړ کړي، په نظم او نثر کې د دې ضرورت دی چې اوس د اسلامي نظام حمایت وشي، د دې شاعرانو او ترانه خوانانو لېست زما سره شته زما څخه ملاقات غواړي خو تر اوسه ما اجمالي ملاقات نه دی ورسره کړی، ما ویل چې په دې شرط ملاقات درسره کوم چې تاسې دا فرمانونه او پیغامونه په خپلو شعرونو او ترنمونو کې راولئ، دوی ته مې قانون هم جوړ کړی دی، ترنم کوونکو ته مې وویل چې تاسې ته مې قانون جوړ کړ، چې مخکې چا داسې کار نه وو کړی او اوس مې تاسې قانوني ترنم کوونکي کړئ، دغه ترنم کوونکو خو د جهاد په دوره کې هم ډېرې قربانۍ ورکړې، خلک یې جهاد ته رابلل، زموږ په جلسو کې به خلک د فقیر محمد دروېش شعر ته په تمه ناست او غوږ نیولی و، مولانا عبدالغني صاحب رحمه الله یوه وخت په یوه جلسه کې بې نظمي کوونکو طالبانو ته وویل چې کښېنئ اوس فقیر شعر درته وایي، نو طالبان آرام شول، د دې ترانه ویونکو ترانو ته خلک دومره غوږ نیسي چې زموږ تقریر ته دومره غوږ نه نیسي، نو چې الله تعالی په تاسې کې دا صفت پیدا کړی دی نو د دین خدمت وربانديې وکړئ، کعب بن

مالک، حسان ابن ثابت، عبدالله بن رواحة رضي الله تعالى عنهم د رسول الله صلى الله عليه وسلم شاعران وو، کعب بن مالک د اوس قبيله په شعرونو او ترنم باندې مسلمانه کړه، نو تاسې ته پکار ده چې يو ښه تاريخ وګټئ، په دغه ترنم باندې کافر مسلمان کړئ، مسلمانان خو بيخي اصلاح کړئ، اوس چې مولوي سجاد صاحب دا شعر ووايه دا ډېر مؤثر شعر يې وويلو.

نو زه وايم چې دغه علماء دا ځوانان علماء چې الله پاک ښه استعدادونه ورکړي دي او ځوانان هم دي، قوت هم لري لکه اوس چې دغه مولوي صاحب په دريمه ماده باندې دومره تحقيق کړی وو، دا چې ټول داسې متوجې شي او علم خپور کړي، نو الله تعالى يې دا کوښښونه نه ضايع کوي.

ماته دوې درې ورځې مخکې يو ملا راغی او ويل چې دا لوحه مې چې کله لوسته نو داسې تبه مې شوه، بدن مې خولې شو او ويل مې چې دا آخره زمانه کې هم علماء دومره متوجې دي، وايي ډېر خوند يې راکړ او هلته مې الله تعالى ته سوال وکړ چې الله پاکه! دغه ملايانو کې ما هم حساب کړې او که مې وس ورسيږي زه به شرکت درسره وکړم، بيا پرون مورِ ناوخته حرکت وکړ، چاته مې وويل چې تاسې هغه ملا ولټوئ چې راسره ملګری يې کړو خو هغه يې پيدا نکړ.

دغه د اتحاد، اتفاق او د امارت د استحکام غږ ټولو مسلمانانو ته خوند ورکوي، او هر هغه چاته به دعاوې کيږي څوک چې د فتنې مخه نيسي، زه دې مسؤولينو ته وايم چې د الله په خاطر کلک ودريږئ اوس د دې نظام استحکام وکړئ، پام کوئ چې کمزورې خبره درڅخه ونه شي، اختلاف درڅخه رانشي، او بل څه ونه وياست، هر څه چې درته راغلل په سر سترګو باندې يې منئ، نو د امير حيثيت او مأمور او رعيت حيثيت تاسې علماوو ته معلوم دی، نور خو چې هرڅه بيان پرې کيږي دا د زړه او باطن معامله ده، الله تعالى مو دې په دغه امتحان کې کامياب کړي، الله تعالى د ټول علماء او مجاهدين کامياب کړي، الله تعالى دې دا نظام کامياب کړي او الله دې توفيق راکړي چې د اسلامي نظام حق هغه ډول اداء کړو څنګه چې د هغه حق دی.

الله تعالى د زمورِ خاتمه په ايمان کړي، له فتنو څخه مو د الله وساتي، الله تعالى دې په مجاهدينو او علماوو کې داسې څوک نه پيدا کوي چې د فتنې سبب شي، هيڅوک دې الله تعالى داسې نه ګرځوي چې د فتنې نسبت ورته وشي، الله يې د دې داسې جوړ کړي چې د فتنې د بندونکي نسبت ورته وشي، الله د مورِ له فتنو څخه وساتي او الله دې دا نظام مستحکم کړي، الله تعالى د شريعت حاکم کړي او د ناکامو امتحانونو څخه د الله تعالى مورِ وساتي، زه همېشه دا دعاء کوم چې يا الله پاکه! زمورِ په علماوو کې داسې څوک مه پيدا کوې چې د فتنې سبب جوړ شي، په مجاهدينو کې داسې څوک مه پيدا کوې.

دا د اطاعت مسئله ده، زه هم په همدې باندې غږيږم چې اطاعت کوئ يو حيثيت به مې د مشر وي، چې زه مشر يم، بل حيثيت مې د ملا دی، د دې څخه مخکې زه ملا وم نصحيت مې کولو او خلکو ته مې د شريعت تشريح کوله، اوس هم د هغه ملايی په صفت ځان مکلف بولم دا تشريح کوم او خلکو ته وايم چې اطاعت کوئ.

علماوو ته هم وايم، علماء تر ما مشران دي خو اوس زما مسؤوليت دی کنه، زه مجبور يم چې هغه لاره چې زما په نظر مصلحت دی هغه به ده هم وايم چې په دغه لاره ځه، او تاسې ته هم وايم چې نصيحت کوئ د مؤمنانو امامانو ته نصيحت کوئ، ماته هم نصيحت کوئ، په کاغذ يې راته راليږلی شئ، په خصوصي ملاقاتونو کې يې راته ويلئ شئ.

نو ډېر کوښښ به کوئ، دا وحدت ساتئ، نصيحت کوئ خو عيبجن کول مه کوئ، الله د خير درکړي، خو زما سره به دا وعده کوئ چې نصيحت به کوئ، امام شافعي رحمه الله وايي:

> من وعظ أخاه سرا فقد نصحه، و من وعظه علانية فقد فضحه.

> «چا چې خپل ورور ته په پټه نصيحت وکړ، په حقيقت کې يې خير خواهي ورسره وکړه او چا چې هغه ته په ښکاره (د خلکو په مخ کې) نصيحت وکړ، نو په حقيقت کې يې رسوا کړ.»

او د مجموع الزوائد حديث دی تاسې ته معلوم دی، چې که د سلطان څخه دې ناخوښ څه وليدل تر لاس يې ونيسه او نصيحت ورته وکړه که يې درسره ومنله نو ښه دی.

نو دا وعده به کوئ چې نصيحت به هم کوئ او د فتنې د مخنيوي کوښښ به هم کوئ، دا دواړه به کوئ، په عام مجلس کې به قطعاً مخالف نظر نه پورته کوئ، ځکه که چېرې فتنه راپورته کيږي نو ما او تاته يې تکليف نه رسيږي بلکې عام خلک پکې تکليفيږي، په دغه کابل کې چې فتنې وې، دا خلک سره جنګېدل، د دوی مشران تراوسه ژوندي دي دوی به کرار ورته ناست وو، دا نور مسلمانان به تر پښو لاندې

کېدل. لکه دغه ساجد صاحب چې په خپل شعر کې وویل چې نور به یتیم نه ژړېږي. یا الله! زمونږ په زمانه کې یتیم مه ژړوه، یا الله زمونږ په زمانه کې ښځې مه کونډې کوه، یا الله زمونږ په زمانه کې بیا د مسلمان پرخلاف د مسلمان توره مه استعمالوه، یا الله مونږ د مسلمان په مقابل کې مه استعمالوه، الله تعالی د مونږ د کافر په مقابل کې استعمال کړې.

زمونږ یو دښمن دی چې هغه کافر دی، مسلمان زمونږ دښمن نه دی، زه دغه مسلمانانو ته وایم، افغانانو ته وایم، تاسې علماء هم ورته وایاست، دغه له امریکایانو سره چې مذاکرات روان و، د دوی اشارې دې ته وې چې دوی ځي، دلته یې دا نور رامخته کړي وو، زه په دې کې فکر وړی وم چې په دې خوشحاله شم چې امریکایان لاړل، نو له بلې خوا خو دا خلک (د پخوانۍ جمهوري اداري لاسپوڅي) خو به مونږ ته را پاتې وي بیا به زمونږ او دوی جنګ وي سره، اوس خو چې دوی خلط او ګډ وو، نو مونږ به کافران وژل او دوی به د تترس په شکل کې وژل کېدل، اوس خو به دوی قصداً وژنو او دا زمونږ لپاره لویه خبره ده، مونږ دا کوښښ وکړ چې کله مونږ ته معلومه شوه چې دا امریکایان وځي، نو په دې وخت کې چې دوی جنګ ته ځان آماده نکړي مونږ د عفوې اعلان ورته وکړ.

ګورئ! افغانان یاست، تاسې شل کاله د امریکایانو سره په ځنګ کې ولاړ واست، سخت ظلمونه مو وکړل، خو عفوه ده، عفوه ده، عفوه ده، نور د کافر په ځنګ کې مه درېږئ تریې را واوړئ، زمونږ له تاسې سره قصدي دښمني نه وه، زمونږ مقصودي دښمني له دې کافره سره وه، تاسې به طبعه کې ورسره روان واست، اوس چې کافر لاړو ستاسو سره مقصودي دښمني نه کوو.

اوس هم ورسره دښمني نه کوو او ورته مو عفوه ده، راشئ خپل ژوند وکړئ، که حکومت او چوکئ غواړئ نو هغه په استعداد او اهلیت باندې روان دي که چېرې یې تاسې اهل یاست تاسې ته یې درکوو. که یې بل څوک اهل وو، بل چاته یې ورکوو، دا خو تاسې ته هم معلومه ده چې نا اهله خلکو ته چوکۍ ورکول د ټولو رعیت سره ظلم دی، نو اهل ته به ګورو، استعداد ته به ګورو، تاسې هم داسې مه کوئ چې په چوکۍ باندې جنګ کوئ، علماء باید دا ذهن د خلکو جوړ کړي چې دغه چوکۍ مه غواړئ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي چې هرڅوک چې چوکۍ او مسؤولیت غواړي مونږ یې هغه ته نه ورکوو، خو دا اوس پکار ده چې خلکو ته وویل چې دا خو ناروا دي دا په دین کې ناروا دي په شریعت کې ناروا دي، اوس راشئ که تاسې استعداد درلود در به یې کړو که مو نه درلود نو تاسې یې بیا مه غواړئ دا خو ناروا ده.

را دې شي مونږ له دوی سره په پخوانیو جرمونو حساب نه ورسره کوو نوي جرمونه د دوی نه کوي، بیا د فتنې نه راپورته کوي. مسلمانان ښه آرام شوي دي، څه کوئ چې بیا دا فتنې راپورته کوئ بیا په افغانستان کې جنګونه راپورته کوئ او هېڅوک په افغانستان کې فتنه او جنګ نه غواړي، نه د مسلمانانو په منځ کې کورنۍ جګړې غواړي.

او ټول افغانان له توپیر پرته د اسلام تر چتر لاندې او د شریعت مطابق د خپله زنده ګي کوي، دلته هېڅ فرق نشته، نه ژبنی فرق او نه هم منطقوي فرق شته، په دنیا کې چې هر چېرې مسلمانان دي په ما باندې خو دا فرق نلري چې (چېرې اوسي) چې هر چېرې مې دوی ته خیر ورسېږي زه به خیر ور رسوم، ځکه چې دا خو مسلمانان دي، نو زمونږ نظام اسلامي دی د اسلام د اصولو مطابق به هر چاته حق ورکول کېږي، نه به فرق کېږي نه به توپیر کېږي، نه به د ژبې توپیر کېږي. دا ختم کړئ! دا کار هم په تاسې علماوو باندې کېږي.

عصبیت، تفرقه، منطقه پرستي، تنظیم پرستي او ډلبازي ختمه کړئ، په دې امت باندې ورحمېږئ همدا په دې امت باندې رحم دی، چې دا شیان ټول ختم شي او دا ټول کارونه په تاسې علماوو باندې کېږي که چېرې یې تاسې علماء وکړئ.

او الله جل جلاله دې د دغه مجلس جوړونکو او د پوهنتون مسؤولینو ته هم خیر ورکړي، کور یې ودان، الله د اجر عظیم ورکړي چې دا کار یې کړی دی.

زه یوه ورځ د کندهار پوهنتون ته ورغلم، زه خو ګرځم او دا فضا وینم، بیا دوی اسرار وکړ چې درسره وینو ما ورسره ومنله نو راغلل دا ځوانان او محصلین وو، زه یې استادانو ته انتظار وم، خو هغه ملایان راتلل، سپینې سپینې لنګوټې یې پر سر دي تورې ږیرې یې دي، یوه ته ما وویل استادان تر څو راځي لږ قرآن شریف ووایه، نو یې ښه قرآن شریف ووایه، نو مې خبرې ورته شروع کړې، ما ورته ویل چې دا ستاسې عصري علمونه د دیني علمونو خادمان دي، تاسې به دې دیني علمونو خدمت په عصري علومو سره کوئ، او ستاسې دا علمونه چې د کسب علمونه دي دا د اسلام دې دین د خدمت لپاره دي، تاسې به یې په دې نیت باندې زده کوئ چې په دې باندې د دین خدمت وکړئ د مسلمانانو خدمت پرې وکړئ، الله تعالی به په دې نیت تاسې ته اجر درکوي، خو

مهم دغه ديني علم دی دا به تاسې په خپل ځان کې راولی، عقیده، اسلام او د دین ضروریات به زده کوئ، بیا دا علم وکړئ، مسلمانانو ته خدمت وکړئ، دا د مسلمانانو خدمت څومره لوی اجر او ثواب لري په صحیح نیت باندې یې وکړئ، نو له خبرو وروسته مې ویل چې دا استاد یې رانغلل نو دوی ویل چې همدا سپینې لنګوټې واله یې استادان وو، نو ما ویل چې دا خو ملایان وو...!

زه په دې نیت ورغلی وم چې ما دغه شیخ مولوي نداء محمد صاحب ته چې خدای د خیر ورکړي، علماوو او د پوهنتون استادانو ته د هم الله خیر ورکړي چې معنوي اصلاحات یې راوستلي دي، هغه ته مې لیکلې وو چې ما خو تاته ویلي چې په دې پوهنتونونو کې سیرت او صورت اصلاح کړه تا څومره دغه کار کړی دی؟ نو هغه راپور رالیږلی وو چې په فلاني پوهنتون کې دومره فیصدي ده په فلاني کې دومره ده، او په کندهار کې لویه فیصدي ده. نو چې دوی دا راپور وویلو ما ویل چې دا راپوره همدلته کیږده او ځئ چې لاړ شو (چې په عملي توګه یې ووینو) نو ۱۲ یا یوه بجه وه ورغلم پوهنتون ته، ملګرو ته مې وویل چې تاسې بیروبار مه جوړوئ زه ناپامه په دې پوهنتون کې ګرځم او وینم یې. زه چې ورغلم دوی په ما وپوهېدل، له څه کارونو ورسته مې ورسره ملاقات وشو نو ښې لنګوټې او ږیرې یې وې، ډېر نیت مې پرې ښه شوی دی، اوس چې نصاب ورته جوړ دی، علماء ورته مقرر شوي دي، او اصلاحات پکې روان دي، نو رب العالمین خو یې دې اصلاح کړي، نو اوس په دغه اسلامي نصاب باندې چې دا علماء کېناستل او د شیخ صاحب عبدالحکیم په مشری یې اصلاحات وکړل الله تعالی د هغوی ته اجر ورکړي، درې میاشتې یې خدمت وکړ او دا خدمت نه ضایع کیږي الله تعالی یې د قیامت په ورځ د نیکو اعمالو په تله کې درته اچوي.

د خاص ځواک مجاهدینو ماته وویل چې مونږ به د (کندهار) په عیدګاه کې د جمعې لمونځ کوو، هلته د پوهنتون محصلین هم راځي ابله ورځ یې راته وویل چې د پوهنتون محصلینو ویلي دي چې ۷۰۰ لنګوټې به راکړئ، مونږ لنګوټې ترو او پرته له لنګوټې لمونځ سم نه دی، ما ویل چې شاباس، آفرین، لنګوټې مو ورته واخیستې او اوس یې تړي، بیا یې هم ورته اخلو، که د دغه پوهنتون (کابل پوهنتون) محصلین هم لنګوټې غواړي نو لنګوټې یې پر ما، شیخ صاحب (نداء محمد ندیم) ته به زه ووایم چې د هر پوهنتون محصلین چې لنګوټې غواړي او تړي یې نو لنګوټې زه ورته اخلم.

لنګوټه خو ښه شی ده، د انبیاء کرامو او رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت او طریقه ده او ږیرې مبارکې د هم نه خریي، ږیرې خو د ټولو انبیاء کرامو سنت دی، او خریول یې ناروا او حرام دي، او دا پوهنتونونه باید داسې جوړ شي چې د بازار خلکو ته دغه محصلین نصیحت وکړي، دوی باید خلکو ته ووایي چې ږیره پریږده، ځکه چې خریول یې حرام دي، تر قبضه کمول یې حرام دي.

اوس خو دې الله پاک دا اصلاحات کامیاب کړي، اصلاحات روان دي د دې علماوو برکت دی، د شیخ صاحب د کوښښونو نتیجه ده او زه هم ورځم، په مجلس کې مې ورسره شرکت وکړ، ورسره یوځای شوم اوس هم د دوی کوښښ دی چې زما سره ملاقات وکړي، دوی زما خلک دي زما نظام به را کامیابه کوي، دا اسلامي نظام به را کامیابه کوي، تاسې ته دا امید لرو، دا پوهنتون چې ستاسو لپاره جوړ شوی دا د دې لپاره چې تاسې به دغه نظام او د افغانستان مسلمانانو ته نفع او ګټه رسوئ او د دې اسلامي نظام کامیابي به کوئ، مونږ درسره یو، هم امکانات درته برابروو، هم اعاشه درکوو، هم معاش درکوو، هم کتاب درته برابروو، هم مو نور خدمت کوو خو تاسې به هم په صحیح نیت او ښه اخلاص سره (کوښښ کوئ). تاسې به آینده د دې نظام چلوونکي یاست په مادي طرف کې به تاسې دا نظام چلوئ، په معنوي طرف کې به علماء کرام وي، په امنیتي طرف کې به مجاهدین وي، نو دا به په ګډه باندې د اسلام جامعه وي دا به چلوئ دا به دنیا ته ځي، تاسې د ټولو مسلمانانو نماینده ګان یاست یوازې د افغانستان نه یاست.

نو الله دې نور زیات توفیق هم درکړي، الله دې خیر درکړي نور به دا خبره را مختصره کړمه.

والصلاة والسلام على خير خلقه محمد وآله وصحبه أجمعين

وآخر دعوانا أن الحمد لله ربّ العالمين!

★★★★★

هغه مالداره څومره بختوره دی

چې الله ورکړی مال یې د جهاد تر صف او مجاهدینو پورې رسیږي

سرمایه، مال او دولت د الله تعالی له لوري د امتحان وسیله ده، د قیامت په ورځ به الله تعالی له خپلو بنده ګانو سره د هغوی د سرمایې حساب کوي. نو هغه تجار او مالداره به څومره بختور وي چې د قیامت په ورځ خپل رب ته ووایي چې ما ستا په لاره کې خپل مال مصرف کړی دی. او په خپله دې خبره باندې د الله تعالی د لارې مجاهدین شاهد کړي.

نو ځکه خو باید چې د جهاد د صف او مجاهدینو شتون غنیمت وګڼو او خپل مالونه دوی ته ورکړو، تر څو د الله تعالی په وړاندې ځواب وویلی شو.

د بت شکن له ادارې او مجاهدینو سره د خپلو مالونو (اګر که ډېره کمه اندازه هم وي) د شریکولو لپاره زمونږ له آدرسونو سره اړیکه ونیسئ.

ټلګرام: @tamas_butshikan



عافیه صدیقي

د زندان، شکنجو، تېریو، ځوروونو، دار، زولنو او تورو تمبو په منځ کې د ایمان، ایثار، زغم او صبر مجسم انځور!

ډاکتر محمد طنین

یوه شپه مې رسول صلي الله علیه وسلم په خوب ولیده ورته مې کړه چې اې د ناصر رب پیغمبره صلی الله علیه وسلم دا زما امتحان څومره اوږد شو څه وخت به خلاصیږي !؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم راته په ژړا شو او ویې وفرمایل:

«عافیې! دا تنها ستا امتحان ندی قهار رب پرې ټول اسلامي امت امتحانوي، چې څه وخت به دې لدې ظالمانو ژغوري؟»

هغه وخت چې زموږ د عروج ستوري د دنیا پر اسمان ځلاء کوله، د یو بشپړ مستقل اسلامي قیادت او واحدې جغرافیې څښتنان وو؛ هغه عصر چې اسلامي نړۍ مو هېواد او پېژندګلوي مو لااله الا الله وه؛ د لېنکرو یو سر به مو د چین په سرحداتو کې دمه او بل سر به یې د اروپایي سمندرونو پر ساحلونو روان وه؛ رهبرانو به مو له وریځو سره خبرې کولې، کفري نړۍ به د مسلمانانو هر فرد ته د امت په نظر کتل؛ ځکه چې دې امت په هغه عصر کې داسې ابطال لرل چې د یوې خورکۍ د وامعتصمااا چیغو په انتقام کې یې د صلیبي عمورپې ښار خښته پر خښته ووهله، ستري ستري امپراطورۍ یې نړولې او په زرګونو ځوانان د یوې خور تر عفت قربانیدل.

د دې امت بنسټګر او مجاهد پیغمبر صلی الله علیه وسلم د یوې مسلمانې خورکۍ د عفت په خاطر د یهودو بنو قینقاع پر خلاف خپل لښکر وروخواځاوه، محاصره یې کړل، تسلیم شول او بیا د دوی نجسې څېرې له مدینې منورې څخه د شړلو په توسط د تل لپاره ورکې شوې.

یو داسې زمان وه چې اسلام هغه ۱۷ کلن ځوان درلود چې د خپلې یوې مسلمانې خور "ناهیدې" پر وینو د لیکل شوي پیغام په ځواب کې یو ستر اسلامي لښکر په خوځښت راووست او د هنه دي راجه ګانو ستر ستر برجونه یې پرې راونړول، د طاغوت وینې یې وبهولې، سرونه یې له تنو بیل کړل او د اسلام عظمت یې اعاده او د مسلمانو خویندو پرونې یې ورپه سر کړل.

یوه محجوبه او پاک دامنه خورکۍ د مکتب دوره په پوره کامیابۍ سره بشپړوي، د کور تر څنګ مدرسه کې څه موده بعد مکمل قرآن هم حفظوي، د یوه ډاکتر لور ده، د خپل عالي ذکاوت، استعداد او هڅو په پایله کې د طب پوهنځی Medical ته بریالۍ او له خپل ورور سره جوړه د امریکا مشهور پوهنتون ماساچوست ته د لوړو زده کړو په پار کوچېږي، دا مسلمانه خور د عفت او حیاء یوه بیلګه وي، د پوهنتون د درسونو تر څنګ زیات وخت پر اسلامي مطالعه او تحقیق تیروي، الله تعالی یو عجیبه د بیان پر فن نازولې وي، تل د پوهنتون په انګړ کې له ستیجه خپلو مسلمانو خویندو ته د اسلام مبارک دین بیانوي، ښیګڼې یې ورپه ګوته کوي، مسلمانو خویندو پر وړاندې د غرب له فکري یرغله یې خبروي، حجاب او په اسلام کې د ښځو پر حقوقو په بیانولو به یې تل ژبه جاري وه. پخپله تحصیلي دوره کې ۱۴۴ افتخاري مډالونه ورکول کېږي، د اعصابو په برخه کې تخصص او افتخاري دوکتورا تر لاسه کوي داسې چې پدې څانګه کې دوکتورا اخیستل د هر چا له توانه وتلی کار دی.

اسلام او خپلو وګړو ته د خدمت په پار له امریکا څخه خپل اصلي ټاټوبي د پاکستان کراچۍ ته راستنیږي، د خپل پلار او مور سترګې پرې یخې او د خپل ویاړ سمبول یې بولي، سمدلاسه دنده پیلوي، څه موده وروسته له ډاکتر محمد أمجد سره واده کوي او د ژوند پدې پړاو کې الله تعالی درې اولادونه سلیمان، مریم او حامد ورکوي.

دا پتمنه خورکۍ د امت په درد یوه دردمنه میرمن وه، تل به یې خیریه کارونه کول، د بوسنیا او چیچنیا مسلمانانو ته به یې چندې او کمکونه راټولول، د غریبانو لاسنیوی به یې کاوه، د اسلام مینه یې په زړه کې په څپو وه، د انسانیت یوه بهترینه نمونه وه، یوه داعیه وه اسلامي داعیه.

په ساینسي ډګر کې یې ثابته کړې وه چې یوه مسلمانه میرمن څومره استعداد لري او اسلام د علمي پرمختګونو اصلي آدرس دی، نه مانع.

د 2003 م کال د مشرف د حکومت پر مهال یوه ورځ له ورځو څخه د خپلوانو د لیدو په تکل له کراچۍ د اسلام اباد په لور خپلو اولادونو سره راوخوځیده چې په لاره کې له موټر ښکته کړای شوه او شپږ میاشتینۍ

زوی سلیمان یې ځای پر ځای ورته شهید کړ داسې چې پر سرک یې سر ورته وواهه، درې کلنه مریم او شپږ کلن احمد یې هم ترې بیل او ټول یې د یوه نامعلوم برخلیک په لور یورړل.

د اسلام دا پتمنه خورکی او د اعصابو متخصصه ډاکتره عافیه صدیقي وه، هغه څوک چې د اسلام معاصر تاریخ به یې راتلونکو نسلونو او پیړیو ته د صبر، استقامت او میړانې د یو سمبول په بڼه ور وپیژني.

ایوان ریډلي Yvonne Ridley برتانوي محققې ژورنالیستې لومړی ځل د عافیې صدیقې خور ځای یې معلوم کړ او نوموړې یې د نړۍ تر ټولو مظلومه ښځه وبلله؛ ایوان ریډلي عافیه صدیقه د بګرام زندان په 650 نومي زنداني په توګه وموندله.

د امریکا جاسوسي فدرالي اداره FBI وایي:

چې عافیې صدیقې او خاوند یې جهادي تنظیمونو ته چندې راټولولې، د انټرنټ له لارې به یې د مرمۍ ضد واسکټونه چې د یوه قیمت به تر 10000 امریکایي ډالرو وه اخیستل، تر څنګ به یې د پوځي چارو کتابونه او شپنې دوربینان هم پیرل.

پر عافیې صدیقي خور دا تورونه هم شته چې قیمتي آثار به یې پلورل او عاید به یې د القاعدې مجاهدینو ته استولو، تر څنګ د ۱۱ د سپټمبر د بریدونو د طراح او ګوانتانامو زنداني شیخ خالد محمد فک الله اسره سره یې نژدې اړیکې او روابط وه.

مګر دا تورونه مکمل دروغ او د CIA په لاس جوړ شوي دي چې یو تور هم تر نننه نه دي پرې ثابت شوي.

په پاکستان کې له نیول کېدو وروسته عافیه خور افغانستان ته را منتقل کړای شوه، ډاکټر کلایف ستیف سمیټ چې د عافیې صدیقې مداع وکیل دی وایي، چې ماته په غزني کې د پینبې یو عیني شاهد وویل چې امریکایانو عافیه صدیقي خور له پاکستانه څخه دلته غزني ته راوسته نو دلته د خالد بن ولید په مسجد کې یې کنبنولې وه او همدلته یې ورته د پاتې کېدو په پار دا د دروغو وعده ورکړې وه چې دلته ستا تبنتول شوې لور درته بېرته سپارو او بېرته دې پاکستان ته خپل کور ته لیږو؛ نو ته پدې مسجد کې انتظار وکړه، مګر امریکایي استخباراتو پلان داسې وه چې ډاکټر عافیې صدیقي خور ته د چاودیدونکو توکو واسکټ ورواغوندي او پدې شکل یې ګرفتاره کړي او یا یې شهیده کړي تر څو دوی د ځان لپاره دلیل جوړ کړي، بل دا چې په همدې مسجد کې امریکا د عافیې صدیقي خور زوی احمد ته یو داسې واسکټ په تن کړی وه چې ډیر جیبونه یې لرل او په جیبونو کې میوې ور اچولې وې تر څو ډک معلوم شي او دوی د ځانمرګي د تمثیل په توګه استفاده ترې وکړي، تر څو خلک پولیسو ته زنګ وکړي او ورته ووایي چې پدې مسجد کې یوه ښځه او یو ماشوم چې دواړه ځانمرګي دي موجود دي؛ راشی ویې نیسئ او پدې توګه به دوی عافیه ونیسي؛ او د دې پلان تر شا ستر لاس د CIA تر څنګ د پاکستان د استخباراتو وه.

لومړیو کې د دوی پلان دا وه چې عافیه په همدې مسجد کې له خپل زوی سره یو ځای شهیدان کړي، مګر د یو خیاط چې محمدي نومیده او په اردو ژبه پوهېده یې الله تعالی د ژغورلو وسیله وګرځوله؛ پولیس چې راغلل نو محمدي له عافیې سره خبرې وکړې او پولیس یې په اصل موضوع وپوهول هماغه وه چې عافیه او زوی یې له مرګ وژغورل شول.

کله چې دا پلان هم ناکام شو نو امریکایي استخباراتو ادعا وکړه چې عافیې له یو امریکایي څخه M4 واخیست او د هغه د ویشتلو کوشش یې وکړ او په دیوال کې دوه سوري د دلیل په توګه وړاندې کول په داسې حال کې چې شواهدو او ویډیوګانو وښودله چې په دېوال کې دا سوري دلته د عافیې له راوستو ډیر مخکې هم موجود وه؛ دا دروغ لکه لمر داسې روښانه وه مګر همدا دروغ 86 کاله د ډاکټر عافیې صدیقي خور د بند لامل وګرزېدل.

په داسې حال کې چې همدلته یو وحشي امریکایي بې وسلې، مظلومه، اسیره او بې اسرې عافیه صدیقي په M4 په نس وویشتله او د خپل دې جرم پټولو لپاره یې پورتنی جوړه کړای شوې دروغ کیسه د ثبوت لپاره وړاندې کوله؛ پر افغانستان د امریکایي یرغل په موده کې دا یو معمول ګرځېدلی وه چې افغانستان کې به یو امریکایي به کوم بې ګناه افغان شهید کړ نو به یې د خپل جرم پټولو لپاره داسې جعلي کیسه جوړه کړه چې ګواکې نوموړي د امریکایانو د ویشتلو هڅه کوله نو موږ وار پرې رومبی کړ.

ډاکټر عافیه صدیقي خور بیا له غزني څخه باګرام ته راوړل شوه او دلته پرې د شکنجو یوه توره او وحشتناکه دوره پیل شوه، د عافیې د نیول کېدو په وخت کې د هغې 6 کلن زوی احمد هم ورسره افغانستان ته راوړل شو، همدلته یو زندان کې وساتل شو، نوم یې هم ورته بدل کړای شو او احسان علي یې پرې کېښود، نوموړي پنځه کاله دلته په یو نا معلوم زندان کې تېر کړل.

بله لور يې مريم هم افغانستان ته راوړه او په زور او جبر سره يې يوې سپين پوستې عيسوی امريکايي کورنۍ ته وسپارله، او مريم اووه کاله لدې کورنۍ سره چې دوه تنه د امريکا د CIA اجنټان وه په شنه کلي کې تېر کړل، او بيا د حامد کرزي په مرسته بېرته کراچی ته رامنتقل کړای شوه.

همدارنګه په ګوانتانامو کې امريکايانو په 2003م د مارچ په درېيمه خالد شيخ محمد فک الله اسره ته ډيرې شديدې شکنجې ورکړې، او د water bolding په ذريعه يې شکنجه کاوه چې پر نهو تنو دروغجن تورونه ولګوي چې د هغو له جملې څخه يوه هم عافيه صديقه خور وه، اوس له هغو نهو تنو څخه تنها عافيه په زندان کې پاتې او نور آزاد شوي دي.

عافيې صديقي خور ډيره ژوره صدمه ليدلې ده، ډيره نارامه ده، هغې سره د خپلو ماشومانو اړوند خبرې کول ډيره سخته ده، هغه د خپلو ماشومانو په غم کې ده.

يوه مظلومه او معصومه خورکۍ دوه لسيزې کېږي چې د وحشي صفته درنده ګانو په زندانونو کې د مظلوميت شپې سبا کوي.

زموږ دا پتمنه خور نن د دنيا په تر ټولو خطرناک او وحشي زندان کې اچول شوې، صليبي داړه ماران پرې جنسي تيري کوي، هغه د عفت او حياء نمونه نن پخپله خپله کې صليبي نطفې ساتي.

شل کاله مسلسل تعزيېږي، غاښونه يې پرې مات کړي دي، يو غوږ يې د اوريدو له توانه لويدلی دی، تر دې چې يو ځل پرې يوه وحشي صليبي ګرمه قهوه پر مخ ور شيندلې وه چې نژدې وه رنده شي او مخ يې مکمل ورته سوځولی وه، د سترګو ديد يې کمزوری شوی ده، هغه حسينه، پاکدامنه، ميرنۍ او د اسلام اصيله لور نن داسې غمونو او تورتمونو خورلې چې انګيرل کېږي زرګونه کلونه پرې تېر شوي دی.

شل کاله يې له هېڅ خپلوان سره ليدلو ته نه وه پرېښودل شوې، او په يوه داسې خونه کې ساتل کيده/ کېږي چې کلونه کلونه يې لمر نه وه ليدلای.

احمد زوی يې هم پنځه کاله زنداني کړای شو، مريم يې امريکا ته په ليږلو يوې عيسوی کورنۍ ته وسپارله تر څو يې فکر، عقيده او ايمان هم ترې سلب او له اسلام ليرې په يوه غربي ټولنه کې را ستره شي.

عافيې خور ته به تر ډېلو شيشو هاخوا چې نوموړې به يې نداره کوله ځينو ماشومانو ته تعذيب ورکول کيده، بيا به يې ورته ويل چې عافيې دا ستا اولادونه دي تر څو روحي تعذيب شي.

عافيه په يو داسې زندان کې اچول شوې چې هلته هيڅ د انسانيت په نوم څه شتون نلري او دا د نړۍ تر ټولو خطرناک زندان تګزاس ايالت فورډ ورډ زندان FMC خونه ده. د باګرام او صليب په کرغيړنو زندانونو کې يې چيغو او کريکو د رب عرش ولړزاوه، مګر د دوه ميلياردە امت ضميرونه هماسې ويده او مړه دي. ډاکتر کلايف ستيف سميټ چې له کلونو راهيسې د ډاکتر عافيې صديقي مدافع وکيل دی پر اړه يې وايي:

«ما عافية صديقي د ټکزاس په زندان کې ليدلې ده چې د فورډ ورډ په زندان کې ده، دا په امريکا کې تر ټولو بد زندان دی، ما د نړۍ ډير زندانونه ليدلي مګر دا تر ټولو وحشي بد او ناوړه زندان دی، عافيه لا هم شکايت کوي چې پر هغې د انسانيت په جامه کې وحشي درنده ګان جنسي تيری کوي، هغه نه پرېښودل کېږي چې له چا سره ووينې او خبرې ورسره وکړي، هغه هيڅ روحي آرامتيا نلري، آن تر دې چې ډاکتر ته هم نه پرېښودل کېږي. په 2008 م کال کې د CIA لخوا د ډاکتر عافيې صديقي د شهيدانولو هڅه هم شوې وه. عافيه صديقي په سخت ډول شکنجه شوې ده، د هغې اولادونه تښتول شوي دي، لسيزې په بند کې پاتې شوې ده، امريکا يوه دا ادعا کوي چې عافيه په غربي افريقا کې د القاعدې د يوې دسيسې برخه وه او له هغوی سره يې مرسته کوله مګر په هغه وخت کې عافيه د بوسټن ښار په يو روغتون کې تر تداوی لاندې وه او دا د عافيې د نيولو دليل وه د امريکا او CIA لپاره. ما په ګوانتانامو کې د 81 بنديانو وکالت او استازولي کړې مګر پر يوه هم امريکايانو جرم ندی ثابت کړی بې له محاکمې پکې بند وه او د دوی د نيولو لپاره چې کوم شواهد وړاندې شوي وه ټول دروغ وه، نو عافيه صديقي هم د همداسې غلطو معلوماتو ښکار شوې ده، او زه اوس د نوموړې پر ضد د استخباراتو ادعاوې دروغ ثابتولای شم. CIA فکر کوي چې دوی له د عافيې په تعذيب او بنه دي کولو سره له مسلمانانو او مجاهدينو غچ اخلي؛ پاکستان د عافيې په قضيه کې ژور لاس لرلو،

همدوی عافیه پر CIA وپلورله، د پاکستان حکومت یو بې کاره او چټل حکومت دی، دلته افغانستان کې ستاسو حکومت له ما سره ډیر کمک کوي تر څو د امت د یوې خور لپاره عدالت ښکاره کړم، مګر پاکستان داسې ندی په داسې حال کې چې عافیه د دوی تبعه ده، او د ملت د لور خطاب هم ورته کوي، نه یوازې چې د خلاصون لپاره یې هڅه نکوي بلکې ډیر کوښښ کوي چې زما پر وړاندې خنډونه جوړ کړي، پاکستان حکومت نه غواړي چې عافیه خور له زندانه خوشې کړای شي او د دوی اصلي او بدنامه څېره دې نړۍ ووینې.»

ډاکتر سمیټ زیاتوي چې:

«له ما له عافیې صدیقي سره اته ځلې لیدنه کړې ده؛ هغه یوه ډیره هوښیاره ښځه ده، ډیره تکړه ښځه ده، مګر هغه بیخي زیاته شکنجه شوې او ناوړه چلند ورسره شوی دی، هغه باید په داسې ځای کې وای چې مینه او مرسته یې تر لاسه کولای شوای، هغه اوس هم په زندان کې له هغه چا سره ده چې نومورې یې سخته شکنجه کړې ده، هغه خورا زړوره ده، هغه پر خپل ایمان کلکه ولاړه ده، هغه په بشپړ ډول خپلې عقیدې ته وقف ده.»

د عافیې د وامعتصماا چیغې د ذوالجلال عرش ته پورته شوې مګر په دومره ستر اسلامي امت کې چا وانه وریدې. عافیه د اسلام او مسلمانانو سره د مرستې او نصرت په تور ونیول شوه، مګر موږ هېره کړه او د صلیب وحشتونو ته مو تنها پرېښوده. عافیې په تنهایۍ پر ټول اسلامي امت ننګه وکړه مګر ټول امت پر عافیې ننګه ونشوای کړای. عافیې هره ورځ او هره شپه پدې امید او طمعه سبا کوله چې تر شا مې ستر مسلمان ملتونه دي حتما به مې د وحشت لدې جزیرې باسې، لدې څخه ناخبره چې همدې ملتونو خپله باعفته خور هېره کړې ده.

که چیرې د اسلام معاصر تاریخ د عافیې صدیقې خور پر صبر، استقامت او میړانه ولیکل شي هم به کافي وي. شل کلن زندان، شکنجو، تیریو، ځوروونو، ډار، زولنو او تورو تمبو د عافیې پر ایمان عقیده ذره منفي تأثیر هم ندی کړی، پر ذوالجلال یې باور او عقیده له پخوا هم څو چنده زیاته شوې ده.

ډاکتر عافیې صدیقې د غرب او د ښځو د حقوقو د دعوه دارانو اصلي څېره نړۍ ته وښوده، د هیومنیزم او آزادۍ درواغجن دجالي اصطلاحات یې وژباړل، د بشریت په جامه کې پټ لیوان یې بربنډ کړل. عافیه یو فکر ده، عافیه یو تاریخ دی هغه تاریخ چې صبر او د استقامت پر عنوانونو لیکل کیږي. رب دې پخپل فضل، کرم او مرحمت د وحشت لدې تورې جزیرې راوباسه خورکۍ! موږ وښښه زمونږ پتمنې او باعفته خورې!

څرنګه یې نصرت وکړو؟!

د کفر، طاغوت او صهیو صلیبي ډارې مارانو په زندانونو کې زمونږ د سلګونو او زرګونو خویندو د خلاصون لار یوازې او یوازې له جهاد او استشهاد څخه تېره شوې ده.

د یهودي پوځي شالیط اختطاف:

د کتائب الشهید عزالدین القسام تعروضي کنډکونو په 2006م کال د جون په 25 سهار 5:30 بجې شالیط له اشغال شوي فلسطین د کرم ابو سلام له ساحې راوتښتاوه، تر څنګ یې د برید پر مهال د ټانک قوماندان لیفټنانټ حنان بارک او بل پوځي پاول سلوټسکر هم ځای پر ځای مردار کړل؛ دا بریالي عملیات د 300 متره تونل په توسط چې له غزې اشغالي فلسطین طرف کیندل شوی وه تر سره شول، صهیونیستي یرغلګرو سمدلاسه د هغه د ښېرته ترلاسه کولو هڅه وکړه، خو بریالي نه شول؛ شالیط د ۱۹۴۱ ورځو لپاره د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر تر ۱۸ نېټې په غزة کې په یوه نامعلوم ځای کې بنه دي وساتل شو چې د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په ۱۸ نېټه، د مصر په منځګړیتوب د بندیانو د تبادلې ترون پر بنسټ خوشې شو؛ او په بدل کې مجاهدینو خپل ۱,۰۲۷ فلسطیني بندیان ورونه مو ورځخه راخوشې کړل او د دوی د غرور پزه په خاورو ومښله؛ چې د دې بندیانو په جمله کې یو هم د طوفان الأقصی د یهود نړونکو عملیاتو طراح شهید ابو ابراهیم یحیی سنوار رحمه الله هم شامل وه چې هسکه غړۍ راخلاص شو.

دوهم مثال د طوفان الاقصی د عملیاتو د پر لاره اچولو له اهدافو څخه یو هدف همدا وه تر څو په صهیونیستي زندانونو کې د لسیزو بند مسلمان ورونه مو راخلاص کړي، چې دا هدف په پوره بریالیتوب سره تحقق ومونده، مجاهدینو د طوفان الأقصی د مبارکو عملیاتو په لومړۍ ورځ 251 تنه ژوندي یهود له اشغالي سیمو څخه له ځانه سره غزې ته د بندیانو په توګه راوستل او خپلو نه تسخیریدونکو تونلونو ته یې ننویستل،

صهيوني رژيم د غزې ريګونه څو ځلې واړول راواړول، تيره تيره يې پسې وپلټله، ونې يې له بيخه وويستې، په لسګونو زره بې ګناه مسلمانان، ښځې، ماشومان او بوډاګان يې شهيدان کړل، يوه داسې نسل وژنه يې تر سره کړه چې انسانان، حيوانات، کورونه، ونې، تيږې او هيڅ شی ورځخه په امن پاتې نشو مګر خپل يو بندي يې هم نه ژوندی او نه هم مردار وموند. او د همدې بنديانو پر مټ حماس خپل 4100 تنه بنديان د الله تعالی په نصرت او د خپلو مجاهدينو د معجزانه کارنامو، ايثار او استشهاد پر مټ را خوشې کړل.

همدارنګه زمونږ پر وړاندې يو بل ژوندی مثال هم شته چې هغه د اسلامي امارت د زړورو او استشهادي مجاهدينو په توسط د بوی برګدال (Bowe Bergdahl) امريکايي تښتونه وه چې په توسط يې د اسلامي امارت کليدي مشران هر يو ملامحمد فاضل مظلوم چې اوس د اسلامي امارت د هوانوردی او ترانسپورت وزير دی، ملا خيرالله خيرخوا چې د اطلاعات او کلتور وزير و، مولوي عبدالحق وثيق د استخباراتو عمومي رئيس، ملا نورالله نوري د سرحداتو او قبائلو وزير، مولوي محمد نبي عمري د ګوانتانامو له کرغيړن زندان څخه را خلاص کړل.

همدارنګه په 2019 م کال د دوه تنو هر يو امريکايي کيوين کينګ او يوه استراليايي تيموتي ويکس په بدل کې د انس حقاني او حاجي مالي خان را آزادول.

پدې مثالونو کې د بصيرت څښتنانو لپاره ژونه دي درسونه خونه دي دي، چې څرنګه د عافيې او د عافيې پر ځير د خپلو زرګونو خويندو نصرت وکړو. د ډاکتر عافيې صديقي، د يهودو، طواغيتو او صليبيانو په زندانونو کې مو د زرګونو خويندو او لسګونو زره مؤمنو ورونو را خلاصون زما مسؤليت دی، ستا مسؤليت دی، د هر مسلمان او حر مؤمن مسؤليت دی.

****

د ابدي ژوندي (شهيد استاد مولوي عبد السلام رحمه الله) پاتې برخه


کونوا مثلنا.. يعنی لکه دا مور داسې شئ، چې د ا قول به صحابه کرامو د نياو الو ته کاوو. د هيواد نوميالی عالم شيخ الحديث و التفسير مولوي عبدالحکيم صاحب د شهيد شيخ عبدالسلام صاحب په اړه وايي :

«حضرت شيخ الحديث شهيد عبدالسلام صاحب مرحوم ډير عابد او متقي شخص و، زمور سره په ډيرو سفرونو کې ملګری شوی و، د نوموړي يوه خاصه دا وه چې هرځومره سترپا به وه د تهجد لمونځ يې نه پريښود.»

علمي استعداد يې دومره قوي و، چې کله به د يوې مسئلې ذکر وشو يا به د کوم حديث شريف پوښتنه وشوه، نو ده به د کتاب له ذکر سره د هغه حواله ورکړه، په فقهي مسائلو کې ډير محتاط و همېشه يې په معتبرو کتابونو حواله ورکوله، د اخلاقو او تواضع يې دا حال و چې يو وخت په سفر کې سره ملګري و، ملګرو خوراک تياراوو، نو شيخ صاحب په خپله د اور په بلولو او خدمت باندې اخته و. د نوموړي اخلاق د اسلامي اخلاقو يوه نمونه وه، د خوشطبعی يو ځانګړی مزاج يې درلود چې هيڅوک نه ورسره تنګيدل، د ملګرو د طبيعت د راستګي لپاره به يې ډير خوږ مجلس کاوو، له کشر او مشر سره به يې د هغوی د مرتبې په مناسب انداز خبرې کولې. شيخ صاحب يو دلاوره او جرأتمند سړی وه، ما هيڅکله د وهم او ويرې خبره نه ده ځيني اوريدلې، د مجاهدينو سره يې ځانګړی محبت درلود، همېشه يې له مجاهدينو سره ليدل کتل، ښې ښې توصيې يې ورته کولې او د هغوی پوښتنې يې په ډير ښه انداز په سړه سينه ځوابولې. د شهيد شيخ صاحب په اړه د څو تنو علماء کرامو تأثرات مو د نمونې په حيث را واخيستل، د شيخ صاحب په اړه هرچا چې ليدلی همداسې نيک تأثرات لري، نوموړي ته الله تعالی خورا ښه اخلاق او ستر علمي استعداد ورکړی و، الله تعالی ته خواست کوو چې د ده برکات يې په زامنو او شاګردانو کيږدي او د علم خير دې يې الله تعالی همداسې جاري ولري.

آمين يارب العلمين

****



له لومړۍ قبلې سره د خیانت داستان

سعودي عربستان

یادونه: دا له ټولنیزو رسنیو څخه اخیستل شوې یوه مستعاره لیکنه ده چې د بت شکن اداري پالیسیو ته په کتلو سره ژباړه او نشرېږي.

لیکوال: نعمان حجازي
ژباړن: مولوي حـــسان

له لومړي قبلې سره د خیانت د داستان په هغو کردارونو کې چې نن یې هم خپل مخونه په بېلابېلو نقابونو پټ کړي او ناست دي او مسلمه امت په پرله پسې ډول په دوکه کې ساتي، په هغوی کې ښایي تر ټولو زیات فریبي کردار پخپله ځان ته د «خادم الحرمین الشریفین» ویونکي سعودي عربستان واکمنان وي. د هغوی د همدغه لقب له امله په ټول مسلمه امت کې له پیله د دغو واکمنو په اړه عقیدت او احترام موجود پاتې شوی دی. که څه هم د ولیعهد محمد بن سلمان د «کارنامو» له امله په دې عقیدت کې اوس تر ډېره حده کموالی راغلی دی خو نن هم سعودي عربستان ته په ټوله اسلامي نړۍ کې څرګند اهمیت او مقام حاصل دی.

همدا علت دی چې د اسرائیلو او سعودي عربستان اړیکې هم تر ټولو زیاتې پېچلې دي او د اسرائیلو په اړه د سعودي د واکمنانو دوه ګونی چلند په واضح ډول تر سترګو کېږي. له یوې خوا خو د سعودي واکمنان د اسرائیلو پر ضد سختې اعلامیې ورکوي او تر نن ورځې پورې یې د اسرائیلي ریاست رسمي حیثیت نه دی منلی، خو له بلې خوا د سعودي عربستان له قیام څخه نیولې تر نن ورځې پورې، هېڅکله د اسرائیلو او سعودي عربستان ترمنځ کوم عسکري ټکر یا نښته نه ده پېښه شوې او دا مخالفت او دښمني تل یوازې تر اعلامیو او تقریرونو پورې محدوده پاتې شوې ده.

د لېوالتیا خبره دا ده چې سعودي عربستان څو ځله د اسرائیلو او عربي هېوادونو ترمنځ د سولې د قائمولو، د اړیکو د ښه کولو او د ځینو ځانګړو شرایطو په بدل کې د اسرائیلي ریاست د تسلیمولو (په رسمیت پېژندلو) لپاره د پام وړ هڅې کړې دي. په ډېرو ځایونو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډو ګټو او ګواښونو په پام کې نیولو سره خاموشه همغږي، پټې اړیکې او استخباراتي همکاري مخې ته راغلې ده.

په پایله کې، د اسرائیلو او سعودي عربستان اړیکې نن د یو ځانګړي ډول درلودونکې دي. په ظاهره دښمني او سخت بیانات تر سترګو کېږي، خو د پردې تر شا ګډې ګټې، استخباراتي همکاري، پټې اړیکې او د حکمتِ عملي همغږي روانه ده، تر دې چې دا واکمنان د موقع په راتلو سره د فلسطین د مسئلې په شا کې د خنجر له وهلو څخه هم ونه شرمېدل. دا کیسه د «خادمین الحرمین الشریفین» په ښایسته پردو کې د پټو همدغو بدرنګه خائنینو ده.

عبدالعزیز بن عبد الرحمن آل سعود (ابن سعود)

د نجد امیر او د دارین ټرون

د لومړۍ نړیوالې جګړې په جریان کې کله چې د مکې شریف او د حجاز امیر حسین بن علي د ځواک او واک په هوس کې د بریتانیا ملاتړ وکړ او په ټوله عربي سیمه کې یې د عثماني خلافت پر وړاندې د بغاوت پیل وکړ، نو په هغه وخت کې د نجد پر سیمه باندې د آل سعود کورنۍ واکمني وه او د هغې واکمن عبدالعزیز آل سعود و چې د «ابن سعود» په نوم پېژندل کېده. پر نجد او د هغه پر شاوخوا سیمو باندې د آل رشید کورنۍ هم دعوه درلوده چې د عثماني خلافت ملګری (حلیف) و او عثماني خلافت د آل سعود کورنۍ پر وړاندې د آل رشید مرسته کوله. همدا علت و چې په ۱۹۱۵ میلادي کال کې د نجد واکمن ابن سعود د عثماني خلافت پر وړاندې له بریتانیا سره ټرون وکړ. دغه ټرون ته د دارین ټرون ویل کېږي.

د دغه ټرون له مخې ابن سعود د نجد په ګډون تر خپلې ولکې لاندې ټوله سیمه په عملي توګه د بریتانیا تر تسلط لاندې کړه. بریتانیا د ابن

سعود لپاره میاشتنی پنځه زره پونډه[1] وظیفه وټاکله. د ټرون نور شرایط کټ مټ داسې وو لکه له نورو عربي قبایلو سره چې د ټرونونو وو؛ یعنې دا واکمن د بریتانیا له اجازې پرته نه د خپلې ځمکې په ټراو له کوم بهرني لوري سره معامله کولای شي او نه هم د بریتانیا له اجازې پرته له کوم بهرني لوري سره د هر ډول ټرون حق لري. په بدل کې بریتانیا د «بهرني دښمن» پر وړاندې د آل سعود خوندیتوب کاوه.

د دغه ټرون له مخې بریتانیا د آل سعود تر ولکې لاندې ټوله سیمه د آل سعود «پلرنۍ سیمه» وبلله او دا یې هم وټاکله چې د دې سیمې حکومت به په راتلونکي کې تل د همدې کورنۍ په لاس کې وي. په بدل کې بریتانیا له ابن سعود څخه وغوښتل چې د عثماني خلافت د ملګري (حلیف) آل رشید پر وړاندې جګړه بیا پیل کړي او د دغه هدف لپاره یې ورته شل زره پونډه پور، ځلور ماشینګنونه او درې زره رایفلونه هم ورکړل. تر ۱۹۲۲ میلادي کال پورې ابن سعود د آل رشید ټولې سیمې ونیولې او د هغوی د جبل شمر امارت ته یې د پای ټکی کېښود.

پر حجاز باندې ولکه

بریتانیا له یوې خوا د نجد د امیر ابن سعود ملاتړ کاوه او له بلې خوا یې د حجاز د پاچا حسین بن علي هم ملاتړ کاوه، خو حسین بن علي د ټول عربستان د پاچا کېدو خوبونه لیدل او دا ګمان یې کاوه چې بریتانیا به له ده سره په دې کار کې مرسته وکړي، خو بریتانیا د بالفور او سایکس پیکو ټرونونو له لارې د حسین بن علي پر هیلو اوبه واړولې چې له املې یې د ده او بریتانیا اړیکې خرابې شوې. همدا علت و چې کله په ۱۹۲۵ میلادي کال کې ابن سعود پر مکه ولکه ټینګه کړه، نو د بریتانیا بشپړ ملاتړ ورسره و. د ۱۹۲۶ میلادي کال د جنورۍ پر ۸مه نېټه د مکې، مدینې او جدې مخکښو مشرانو ابن سعود د «حجاز پاچا» اعلان کړ او په مسجد حرام کې یې د هغه پر لاس بیعت وکړ.

د جدې ټرون او د سعودي عربستان قیام

د ۱۹۲۷ میلادي کال د می پر ۲۰مه نېټه بریتانیا له ابن سعود سره د «جدې ټرون» لاسلیک کړ، چې په پایله کې یې بریتانیا د حجاز او نجد په ګډون د ابن سعود تر ولکې لاندې پر ټولو سیمو د هغه حکومت په رسمیت وپېژانده؛ بلخوا ابن سعود د بریتانیا له لوري کښل شوې سرحدي پولې او د دغو پولو هاخوا سیمو (عراق او کویټ) باندې د برتانیا تسلط ومانه. د دغه ټرون په لاسلیک کېدو سره د دارین ټرون پای ته ورسېد.

د ۱۹۳۲ میلادي کال د سپتمبر پر ۲۳مه نېټه ابن سعود د نجد او حجاز پاچاهۍ سره یوځای کړې او د سعودي عربستان د واکمنۍ اعلان یې وکړ او ځان یې د سعودي عربستان لومړی پاچا وټاکه.

په فلسطین کې د بریتانیا پر وړاندې د بغاوت په درولو کې رول

د بریتانیا تر تسلط لاندې فلسطین کې د ۱۹۳٦ میلادي کال په اپریل میاشت کې د برتانوي حکومت له لوري د خورا زیات شمیر یهودانو د راوستلو له امله، فلسطینیانو د برتانوي حکومت پر وړاندې د یو خوځښت پیل وکړ. د دغه خوځښت غوښتنه دا وه چې فلسطین ته د یهودانو د هجرت مخه ونیول شي، پر صهیونیستي سازمانونو د ځمکو پر پلورلو بندیز ولګول شي او د فلسطین د ازادۍ اعلان وشي.

د ۱۹۳٦ میلادي کال په اکتوبر میاشت کې د بریتانیا په غوښتنه، عبدالعزیز ابن سعود له نورو عربي مشرانو سره یوځای له فلسطیني مشرتابه څخه وغوښتل چې دغه بغاوت پای ته ورسوي او پر «برتانوي حکومت اعتماد» وکړي چې دا ستونزه هواره کړي. د ابن سعود د دیني هویت او د مکې او مدینې د واکمن کېدو له امله، فلسطیني مشرتابه هغه ته د درناوي په سترګه کتل، چې له همدې امله هغوی د ابن سعود خبره ومنله او خپل خوځښت یې پای ته ورساوه.

د پیل کمیسیون پر سپارښتنو باندې غبرګون

په ځواب کې، بریتانیا د موضوع د هواري لپاره د لارډ پیل په مشرۍ «پیل کمیسیون» قائم کړ، چې د ۱۹۳۷ میلادي کال په جولای میاشت کې یې خپلې سپارښتنې وړاندې کړې. په دغو سپارښتنو کې د لومړي ځل لپاره د فلسطین د ځمکې د وېشلو او هلته د یوه یهودي ریاست د قائمولو وړاندیز وشو. ابن سعود د فلسطین پر خاوره د یهودي ریاست پر قائمېدو هیڅ اعتراض نه درلود، بلکې د هغه اعتراض یوازې د فلسطین د پاتې برخې د حسین بن علي د زوی عبدالله بن حسین تر ولکې لاندې ورکولو باندې و.

سعود بن عبدالعزیز آل سعود

[1] دا مبلغ نن سبا نږدې اته لکه امریکایي ډالره میاشتنۍ کیږي.

په لومړۍ عرب - اسرائیل جګړه کې رول

په ۱۹۴۵ میلادي کال کې ابن سعود خپل زوی سعود بن عبدالعزیز ولیعهد وټاکه او د حکومت ډېری واکونه یې هغه ته وسپارل. د ۱۹۴۸ میلادي کال په لومړۍ عرب - اسرائیل جګړه کې سعودي عربستان د مصر له پوځ سره د اسرائیلو پر وړاندې د جنګېدو لپاره خپل نړدې زر کسان ولېږل، چې په هغو کې ډېری رضاکاران وو. دا په جګړه کې د سعودي عربستان یوازې یو نمایشي او علامتي ګډون و او دغو کسانو په جګړه کې په عملي توګه هېڅ برخه وانخیسته. د دغو کسانو له لېږلو پرته، سعودي عربستان په جګړه کې بل هېڅ ډول ګډون ونه کړ. خو د عربي اتحادیې (عرب لیګ) له لوري د اسرائیلو پر وړاندې په لګول شوي بشپړ بایکاټ کې سعودي عربستان هم شامل شو، چې له هغه وروسته که څه هم دا بایکاټ تر لسېزو پورې دوام درلود، خو چېرته چې مشترکې ګټې مخې ته راغلې، نو د هغو د ترلاسه کولو لپاره پټه همکاري خامخا موجوده وه.

د یمن په جګړه کې همکاري

په ۱۹۵۳ میلادي کال کې د شاه عبدالعزیز ابن سعود له مړینې وروسته د هغه زوی سعود بن عبدالعزیز د سعودي عربستان پاچا شو. دا هغه دوره وه چې د جمال عبدالناصر د عربي ملتپالنې (عرب قوم پرستۍ) بیانیه په خپل اوج کې وه او ټوله عربي سیمه یې اغېزمنه کوله. جمال عبدالناصر د سعودي عربستان آل سعود او د اردن آل هاشمي دواړو د خپل اقتدار لپاره یو ګواښ ګانه، له همدې امله دغه ګډ ګواښ د دغو دواړو واکمنو کورنیو پخوانۍ دښمني پای ته ورسوله. په ۱۹۶۲ میلادي کال کې مصر په یمن کې د پوځي کودتا ملاتړ وکړ، چې د یمن حکومت یې راوپرځاوه او هلته یې د جمهوریت اعلان وکړ. سعودي واکمنۍ د دغې کودتا پر وړاندې د یمن له د شاهي نظام سره همکاري پیل کړه. څرنګه چې جمال عبدالناصر د اسرائیلو لپاره هم یو ګواښ و، نو په یمن کې د هغه تر ملاتړ لاندې حکومت اسرائیلو ته هم د منلو وړ نه و، ځکه نو هغوی هم د یمن له شاهي نظام سره همکاري پیل کړه. په دې توګه د سعودي واکمنۍ او اسرائیلو د ګډو ګټو په پام کې نیولو سره، سعودي په پټه او بې له اعلانه خپله هوایي فضا د اسرائیلي الوتکو پر مخ پرانیسته، چې د هغې له لارې اسرائیلو د یمن شاهي نظام ته وسلې او نور مرستندویه توکي رسول.

فیصل بن عبدالعزیز آل سعود

په یمن کې روانې مشترکې ګټې

په ۱۹۶۴ میلادي کال کې د شاه سعود ورور فیصل بن عبدالعزیز د هغه حکومت راوپرځاوه او په خپله یې واکمني په لاس کې ونیوله. شاه فیصل په ټوله اسلامي نړۍ کې د سعودي عربستان تر ټولو مقبول او نامتو واکمن پاتې شوی دی، ځکه چې هغه د جمال عبدالناصر د عربي ملتپالنې پر وړاندې د اسلامي وحدت شعار پورته کړ. خو د نورو ټولو عربي واکمنانو په څېر، د شاه فیصل معامله هم کټ مټ داسې وه چې کله له دوو دښمنانو څخه د یوه پر وړاندې له بل سره د همکارۍ خبره راغله، نو د نورو ټولو عربي واکمنانو په شان شاه فیصل هم له اسرائیلو سره د همکارۍ لاره غوره کړه؛ که څه هم هغه بل لوری مسلمان هم و.

دا معامله په یمن کې د روانې کورنۍ جګړې په تړاو رامنځته شوه. د اسرائیلو له استخباراتي ریکارډونو څخه یو پټ راپور افشا شو چې له مخې یې په ۱۹۶۷ میلادي کال کې له عرب - اسرائیل جګړې څخه لږ وخت وړاندې، د بریتانیا د استخباراتو په همکارۍ د شاه فیصل، د اردن د شاه حسین او اسرائیلو ترمنځ یو پټ ټرون لاسلیک شوی و، چې په کې په یمن کې د مصري هوایي ځواکونو د الوتکو د رسېدو د مخنیوي لپاره د درېیو واړو هېوادونو ترمنځ پر همکارۍ هوکړه شوې وه.

د ۱۹۶۷ میلادي کال د عرب - اسرائیل جګړه او د خرطوم اعلامیه

په ۱۹۶۷ میلادي کال کې کله چې د عرب - اسرائیلو جګړه پیل شوه، نو دا ځل شاه فیصل حتی په نمایشي او علامتي ډول هم خپل هېڅ یو کس په جګړه کې د ګډون لپاره ونه لېږه او ځان یې له دغې جګړې څخه لرې وساته. له جګړې وروسته د ۱۹۶۷ میلادي کال په اګست میاشت کې د سوډان په خرطوم ښار کې د عربي اتحادیې غونډه وشوه، چې په کې د اسرائیلو د بایکاټ د لا سختولو ترڅنګ پر دې هم هوکړه وشوه چې نه به اسرائیل په رسمیت پېژندل کېږي او نه به ورسره هر ډول مذاکرات کېږي. شاه فیصل هم د دغې اعلامیې ملاتړ وکړ، خو ورسره جوخت یې خپل دغه نظر هم وړاندې کړ چې مستقیمې خبرې اترې دې نه کېږي خو په غیر مستقیم ډول د منځګړو له لارې دې د ډپلوماټیکو هڅو دروازې پرانیستې وساتل شي.

د اسرائیلو او سعودي عربستان غیر مستقیمه اقتصادي همکاري

د ۱۹۶۷ میلادي کال جګړه د سعودي عربستان او اسرائیلو ترمنځ د یوې غیر مستقیمې اقتصادي همکارۍ لامل هم شوه. د دغې جګړې په پایله کې اسرائیلو د جولان پر غونډیو ولکه ټینګه کړه. لبنان ته د سعودي

عربستان د تېلو د لېږد نل لیکه له همدې سیمې څخه تېرېدله چې اسرائیلو پرې ولکه کړې وه. اسرائیلو د امریکا په منځګړیتوب، لبنان ته د سعودي د تېلو لېږد ته دوام ورکړ او د خپلې ولکې لاندې سیمې څخه یې د دغه نل لیکې د تېرېدو اجازه بې له کوم مالي بدل ورکړه. تر دې چې د ۱۹۷۳ میلادي کال د عرب - اسرائیل جګړې په جریان کې هم دا لړۍ ونه درول شوه.

د ۱۹۷۳ میلادي کال د عرب - اسرائیل جګړه او د تېلو پر صادراتو بندیز

په ۱۹۷۰ میلادي کال کې د جمال عبدالناصر له مړینې وروسته، کله چې په مصر کې د انور سادات حکومت واک ته ورسېد، نو د سعودي عربستان او مصر اړیکې مخ پر ښه کېدو شوې او د هغوی ترمنځ همکاري زیاته شوه.

خو بیا هم د ۱۹۷۳ میلادي کال د عرب - اسرائیل جګړې په جریان کې شاه فیصل په جګړه کې یوازې دومره ګډون وکړ چې په اردن کې ګمارل شوي خپل زر پوځیان یې د جګړې په بالکل وروستیو ورځو کې له اردن څخه په شام کې وګمارل. د شاه فیصل له لوري همدا یوازې یو نمایشي ګډون و او دغو پوځیانو هم په جګړه کې هېڅ برخه وانخیسته.

خو له جګړې څخه سمدستي وروسته شاه فیصل تر یو بریده جدي ګام پورته کړ او پر امریکا او هالنډ باندې یې د تېلو د پلورلو بندیزونه ولګول. په دغو بندیزونو کې دغو دواړو هېوادونو ته د تېلو په صادراتو کې په میاشت کې پنځه سلنه کمی راوستل او د هر بیرل تېلو په بیه کې زیاتوالی راوستل شامل وو. وروسته دا بندیزونه زیات کړل شول او پر بریتانیا، پرتګال او سویلي افریقا هم ولګول شول. شاه فیصل اعلان وکړ چې دا بندیز به تر هغه وخته پورې نه لرې کېږي ترڅو چې دا درې شرایط پوره نه شي:

1. اسرائیل له ټولو نیول شویو سیمو څخه په بشپړه توګه وځي.
2. د فلسطینیانو د خپلواکۍ حق په نړیواله کچه په رسمیت وپېژندل شي.
3. پر بیت المقدس باندې د عربو حق په رسمیت وپېژندل شي.

د شاه فیصل دغه ګام په اسلامي نړۍ کې د هغه شهرت د اسمان هسکو ته ورساوه او هغه د مسلمه امت یو اتل تصور کېدل پیل شول او د هغه حیثیت د نورو عربي واکمنانو په منځ کې هم خورا پورته لاړ. که څه هم دا یو معمولي نمایشي بندیز و، چې حیثیت یې له یوې سیاسي تماشې څخه زیات نه و او یوازې د څلورو میاشتو له دوام وروسته، بې له دې چې یو شرط هم ومنل شي، پای ته ورسول شو.

د شاه فیصل وژنه

د ۱۹۷۵ میلادي کال د مارچ پر ۲۵مه نېټه د شاه فیصل وراره شهزاده فیصل بن مساعد شاه فیصل په ډزو وواژه. د شاه فیصل وژنه له ډېرو سازشي نظریو سره تړل کېږي او د هغه د وژنې تر شا د سي آی اې (CIA) او موساد د سازش د ثابتولو هڅه هم شوې ده؛ که څه هم له پېښو څخه ثابتېږي چې د هغه د وژنې لامل شخصي و او د هغه پر وړاندې د سي آی اې یا موساد د هر ډول احتمالي مداخلې په اړه په تېرو پنځوسو کلونو کې هېڅ دلیل مخې ته نه دی راغلی.

د شاه فیصل واک ته له رسېدو وروسته، هغه هېواد د ماډرن کېدو لور ته بوتلو چې په نورو اصلاحاتو سربېره په هېواد کې د ټلوېزیون پیلول هم په کې شامل وو. د هېواد په دیندارو کړیو کې تر ډېره بریده د دغه ګام سخت نقد وشو. د شاه فیصل د ورور، مساعد بن عبدالعزیز مشر زوی خالد بن مساعد هم د دغه پرېکړې خلاف و او هغه په ۱۹۶۵ میلادي کال کې د دغه اقدام پر وړاندې د احتجاج پر مهال پر یوه ټلوېزیوني سټېشن برید وکړ، چې هلته د امنیتي ساتونکو له لوري په ډزو ووژل شو. فیصل بن مساعد د خپل ورور د وژنې مستقیم مسئول شاه فیصل ګانه او له همدې امله یې پر شاه فیصل باندې قاتلانه برید وکړ.

فهد بن عبدالعزیز آل سعود

د نړیوالې سولې د کنفرانس لپاره هڅې

په ۱۹۷۵ میلادي کال کې د شاه فیصل له وژنې وروسته، واک د هغه ورور خالد بن عبدالعزیز ته انتقال شو؛ خو هغه د زړه ناروغي درلوده، ځکه نو د هغه په ټوله دوره کې واک په عملي توګه د هغه د ورور او ولیعهد شهزاده فهد بن عبدالعزیز په لاس کې و او هغه د اسرائیلو او عربي هېوادونو ترمنځ د اړیکو د ښه کولو لپاره د پام وړ هڅې وکړې.

د ۱۹۷۳ میلادي کال له عرب - اسرائیل جګړې وروسته، د اسرائیلو او عربي هېوادونو ترمنځ د سولې خبرې اترې د څو کلونو لپاره وځنډېدې. د ۱۹۷۷ میلادي کال په جنورۍ میاشت کې کله چې جیمي کارټر د امریکا ولسمشر شو، نو هغه د سولې د خبرو اترو د بیا پیلولو او د فلسطین د مسئلې د هواري لپاره د یوه نړیوال کنفرانس د رابللو هیله څرګنده کړه، چې په کې باید اسرائیلو، له عربي هېوادونو څخه مصر، شام او اردن، او له فلسطین څخه د فلسطین د مقاومت ائتلاف پي ایل او (PLO)، امریکا او ځینو اروپایي ځارونکو ګډون کړی وی.

خو د دغه کنفرانس لپاره هغه دا شرط کښښود چې لومړی دې اسرائیلي ریاست په رسمیت وپېژندل شي. په دې لړ کې تر ټولو لوی خنډ «پي ایل او» و چې د اسرائیلي ریاست په رسمیت پېژندلو ته چمتو نه و. جیمي کارټر په دې برخه کې د سعودي د واکمنانو خدمتونه ترلاسه کړل ترڅو هغوی «پي ایل او» راضي کړي.

سعودي عربستان د شاه فیصل له دورې څخه پخپله له «پي ایل او» او په ځانګړې توګه په هغې کې شاملې سیکولرې ډلې «الفتح» سره مالي مرستې کولې. شهزاده فهد له خپل دغه دریځ څخه په ګټې اخیستنې پر «پي ایل او» فشار راوړ ترڅو هغوی د ملګرو ملتونو د ۲۴۲ پرېکړه لیک په منلو سره، اسرائیل د یو ریاست په توګه په رسمیت وپېژني ترڅو په دغه نړیوال کنفرانس کې ګډون وکړای شي. خو د هغه له هڅو سره سره، «پي ایل او» د دغه غوښتنې له منلو څخه انکار وکړ، چې له امله یې دا کنفرانس رامنځته نه شو.

د مصر او اسرائیلو د سولې د خبرو اترو لپاره هڅې

که څه هم دا کنفرانس رامنځته نه شو، خو سعودي عربستان خپل د منځګړیتوب رول پای ته ونه رساوه او د عربي هېوادونو او اسرائیلو ترمنځ د سولې د خبرو اترو د بیا پیلولو لپاره یې خپلو ډیپلوماټیکو هڅو ته دوام ورکړ، چې په ۱۹۷۸ او ۱۹۷۹ میلادي کلونو کې یې د مصر او اسرائیلو ترمنځ د کیمپ ډیویډ تړونونو ته لاره هواره کړه، چې له هغه وروسته مصر له اسرائیلو سره د سولې تړون لاسلیک کړ او اسرائیل یې د یو ریاست په توګه په رسمیت وپېژانده.

شهزاده فهد د منځګړیتوب د دغې پروسې په جریان کې په مصر کې له انور سادات، په اسرائیلو کې له لومړي وزیر مېناخم بیګن او بهرنیو چارو وزیر موشې دیان او له امریکایي چارواکو سره په دوامداره اړیکه کې و.

د شهزاده فهد اته ټکي

د شاه فهد هڅې یوازې د کیمپ ډیویډ پر تړونونو پای ته ونه رسېدې. د ۱۹۸۱ میلادي کال په اګست میاشت کې په مراکش کې د عربي اتحادیې په غونډه کې شهزاده فهد د اسرائیلو او عربي هېوادونو ترمنځ د سولې د قائمولو لپاره اته شرایط وړاندې کړل:

- اسرائیل د ختیځ بیت المقدس په ګډون له هغو ټولو سیمو څخه په بشپړه توګه ووځي چې د ۱۹۶۷ میلادي کال په جګړه کې یې نیولې دي.
- له ۱۹۶۷ میلادي کال وروسته په نیول شویو سیمو کې چې هر ډول اسرائیلي مېشت ځایونه اباد شوي دي، هغه دې ختم کړل شي.
- په مقدسو ځایونو کې ټولو مذاهبو ته د عبادت د ازادۍ تضمین ورکړل شي.
- فلسطیني عربانو ته خپلو کورونو ته د ستنېدو ډاډ ورکړل شي.
- د اسرائیلو له وتلو وروسته دې په لوېدیځه غاړه او غزه کې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې یو موقت حکومت قائم شي چې موده یې له څو میاشتو څخه زیاته نه وي.
- یو خپلواک فلسطیني ریاست دې قائم شي چې پلازمېنه یې ختیځ بیت المقدس وي.
- د سیمې ټول ریاستونه باید وکولای شي په سوله کې ژوند وکړي.
- ملګري ملتونه یا د هغه غړي هېوادونه د دغو ټکو د پلي کېدو تضمین وکړي.

که څه هم دا ټکي په لومړي نظر کې خورا ښه او عملي ښکاري، خو د کرښو تر شا دوې خورا مهمې خبرې په دغو ټکو کې شتون لري.

تر ټولو لومړی دا چې د شېرم او اووم ټکي له مخې، اسرائیل به هم د یو روا او جایز ریاست په توګه په رسمیت وپېژندل شي او د فلسطین پر خاوره به دوه ریاستونه، فلسطین او اسرائیل وي. که څه هم د دوو ریاستونو د حل مفکوره له دې وړاندې شاه فیصل هم وړاندې کړې وه، خو دا لومړی ځل و چې چا په یوه رسمي فورم کې د دوو ریاستونو د حل وړاندیز وکړ.

دویمه مهمه خبره چې له لومړي او دویم ټکي څخه مخې ته راځي، هغه دا وړاندیز دی چې د ۱۹۶۷ میلادي کال له جګړې وړاندې پر هر څومره سیمو چې اسرائیلي غاصب ریاست ولکه کړې ده، پر هغو به د اسرائیلو جایز تسلط ومنل شي او په دې موده کې د فلسطین پر خاوره چې څومره یهودي مېشت ځایونه اباد شوي دي، هغه به جایز وګڼل شي. دا په واضح ډول د فلسطین پر خاوره د اسرائیلو غیر قانوني ولکې ته د قانوني حیثیت ورکولو وړاندیز و.

د شهزاده فهد د دغو اتو ټکو تر شا د سعودي عربستان د ځینو کورنیو ګټو اغېز هم شامل و. سعودي عربستان له امریکا څخه د اته اعشاریه دوه میلیارده ډالرو په ارزښت د وسلو د پېرلو یو تړون کول غوښتل، چې په هغه کې پنځه E-3 AWACS الوتکې او د F-15 الوتکو اپګریډ شامل وو. د امریکا ولسمشر رونالډ ریګن د وسلو د پېرلو دغه تړون د ۱۹۸۱

میلادي کال په جون میاشت کې د سنا جرګې مخې ته وړاندې کړ چې هلته د هغې د تائیدې تمه وه. شهزاده فهد خپل اته ټکي د سولې پلان د ۱۹۸۱ میلادي کال په اګست میاشت کې وړاندې کړ، چې له هغه وروسته د ریګن اداري په سنا جرګه کې د سعودي عربستان په ګټه پوره هڅې وکړې او په پایله کې یې د ۱۹۸۱ میلادي کال په اکتوبر میاشت کې سنا جرګې د دغه ټرون منظوري ورکړه.

د ۱۹۸۱ میلادي کال د عربي اتحادیې په دغه غونډه کې د شهزاده فهد دغو ټکو ته هرکلی ونه ویل شو او سخت مخالفت یې وشو، خو شهزاده فهد خپلو پټو ډپلوماټیکو هڅو ته دوام ورکړ.

د ۱۹۸۲ میلادي کال په جون میاشت کې د زړه د درېدو له امله شاه خالد وفات شو او فهد بن عبدالعزیز د سعودي عربستان باقاعده پاچا شو. شاه فهد د واک له ترلاسه کولو وروسته د خپل پر اته ټکو مشتمل پلان د منلو لپاره ډپلوماټیکو هڅو ته دوام ورکړ، چې په پایله کې یې د ۱۹۸۲ میلادي کال په سپټمبر میاشت کې د عربي اتحادیې په غونډه کې دا ټکي له دغه زیاتوالي سره ومنل شول چې «پي ایل او» دې د فلسطین د ولس رسمي او قانوني استازی وپېژندل شي. وروسته دا ټکي د ټولو عربي هېوادونو رسمي دریځ وګرځول شول.

که څه هم اسرائیلو د دغو ټکو له منلو څخه انکار وکړ، خو ټولو عربي هېوادونو د شاه فهد دغو ټکو ته د خپل رسمي دریځ په ورکولو سره، په حقیقت کې د لومړي ځل لپاره اسرائیل د یو روا او جایز ریاست په توګه، د ۱۹٦۷ میلادي کال له جګړې وړاندې د هغه ټولې ولکې د هغه د جایز حق په توګه او د دوو ریاستونو حل لاره یې د فلسطین د مسئلې د هواري یوازینۍ لار په توګه ومنله.

په عربي اتحادیه کې د مصر د غړیتوب بیا فعاله کېدل

د عربي اتحادیې له لوري د دغو ټکو د منلو او خپلولو په غیر مستقیم ډول یوه بله پایله هم درلوده. د کیمپ ډیویډ له ټرونونو وروسته، عربي اتحادیې د مصر غړیتوب ځنډولی و او خپل مرکز یې هم له قاهرې څخه تونس ته لېږدولی و. د ۱۹۸۱ میلادي کال په جون میاشت کې د انور سادات له وژنې وروسته، په مصر کې د حسني مبارک حکومت واک ته ورسېد، چې له وړاندې یې له شاه فهد سره خورا نږدې اړیکې لرلې. داسې ویل کېږي چې د شاه فهد په دغو اتو ټکو کې د حسني مبارک مشوره هم شامله وه. د دغو ټکو له منل کېدو وروسته، شاه فهد خپلو ډپلوماټیکو هڅو ته دوام ورکړ ترڅو د مصر غړیتوب بېرته فعاله کړي، چې په پایله کې یې په ۱۹۸۹ میلادي کال کې نه یوازې په عربي اتحادیه کې د مصر غړیتوب بېرته فعال کړ، بلکې د عربي اتحادیې مرکز یې هم بېرته قاهرې ته ولېږدوه.

د پټو ډپلوماټیکو اړیکو یوه پېښه

د ۱۹۸۱ میلادي کال په اګست میاشت کې د شهزاده فهد له لوري د دغو اتو ټکو له وړاندې کېدو یو میاشت وروسته، د یوې پېښې له امله د اسرائیلو او سعودي عربستان ترمنځ پټې ډپلوماټیکې اړیکې قائمې شوې. د تخنیکي ستونزې له امله د اسرائیلو یوه مېزایل وړونکې جنګي کښتۍ د سعودي په ساحل کې پر وچه راغله او ونیښتله. اسرائیلو د امریکا له لارې سعودي چارواکو ته ډاډ ورکړ چې دا کوم تېری کونکی ګام نه و او د سعودي له مداخلې پرته یې د خپلې کښتۍ او د هغې د عملې د ایستلو اجازه وغوښته. سعودي چارواکو پر دغه شرط د دې کار اجازه ورکړه چې دا ټوله معامله به تر پایه پټه ساتل کېږي او اسرائیل به د دې لپاره له درنو وسایلو او ماشینرۍ څخه کار نه اخلي.

د خلیج جګړه او ګډ دښمن

په ۱۹۹۰ میلادي کال کې د خلیج په لومړۍ جګړه کې سعودي عربستان او اسرائیل د امریکا تر مشرۍ لاندې د یوه «ګډ دښمن» یعني صدام حسین پر وړاندې په یوه صف کې ودرېدل. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جیمز بیکر د دواړو هېوادونو ترمنځ د یوې وسیلې په توګه کار کاوه چې د هغې له لارې په دغه جګړه کې اسرائیلو او سعودي عربستان یو له بل سره اړیکې ساتلې. شاه فهد پر دې خبره خپله خوښي څرګنده کړه چې که چېرې صدام حسین پر اسرائیلو برید وکړي نو «اسرائیل د خپلې دفاع حق لري» او هغوی پر عراق د برید لپاره د سعودي له هوایي فضا څخه ګټه اخیستلی شي. د جیمز بیکر په وینا، په دې جګړه کې له همکارۍ وروسته شاه فهد هغه ته ویلي وو چې که د فلسطینیانو لپاره د یوه هېواد بندوبست وشي، نو هغه له اسرائیلو سره د بشپړو ډپلوماټیکو او اقتصادي اړیکو قائمولو ته چمتو دی. له هغه لږ وخت وروسته سعودي چارواکو په رسمي ډول دا وړاندیز وکړ چې که اسرائیل په نیول شویو سیمو کې د نویو مېشت ځایونو د ابادولو کار ودروي، نو سعودي عربستان به له اسرائیلو سره له څو لسیزو راهیسې روان بایکاټ پای ته ورسوي؛ خو د اسرائیلو حکومت دا غوښتنې رد کړې.

د مادرید کنفرانس او د رسمي کتنو پیل

په ۱۹۹۱ میلادي کال کې امریکا او شوروي اتحاد په ګډه د هسپانیا په مادرید ښار کې د فلسطین د مسئلې د هواري لپاره یو کنفرانس جوړ کړ،

چې په هغه کې د اسرائیلو، مصر، اردن، لبنان او شام په ګډون بېلابېلو عربي هېوادونو او ورسره «پي ایل او» (PLO) ته هم بلنه ورکړل شوې وه؛ ځکه چې د پي ایل او مشر یاسر عرفات په ۱۹۸۸ میلادي کال کې اسرائیلي ریاست او د ۱۹٦۷ میلادي کال څخه وړاندې سیمو باندې د اسرائیلو حق منلی و. سعودي چارواکو اعلان وکړ چې د سولې په دې کنفرانس کې به د خلیج د همکاریو د شورا (GCC) له لوري هم یو څارونکی ګډون وکړي. په امریکا کې د سعودي سفیر شهزاده بندر بن سلطان د خلیج د همکاریو د شورا د استازي په توګه وټاکل شو. په دې کنفرانس کې د لومړي ځل لپاره په رسمي ډول د اسرائیلي او سعودي چارواکو کتنه وشوه، چې له هغه وروسته دویمه کتنه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په دفتر کې ترسره شوه او له هغه لږ وخت وروسته د اسرائیلو د بهرنیو چارو وزارت ډایرکټر جنرال یوري ساور په واشنګټن کې له بندر بن سلطان سره وکتل.

له دغه کنفرانس څخه څو میاشتې وروسته په ۱۹۹۲ میلادي کال کې، سعودي عربستان په مذاکراتو کې ګډون وکړ چې هلته د اسرائیلو د بهرنیو چارو مرستیال وزیر یوسي بیلین د سعودي د بهرنیو چارو له مرستیال وزیر سره وکتل.

د اوسلو مذاکرات او د مفتي اعظم فتواوې

په ۱۹۹۳ میلادي کال کې کله چې د «پي ایل او» او اسرائیلو ترمنځ د اوسلو مذاکرات پیل شول، نو سعودي عربستان د سولې ددې خبرو اترو ملاتړ وکړ. نه یوازې دا، بلکې د سعودي عربستان مفتي اعظم شیخ عبدالعزیز بن باز له اسرائیلو سره د سولې د ټرون لاسلیک کولو په حق کې فتوا ورکړه او هغه یې له «صلح حدیبیه» سره تشبیه کړه. له دې سره جوخت، هغه دا فتوا هم ورکړه چې د اسرائیلو په ولکه کې له اوسېدو سره سره، باید د ټولې نړۍ مسلمانان په مسجد اقصی کې د لمانځه د ادا کولو لپاره لاړ شي، ځکه دا د مسلمانانو دریم تر ټولو مقدس ځای دی.

په دغه فتوا کې له داسې یو غاصب او ناجائز ریاست سره د سولې ټرون له صلح حدیبیه سره تشبیه شوی دی چې د مسلمانانو پر ځمکه یې په غیرقانوني ډول ګډېده اچولې، له هغه ځایه یې لکونه مسلمانان بې ځایه کړي، د هغوی مالونه یې لوټلي او په لکونو نور یې په کې شهیدان کړي دي. له داسې یوه ریاست سره د سولې ټرون کول په اصل کې د هغه د وجود منل او غصب شوې ځمکې د هغه د ملکیت په توګه تسلیمول دي. همداراز د اسرائیلو په ولکه کې موجود مسجد اقصی ته د غیر فلسطیني مسلمانانو تلل او هلته لمونځ کول په ظاهره خورا ښه ښکاري، خو په حقیقت کې که غیر فلسطیني مسلمانان مسجد اقصی ته ځي، نو په قانوني توګه به ځي او د قانوني لارې د تللو لپاره به د اسرائیلو ویزه اخلي. په دې توګه به د اسرائیلو ګرځندوی (سیاحت) ښه شي، اقتصاد به یې پیاوړی شي، له دغه غاصب سره به د مسلمانانو راکړه ورکړه به زیاته شي او د یو داسې ریاست په توګه به ومنل شي چې قانوني او روا حیثیت لري[2].

د عربي هېوادونو له لوري د اسرائیلو د غیر مستقیم بایکاټ پای ته رسول

د اوسلو د مذاکراتو په جریان کې د ۱۹۹۴ میلادي کال په اکتوبر میاشت کې د سعودي عربستان د ډیپلوماټیکو هڅو په پایله کې، د خلیج د همکاریو شورا د اسرائیلو غیر مستقیم بایکاټ پای ته ورساوه. د غیر مستقیم معنی دا ده چې له دې وړاندې د اسرائیلو د کمپنیو د بایکاټ ترڅنګ، په دویمه درجه کې د هغو کمپنیو بایکاټ هم شوی و چې له اسرائیلو سره یې تجارت کاوه او بیا په دریمه درجه کې د هغو کمپنیو بایکاټ هم شوی و چې له اسرائیلو سره له تجارت کونکو کمپنیو سره یې تجارت کاوه. په ۱۹۹۴ میلادي کال کې د دغو دواړو درجو بایکاټونه ختم کړل شول او یوازې د اسرائیلي کمپنیو مستقیم بایکاټ پر خپل ځای پاتې شو.

عبدالله بن عبدالعزیز آل سعود

په ۱۹۹۵ میلادي کال کې پر شاه فهد بن عبدالعزیز د زړه راغله چې له هغې وروسته هغه له حکومتي چارو څخه لرې شو او د حکومت واګې د هغه ورور او ولیعهد عبدالله بن عبدالعزیز په لاس کې واخیستې.

د عربو د سولې نوښت (Arab Peace Initiative)

د ۲۰۰۲ میلادي کال په فروري میاشت کې، ولیعهد عبدالله د شاه فهد د اتو ټکو په څېر یو نوی د سولې پلان وړاندې کړ چې ټول شرایط یې

[2] په دې موضوع باندې دې د شهید شیخ ابو محمد المصري کتاب «عملیات ۱۱ سبتمبر: بین الحقیقة والتشکیک» وکتل شي، چې په هغه کې شهید شیخ د دغه مهال حالات او د سعودي پر وړاندې د مجاهدینو پیغامونه رانقل کړي دي.

د الفاظو په لړ او ډېر بدلون سره کټ مټ هماغه د شاه فهد اته ټکي وو، پرته له یوه شرط څخه. د شاه فهد په اتو ټکو کې د خپلو کورونو ته د فلسطیني کډوالو د ستنېدو ډاډ هم شامل و، په داسې حال کې چې د عبدالله په دغه د سولې پلان کې دا ټکی مبهم او پټ کړل شو. د دې پر ځای چې په واضحو تورو وویل شي، دا وویل شول چې د فلسطیني کډوالو د مسئلې لپاره دې د ملګرو ملتونو د پرېکړه لیکونو په رڼا کې یو «عادلانه حل» ولټول شي. د ۲۰۰۲ میلادي کال په مارچ میاشت کې عربي اتحادیې د ځینو معمولي زیاتونو سره د دغه ټرون تائید وکړ او د «عربو د سولې نوښت» (Arab Peace Initiative) نوم یې ورکړ.

د دغه نوښت له مخې له اسرائیلو څخه په اساسي توګه درې غوښتنې وشوې:

1. اسرائیل دې د ۱۹۶۷ میلادي کال د جون د ۴مې نېټې تر پولو پورې له ټولو نیول شویو سیمو، د جولان د غونډیو په ګډون او د ۱۹۶۷ میلادي کال له جګړې وروسته د جنوبي لبنان له نیول شویو سیمو څخه په بشپړه توګه ووځي.
2. اسرائیل دې د ملګرو ملتونو د ۱۹۴ پرېکړه لیک په رڼا کې د فلسطیني کډوالو د مسئلې پر یو عادلانه حل هوکړه وکړي.
3. اسرائیل دې په غزه او لوېدیځه غاړه کې د ۱۹۶۷ میلادي کال د جون له ۴مې وروسته په نیول شوې فلسطیني خاوره کې د یو مستقل او د خپلواک واک لرونکي فلسطیني ریاست قیام په رسمیت وپېژني چې پلازمېنه یې شرقي بیت المقدس وي.

د اسرائیلو له لوري د دغو غوښتنو د منلو په ځواب کې، د ټولو عربي هېوادونو له لوري د لاندې اقداماتو ژمنه وشوه:

د عرب - اسرائیل شخړه به په بشپړه توګه پای ته رسېدلې وګڼل شي او له اسرائیلو سره به د سولې ټرون لاسلیک شي، چې له مخې به یې په ټوله سیمه کې سوله قائمه شي.

د هراړخیزې سولې تر چوکاټ لاندې به له اسرائیلو سره ټولې دولتي اړیکې، د ډیپلوماټیکو او اقتصادي اړیکو په ګډون، قائم کړل شي.

له تمې سره سم، اسرائیلو دغه پلان ته هېڅ ارزښت ورنکړ او د هغه هر ډول ځواب ورکول یې اړین ونه ګڼل.

د سعودي عربستان له لوري د دغه پلان د وړاندې کولو تر شا یو مهم هدف دا و، چې په ۲۰۰۰ میلادي کال کې پیل شوی دویم پاڅون ډېر توند شوی و او د هغه کنټرولول د اسرائیلو ترڅنګ د عربي هېوادونو په ګټه هم و، خو تر دې هم لوی علت دا و چې د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپتمبر د یوولسمې له بریدونو وروسته، سعودي عربستان په امریکا او لوېدیځ کې خپل موقف او باور بېرته ښه کول غوښتل؛ ځکه چې د یوولسم د سپتمبر په بریدګرو کې پنځلس تنه پخپله د سعودي عربستان وګړي وو.

د سپتمبر د یوولسمې د بریدونو د دویمې کلیزې په مناسبت شهزاده عبدالله د امریکا ولسمشر جارج بوش ته یو لیک واستاوه چې پای توري یې داسې وو:

> «لوی خدای د خپل حکمت له مخې د مومنانو د ازمایښت لپاره داسې افتونه رامنځته کوي. خو د خپل رحمت په واسطه هغه موږ ته د ایمان له لارې داسې عزم او حوصله هم راکوي، چې په برکت یې موږ دغه ډول هولناک مصیبتونه په سترو بریاوو بدلولی شو، او هغه بحرانونه چې په پیل کې کمزوري کونکي ښکاري، د انسانیت د پرمختګ په فرصتونو بدلېږي. زما همدا دعا او هیله ده چې ستاسې تر مشرۍ او همکارۍ لاندې به د نړیوال سوداګریز مرکز (ورلډ ټریډ سنټر) له کنډوالو څخه یوه نوې نړیواله منظرنامه راڅرګنده شي، داسې یوه نړۍ چې د ازادۍ، سولې، هوساینې او همغږۍ په لوړو اصولو سمبال وي.»

د ۲۰۰۵ میلادي کال په اګست میاشت کې د شاه فهد له مړینې وروسته، عبدالله بن عبدالعزیز د سعودي عربستان رسمي پاچا شو.

ګډ دښمن؛ ایران او لبنان جګړه

په ایران کې له راغلي انقلاب راهیسې له ایران سره د سعودي عربستان اړیکې تل د لوړو ژورو ښکار پاتې شوې دي. په لومړنیو کلونو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې خورا ترینګلې او سخت مخالفت شتون درلود. د عراق او ایران په جګړه کې د نورو عربي هېوادونو په څېر سعودي عربستان هم د صدام حسین ملاتړ وکړ. خو د خلیج په لومړۍ جګړه کې معامله بدله شوه. په دې جګړه کې د ایران او سعودي عربستان دواړو په نظر کې صدام حسین دښمن و او د دغه ګډ دښمن له امله اړیکې ښې شوې او بیا تر یوې لسیزې پورې په اړیکو کې ځانګړی تاوتریخوالی پیدا نه شو. خو کله چې په ۲۰۰۳ میلادي کال کې امریکا پر عراق برید وکړ او د صدام حسین حکومت یې راوپرځاوه، چې پر ځای یې د ایران په ملاتړ ولاړې ډلې حکومت ته ورسېدې، نو سعودي عربستان د ایران له عزایمو څخه د خطر احساس وکړ، چې له هغه وروسته د سعودي عربستان او ایران اړیکې یو ځل بیا په توندۍ سره

خرابې شوې. د شاه عبدالله نظر دا و چې د عرب - اسرائیل شخړه عربان وېشي او له دغه وېش څخه ایران ګټه پورته کوي. له همدې امله کله چې په ۲۰۰۶ میلادي کال کې د اسرائیلو او په لبنان کې د ایران په ملاتړ د ولاړې ډلې «حزب الله» ترمنځ جګړه پیل شوه، نو سعودي عربستان پر حزب الله سختې نیوکې وکړې او ویې ویل چې د حزب الله د بې باکۍ او غیر مسئولانه چلند زیان ټول لبنان ګالي. په دې موقع ځینو غټو سعودي علماوو فتوا هم ورکړه چې د اسرائیلو پر ضد د حزب الله کارونه شرعي جواز نه لري او هغوی ته پکار ده چې د صلح حدیبیې په څېر له یهودانو سره د سولې ټرون لاسلیک کړي.

د لبنان په جګړه کې د سعودي عربستان په ګډون د عربي واکمنانو همکاري د ایران پر وړاندې له اسرائیلو سره په ښکاره توګه مخې ته راغله. تر دې چې د سعودي چارواکو له لوري تر دې بریده بیان هم ورکړل شو چې هغوی غواړي اسرائیل حزب الله ته یو سخت درس ورکړي ترڅو د ایران حیثیت او باور تباه شي.



د انټیلیجنس انلاین د یو راپور له مخې، د ۲۰۰۶ میلادي کال د لبنان له جګړې وروسته د اسرائیلو، اردن، سعودي عربستان، مصر او ترکیې ترمنځ د ایران پر وړاندې په ګډه استخباراتي همکاري کې توندوالی راغی. په دې تړاو د ۲۰۰۶ میلادي کال په سپتمبر میاشت کې د هغه مهال د موساد مشر «میر دګان» په اردن کې د اردن د استخباراتو له مشر او د سعودي د ملي امنیت د شورا له مشر شهزاده بندر بن سلطان سره وکتل. په دې لیدنه کې درې واړو هېوادونو د ایران او د هغه تر ملاتړ لاندې ډلو پر وړاندې د استخباراتي همکاري پر ګړندي کولو هوکړه وکړه.

د ایران پر وړاندې له اسرائیلو سره د سعودي عربستان همکاري او د استخباراتي معلوماتو شریکولو د شاه عبدالله د «عربو د سولې نوښت» په اړه د اسرائیلو د حکومت فکر بدل کړ او اسرائیلو په ښکاره توګه د دغه پلان د ملاتړ اعلان وکړ. د ۲۰۰۶ میلادي کال په نومبر میاشت کې د اسرائیلو لومړي وزیر «ایهود اولمرټ» محمود عباس ته د مذاکراتو بلنه ورکړه او دا ژمنه یې هم وکړه چې هغه د دغه هدف د ترلاسه کولو لپاره له مصر، اردن، سعودي عربستان او د خلیج له هېوادونو څخه هم مرسته ترلاسه کړي. د ۲۰۰۷ میلادي کال په مارچ میاشت کې په ریاض کې د عربي اتحادیې د غونډې له پیل څخه څو ورځې وړاندې، ایهود اولمرټ د شاه عبدالله د مشرتابه د وړتیاوو او شخصیت پوره ستاینه وکړه او ویې ویل چې د شاه عبدالله د هڅو له امله دا پوره ممکنه ده چې اسرائیل په راتلونکو پنځو کلونو کې له خپلو دښمنانو سره د سولې د ټرونونو په لاسلیک کولو کې بریالی شي. د اسرائیلو ولسمشر «شیمون پیریز» په ۲۰۰۸ میلادي کال کې په خپل یو بیان کې وویل چې په ۱۹۶۷ میلادي کال کې د خرطوم په غونډه کې د اسرائیلو پر وړاندې کوم دریځ چې غوره شوی و، د هغه ځای اوس د شاه عبدالله د عربو د سولې نوښت اخیستی دی. هغه د شاه عبدالله ستاینه وکړه او ویې ویل چې هغه ته پکار ده، چې د دغه نوښت لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي ترڅو د یوې هراړخیزې سولې قیام عملي شي. شیمون پیریز د شاه عبدالله په ګډون ټولو عربي واکمنانو ته بیت المقدس ته د راتلو او د سولې د خبرو اترو د پیلولو بلنه هم ورکړه.

د امریکایي سفارتي کېبلونو د افشا شوو اسنادو له مخې، د ۲۰۰۸ میلادي کال په اپریل میاشت کې شاه عبدالله د عراق لپاره د امریکا له سفیر ریان کروکر (Ryan C. Crocker) څخه غوښتي وو چې امریکا باید د دغه مار (ایران) سر پرې کړي. په دغه موده کې په واشنګټن کې د سعودي عربستان د سفیر عادل الجبیر په وینا، شاه عبدالله په پرله پسې ډول پر امریکا زور راوړ چې پر ایران برید وکړي او د هغه اتومي پروګرام له منځه یوسي. شاه عبدالله د امریکا له سفیر سره په لیدنه کې د ایران له بهرنیو چارو وزیر منوچهر متکي سره د خپلې کتنې احوال هم ذکر کړ. د شاه عبدالله په وینا، د ایران له بهرنیو چارو وزیر سره یې خورا سخت بحث شوی و او شاه عبدالله له متکي سره د «عربي مسائلو» په چارو کې د ایران پر لاسوهنې خبرې کړې وې. شاه عبدالله وایي کله چې ما له متکي څخه وپوښتل چې ایران ولې د «حماس» په چارو کې مداخله کوي، نو متکي په غوسه ځواب ورکړ چې دا د مسلمانانو معامله ده، د عربو نه ده. پر دې خبره شاه عبدالله ځواب ورکړ:

«تاسې فارسیان یاست او تاسې ته د عربو په چارو کې د مداخلې هېڅ ډول حق نشته.»

د ویکي لیکس د افشا شویو اسنادو له مخې، په ۲۰۱۰ میلادي کال کې د موساد مشر په سعودي عربستان کې له سعودي چارواکو سره وکتل. په دې لیدنه کې سعودي چارواکو اسرائیلو ته د ایران پر وړاندې د جاسوسۍ او احتمالي برید لپاره د سعودي د هوایي فضا د کارولو اجازه ورکړه. د ۲۰۱۸ میلادي کال په جون میاشت کې د اسرائیلو پخواني لومړي وزیر ایهود اولمرټ په خپله یوه مرکه کې په ۲۰۱۰ میلادي کال کې په سعودي عربستان کې د موساد د مشر د دغې لیدنې ذکر وکړ او ویې ویل چې سعودي عربستان اسرائیل په پوځي او اقتصادي دواړو سطحو کې د یو جدي احتمالي شریک په توګه لیده او په هغه وخت کې د سعودي عربستان او اسرائیلو ترمنځ د همکارۍ په لړ کې خورا ستر کارونه روان وو، چې په هغو کې سعودي عربستان ته د موساد د مشر سفر یوازې یوه کوچنۍ برخه ده.

سلمان بن عبدالعزیز آل سعود

د امریکا او ایران د اتومي تړون پر وړاندې غبرګون

د ۲۰۱۵ میلادي کال په جنورۍ میاشت کې د شاه عبدالله بن عبدالعزیز له مړینې وروسته، ولیعهد سلمان بن عبدالعزیز د سعودي عربستان پاچا شو. په همدې موده کې د امریکا ولسمشر بارک اوباما له ایران سره د اتومي تړون وروستي پړاو ته نږدې شوی و. د ۲۰۱۵ میلادي کال په اپریل میاشت کې د امریکا او ایران ترمنځ اتومي تړون لاسلیک شو او اسرائیلو، سعودي عربستان او څو نورو عربي هېوادونو د دغه تړون سخت مخالفت وکړ. د دغو ټولو اساسي اعتراض دا و چې د دغه تړون له امله به د ایران اقتصادي وضعیت ښه شي، چې په پایله کې به یې هغه په سیمه کې خپلې ملاتړې ډلې هم پیاوړې کړي او دا د ټولې سیمې لپاره د خطر خبره ده؛ له دې سره جوخت به هغه له تړون سره سره په پټه خپل اتومي پروګرام ته هم دوام ورکړي.

دغه تړون د سعودي عربستان په ګډون عربي هېوادونه له اسرائیلو سره تر پخوا ډېر نږدې کړل. د تړون تر لاسلیک کېدو وړاندې د ۲۰۱۵ میلادي کال په مارچ میاشت کې، نتنیاهو د امریکا په کانګریس کې وینا وکړه او د دغه تړون پر وړاندې یې خپل احتجاج څرګند کړ. د نتنیاهو دغه وینا د سعودي حکومت له لوري په کلکه وستایل شوه.

د حوثیانو په موضوع کې د اسرائیلو او سعودي عربستان همکاري

په همدې موده کې په یمن کې د ایران له ملاتړه برخمنې حوثي ډلې د ولسمشر منصور هادي حکومت راوپرځاوه او پر صنعاء یې ولکه ټینګه کړه. د ۲۰۱۵ میلادي کال په مارچ میاشت کې سعودي عربستان له متحده عربي اماراتو سره په ګډه په یمن کې د حوثیانو پر وړاندې پوځي عملیات پیل کړل.

د دغو پوځي عملیاتو په جریان کې اسرائیلو په پټه د حوثیانو پر ضد استخباراتي معلومات چمتو کړل او د جګړې پر مهال د اسرائیلو ډرون الوتکې او د ځارنې نورې ټیکنالوژۍ هم وکارول شوې.

محمد بن سلمان آل سعود

کله چې شاه سلمان واک ترلاسه کړ، نو هغه خپل کشر ورور مقرن بن عبدالعزیز ولیعهد وټاکه، خو دریې میاشتې وروسته یې هغه لرې کړ او خپل وراره محمد بن نایف یې ولیعهد او خپل زوی محمد بن سلمان یې نایب ولیعهد وټاکه. محمد بن سلمان ورسره جوخت د دفاع وزیر هم وټاکل شو. خو د ۲۰۱۷ میلادي کال په جون میاشت کې شاه سلمان، محمد بن نایف د ولیعهدۍ ترڅنګ له ټولو دندو لرې کړ او د هغه پر ځای یې محمد بن سلمان ولیعهد وټاکه.

د شاه عبدالله په وروستیو کلونو کې، کله چې سلمان ولیعهد و، پر هغه د زړه دوره راغلې وه چې له هغه وروسته یې دواړو لاسونو کار پرېښی و. د واک له ترلاسه کولو لږ وخت وروسته هغه د هېرولو په ناروغۍ (ډیمنشیا) هم اخته شو. له همدې امله کله چې په ۲۰۱۷ میلادي کال کې محمد بن سلمان ولیعهد وټاکل شو، نو هغه په عملي توګه د هېواد واګې په خپل لاس کې واخیستې. بیا د ۲۰۲۲ میلادي کال په سپتمبر میاشت کې هغه د لومړي وزیر واک هم ځان ته ولېږدوه، کوم چې له دې وړاندې پخپله شاه له ځان سره ساته. په دې توګه، که څه هم محمد بن سلمان په رسمي ډول ولیعهد دی، خو په عملي توګه د سعودي عربستان مشر هغه پخپله ګڼل کېږي.

د اسرائیلو په اړه د رسنیو په پالیسي کې بدلون

له ولیعهد کېدو څخه وړاندې پخپله د محمد بن سلمان په هڅو سره، په ۲۰۱۶ میلادي کال کې د سعودي عربستان په رسنیو کې د اسرائیلو په اړه ښکاره بدلون راپیل شو، چې د هغه له ولیعهد کېدو وروسته په کې نور توندوالی هم راغی. په رسنیو کې د اسرائیلو یا یهودانو پر ضد د هر څه پر خپرولو بندیز ولګول شو او داسې پروګرامونه چمتو کړل شول چې په هغو کې د هېواد په دننه کې د یهودو او اسرائیلو ضد فکر باندې نیوکې وشوې؛ او دا بیانیه وړاندې کړل شوه چې ایران په اصل کې له

اسرائیلو څخه ډېر زیات لوی او خطرناک دښمن دی، له همدې امله د ایران له ګوابښ سره د مقابلې لپاره اړینه ده چې له اسرائیلو سره اړیکې ښې کړل شي. پر دې سربېره، سیمه ییزو ژورنالېستانو او مبصرینو په ورځپاڼو او مجلو کې د داسې کالمونو او مقالو لیکل پیل کړل چې په هغو کې د اسرائیلو ملاتړ او ستاینه کېدله، په داسې حال کې چې د فلسطین د مقاومت پر خوځښت باندې نیوکې کېدلې.

په اردن کې استخباراتي غونډه

د ۲۰۱۸ میلادي کال په جون میاشت کې یوه استخباراتي غونډه جوړه شوه چې په هغه کې د اسرائیلو، اردن، مصر، سعودي عربستان او فلسطیني اداري د استخباراتو مشرانو او امریکایي استازو ګډون وکړ.

په دغه غونډه کې د اسرائیلو له لوري د موساد مشر «یوسي کوهن»، د اردن د استخباراتو مشر «عدنان الجندي»، د مصر د استخباراتو مشر «عباس کامل»، د سعودي عربستان د استخباراتو مشر «خالد بن علي الحمیدان» او د فلسطیني اداري د استخباراتو مشر «ماجد فرج» ګډون وکړ؛ په داسې حال کې چې د امریکا له لوري د ټرمپ جګپوړي سلاکار «جېرډ کوشنر» او د منځني ختیځ لپاره د امریکا ځانګړي استازي «جیسن ګرین بلاټ» په کې برخه اخیستې وه.

د دغې غونډې هدف د امریکا تر مشرۍ لاندې د منځني ختیځ د استخباراتو د مشرانو راټولول او د ایران، حزب الله او حماس پر وړاندې د یوې ګډې پالیسۍ تنظیمول وو.

اسرائیلو ته د الوتکو لپاره د سعودي د هوایي فضا د کارولو اجازه

د ۲۰۱۸ میلادي کال په مارچ میاشت کې سعودي عربستان د هندوستان هوایي شرکت «ایر انډیا» ته اجازه ورکړه چې د مسافر وړونکو الوتکو لپاره له نوي ډیلي څخه تر تل ابیب پورې د الوتنو پر مهال د سعودي له هوایي فضا څخه ګټه پورته کړي. د اسرائیلي ریاست له قیام وروسته دا لومړی ځل و چې اسرائیلو ته د سفر کونکي کومې مسافر وړونکې الوتکې ته د سعودي د هوایي فضا د کارولو اجازه ورکړل شوه. د اسرائیلو د ټرانسپورټ وزیر «اسرائیل کاټز» دا یو تاریخي ګام وباله.

له هغه وروسته په ۲۰۲۰ میلادي کال کې کله چې پر ابراهام ټرونونو (Abraham Accords) لاسلیکونه شول، نو سعودي عربستان د متحده عربي اماراتو او اسرائیلو ترمنځ الوتنو ته هم د سعودي له هوایي فضا څخه د ګټې اخیستنې اجازه ورکړه؛ په داسې حال کې چې په ۲۰۲۲ میلادي کال کې سعودي عربستان هر ډول الوتکو ته اسرائیلو ته د راتلو او تلو لپاره د سعودي د هوایي فضا د کارولو بشپړه اجازه ورکړه.

له مشهورې امریکایي مجلې سره مرکه

د ۲۰۱۸ میلادي کال په اپریل میاشت کې محمد بن سلمان د امریکا له مشهورې مجلې «دی اتلانټیک» (The Atlantic) او د هغې له ژورنالیست «جیفري ګولډبرګ» سره مرکه وکړه. په دې مرکه کې جیفري ګولډبرګ پوښتنه وکړه چې ایا اسرائیل په خپله پلرنۍ خاوره کې د یو ملي ریاست د جوړولو حق لري؟ د دغې پوښتنې په ځواب کې محمد بن سلمان وویل:

> «زه په دې باور یم چې فلسطینیان او اسرائیلیان دواړه په خپله خاوره کې د اوسېدو حق لري. خو د سولې یو ټرون خامخا پکار دی چې د ټولو لپاره د ثبات او رسمي اړیکو لامل وګرځي.»

هغه زیاته کړه:

> «موږ له اسرائیلو سره ډېرې ګډې ګټې لرو او که د سولې ټرون لاسلیک شي، نو اسرائیل د خلیج د همکاریو په شورا کې له شاملو هېوادونو سره ډېرې ګډې ګټې ترلاسه کولای شي.»

محمد بن سلمان دا هم وویل چې اسرائیل او سعودي عربستان یو ګډ دښمن لري چې دواړه هېوادونه ورته د یو جدي او مخ پر ودې ګوابښ په توګه ګوري او هغه د ایران واکمنان دي.

سعودي عربستان ته د نتانیاهو او د موساد د مشر سفر

د ۲۰۲۰ میلادي کال په نومبر میاشت کې د اسرائیلو لومړي وزیر نتانیاهو او د موساد مشر یوسي کوهن د سعودي عربستان په نیوم ښار کې له ولیعهد محمد بن سلمان سره وکتل. په دې لیدنه کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پومپیو هم ګډون درلود.

د دغې لیدنې هدف د ایران او په سیمه کې د هغه له ملاتړه برخمنو ډلو پر وړاندې پر همکارۍ خبرې اترې او د اسرائیلو او سعودي عربستان د سولې د ټرون او اړیکو عادي کولو په ټراو پلان جوړونه وه.

دا لیدنه پټه ساتل شوې وه او سعودي عربستان داسې وښودله چې ګواکې محمد بن سلمان یوازې د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر سره کتلې دي، خو اسرائیلي چارواکو د دغې لیدنې احوال په رسنیو کې افشا

کړ، چې له امله يې سعودي چارواکو سخته غوسه څرګنده کړه او د موساد د مشر يوسي کوهن راتلونکی ټاکل شوی سفر يې وځنډاوه.

د سولې د ټرون اشارې او د طوفان الاقصی عملیات

د ۲۰۲۳ ميلادي کال د سپتمبر پر ۲۰مه نېټه محمد بن سلمان د امريکا له ټلوېزيوني شبکې فاکس نيوز (Fox News) سره په مرکه کې وويل چې له اسرائيلو سره د نورو خليجي هېوادونو د اړيکو له بيا پيلېدو وروسته، اوس سعودي عربستان هم په پرله پسې ډول له اسرائيلو سره د اړيکو د عادي کولو په لور ګامونه پورته کوي. هغه وويل چې «موږ هره ورځ ټرون ته لا زيات نږدې کېږو». هغه زياته کړه چې مذاکرات خورا په جدي توګه مخې ته روان دي او ښايي دا له سړې جګړې وروسته تر ټولو لوړه تاريخي معامله وي.

له دغې مرکې وړاندې له ټبرو دوو مياشتو راهيسې داسې اشارې ترلاسه کېدې چې د اسرائيلو او سعودي عربستان ترمنځ د سولې د ټرون اعلان هر وخت کېدای شي. له څو مياشتو راهيسې سعودي عربستان ته دولتي پلاوي په ښکاره ډول راتلل پيل شول چې له امله يې داسې ښکارېده چې د سولې ټرون په عملي توګه شوی دی او يوازې د هغه اعلان پاتې دی.

د ۲۰۲۳ ميلادي کال په جولای مياشت کې د سعودي عربستان په پلازمېنه رياض کې د ويډيو ګېمونو نړيواله سيالي FIFA Nations Cup 2023 جوړه شوه، چې په هغې کې له اسرائيلو څخه په دولتي کچه د ويډيو ګېمرانو يوې ډلې ګډون وکړ. د سيالۍ په پرانيستونکو مراسمو کې د اسرائيلو ملي سرود هم وغږول شو او اسرائيلي ډلې د اسرائيلو بيرغ هم ورپاوه.

د ۲۰۲۳ ميلادي کال د سپتمبر پر ۱۰مه نېټه د اسرائيلو يو دولتي پلاوی په رياض کې د يونيسکو (UNESCO) د نړيوال ميراث د کمېټې په غونډه کې د ګډون لپاره سعودي عربستان ته راغی. په دغه پلاوي کې ۱۲ تنه شامل وو چې په هغو کې د بهرنيو چارو وزارت لوړپوړي چارواکي هم موجود وو.

د ۲۰۲۳ ميلادي کال د سپتمبر پر ۲۶مه نېټه د اسرائيلو د ګرځندوی (سياحت) وزير «حايم کاتز» له يو دولتي پلاوي سره په ګډه د ملګرو ملتونو د نړيوال ګرځندوی سازمان په غونډه کې د ګډون لپاره رياض ته ورسېد. دا د اسرائيلو د کابينې د کوم غړي له لورې له يو دولتي پلاوي سره لومړنی ښکاره او اعلانيه سفر و. د سفر په پای کې حايم کاتز تبصره وکړه چې «په رياض کې فضا خورا توده او صميمي وه او ما داسې احساس کاوه لکه په تل ابيب کې چې ګرځم».

د ۲۰۲۳ ميلادي کال د اکتوبر پر ۲مه نېټه د اسرائيلو د مواصلاتو وزير شلومو کارهي» په رياض کې د ملګرو ملتونو د «نړيوال پُست اتحاد» په غونډه کې د ګډون لپاره سعودي عربستان ته سفر وکړ. د هغه په پلاوي کې ۱۴ غړي شامل وو. د مواصلاتو وزير د غونډې پر مهال وينا هم وکړه. د اسرائيلي پلاوي د دغه سفر په جريان کې په رياض کې د اسرائيلو بيرغونه هم ورپول شول. د مواصلاتو وزير په رياض کې په خپل هوټل کې د يهودي عبادت اهتمام هم وکړ چيرته چې تورات ولوستل شو.

دا کومه اتفاقي خبره نه وه چې په دغو ورځو کې په ناڅاپي ډول ګڼ شمېر نړيوال کنفرانسونه او غونډې په رياض کې جوړېدې چې د ګډون لپاره يې اسرائيلي پلاوي سعودي عربستان ته راتلل، بلکې د پوره پلان جوړونې له مخې د اسرائيلو او سعودي عربستان د اړيکو د عادي کولو د اعلان لپاره ستېج چمتو کېده. خو د سعودي د واکمنانو او اسرائيلو هيلې، تمې او پلانونه هغه وخت په اوبو لاهو او خاورې شول کله چې فلسطيني مجاهدينو د ۲۰۲۳ ميلادي کال د اکتوبر پر ۷مه نېټه د «طوفان الاقصی» عمليات ترسره کړل. له دغو عملياتو وروسته چې کومه جګړه پيل شوه، په هغه کې د محمد بن سلمان لپاره له اسرائيلو سره د اړيکو عادي کول په خپلو لاسونو د خپل قبر له ايستلو سره برابر وو. له همدې امله هغه اعلان وکړ ترڅو چې دا جګړه پای ته نه وي رسېدلې، له اسرائيلو سره د سولې ټرون نه شي کېدای.

له طوفان الاقصی څخه وروسته اړيکې

د طوفان الاقصی له امله که څه هم د سولې د ټرون معامله خو معطله شوه، خو تر کومه بريده چې پرمختګ شوی و په هغه کې هيڅ کموالی رانغی. د اسرائيلو د الوتنو لپاره د سعودي له هوايي فضا څخه د ګټې اخيستنې اجازه هم پر خپل ځای پاتې شوه؛ له اسرائيلو څخه سعودي عربستان او له سعودي عربستان څخه اسرائيلو ته د سوداګريزو او تخنيکي پلاويو راتګ او تګ هم روان و او په نړيوالو غونډو کې د ګډون لپاره سعودي عربستان ته د اسرائيلو د دولتي پلاويو راتګ هم کېده.

په دغه موده کې د سعودي عربستان او اسرائيلو ترمنځ د ايران، حزب الله، حوثيانو او حماس پر وړاندې نه يوازې دا چې د استخباراتي معلوماتو شريکول روان وو، بلکې په هغه کې نور توندوالی او چټکتيا هم راغله.

محمد بن سلمان د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر انټوني بلینکن سره د ۲۰۲۴ میلادي کال په جنورۍ میاشت کې په شوې لیدنه کې د سولې د ټرون د نه کولو علتونه بیان کړل او ویې ویل:

«که څوک له ما څخه وپوښتي چې ایا زه په شخصي توګه د فلسطین د مسئلې کومه پروا لرم؟ نو زه یې بالکل پروا نلرم! خو زما ولس یې لري.»

په یو بل فرصت کې د ۲۰۲۴ کال په اګست کې، نوموړي له امریکایي قانونپوهانو سره د خبرو پر مهال وویل، وېره لري که له اسرائیل سره د سعودي عربستان اړیکې عادي کړي، نو خپل خلک به یې ووژني. هغه د انور سادات یادونه وکړه او له امریکایي قانونپوهانو یې وپوښتل کله چې انور سادات له اسرائیل سره د سولې ټرون لاسلیک کړ، دوه کاله وروسته ووژل شو؛ نو امریکا د سادات له دغې تاریخي معاملې وروسته د هغه د خوندیتوب لپاره څه ګامونه پورته کړل؟

په ۲۰۲۴ کال کې د اسرائیل او سعودي عربستان ترمنځ د سولې د ټرون لپاره خبرې اترې بېرته پیل شوې. یو کال وروسته کله چې دا خبرې کومې پایلې ته ونه رسېدې، نو د ۲۰۲۵ کال په پای کې د امریکا په غوښتنه په ستراتیژۍ کې بدلون راغی. اوسنی هدف مستقیمه سوله نه، بلکې ګام په ګام ور نږدې کېدل دي، چې لومړی پراو یې د سعودي عربستان او اسرائیل ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو ټرونونو لاسلیک کول دي.

خلاصه

له لومړۍ قبلې سره د خیانت د دې داستان په کردار کې، له اسرائیل سره د سعودي عربستان د اړیکو په ټول تاریخ کې چې کومه خبره په هر ځای کې مشترکه لیدل کېږي، هغه «ګډ دښمن» دی. په خبرو کې خو اسرائیل او سعودي عربستان هم تل د یو بل دښمنان پاتې شوي، خو کله چې د کوم داسې اسلامي هېواد حکومت د سعودي له ګټو سره ټکر شوی چې د اسرائیل دښمن هم و، نو سعودي واکمنو تل له اسرائیل سره یووالي ته لومړیتوب ورکړی دی.

کله چې د جمال عبدالناصر عرب ملتپالنه د دوی د واکمنۍ لپاره ګواښ شوه، نو پر وړاندې یې له اسرائیل سره اتحاد وکړ؛ کله چې پر کویټ د صدام حسین برید د دوی د طبعیت خلاف و، نو پر ضد یې له اسرائیل سره لاس یو کړ؛ او کله چې د ایران پراختیا غوښتنې د دوی د واکمنۍ پایې ولرزولې، نو پر وړاندې یې له اسرائیل سره ایتلاف وکړ چې دا لړۍ تر نن ورځې پورې روانه ده.

د دې یو لامل خو روښانه و چې دوی ته له اسرائیل څخه د خپلې واکمنۍ پر وړاندې کوم مستقیم ګواښ متوجه نه و، په داسې حال کې چې دغو ګډو دښمنانو یې واکمني په مستقیم ډول له خطر سره مخامخ کولای شوای. پاتې شوه د فلسطین مسئله، نو د هغې ارزښت د خپلو خلکو د ارام ساتلو لپاره له یو سیاسي شعار پرته بل څه نه دی. په غزه کې له ټپرو دوه نیمو کلونو څخه له زیاتې مودې راهیسې روانې جګړې دا حقیقت د روښانه لمر په څېر ثابت کړی دی.

که دوی د فلسطین له مسئلې سره د یوې ذرې هومره هم مخلص وای، نو «ګډ دښمن» به نه جمال عبدالناصر و، نه صدام حسین او نه هم ایران، بلکې دا به یې متحدین وو او ګډ دښمن به اسرائیل و. خو د داسې کولو په لاره کې یو بل شی هم خنډ و چې د دې ستونزې اصلي ریښه ده او هغه دا چې د سعودي واکمنو په ګډون د اسلامي امت ټولو طاغوتي چارواکو د الله وحده لاشریک پر ځای امریکا خپل خدای ګرځولې ده او د الله تعالی په دربار کې د سجدې کولو پر ځای د امریکا پر درشل تندی لګوي. جمال عبدالناصر وي، صدام حسین وي که ایران، د دوی پر وړاندې له اسرائیل سره اتحاد څکه کوي چې په دې کې د امریکا رضا ده او د امریکا په رضا کې د دوی د اقتدار بقا ده.

له ابن سعود څخه نیولې تر محمد بن سلمان آل سعود پورې، د سعودي عربستان د واکمنو همدا کیسه ده. بس د محمد بن سلمان او د هغه د پخوانیو مشرانو ترمنځ توپیر یوازې دومره دی چې هغوی پر ځان د دین، مذهب، عقیدې، توحید او خادم الحرمین الشریفین چپنې او نقابونه اغوستي وو او د اسلامي امت د خلکو په زړونو کې یې ځان ته یو درواغجن عزت او مقام جوړ کړی و، خو محمد بن سلمان دا ټول درواغجن پوښونه او نقابونه لرې کړل او خپله رښتینې او ناوړه څېره یې ټولې نړۍ ته ښکاره کړه.

له لومړۍ قبلې سره د خیانت کونکې دغې کورنۍ تاریخ دا حقیقت روښانه کوي چې دا آل سعود که هر څومره ځان ته اسلامي القاب غوره کړي او که له فلسطینیانو سره د پیوستون هر څومره تش شعارونه ورکړي، دوی ته په حقیقت کې د خپلې کورنۍ له اقتدار، اقتصادي ګټو او سیمه ییزې برلاسۍ پرته بل څه نه ښکاري. کله چې د ګټو خبره راغلې، دا کورنۍ د فلسطینیانو د وینې پر سودا کولو او له لومړۍ قبلې سره پر خیانت کولو هیڅکله هم نه ده په شور کې راغلې. خو افسوس چې مسلمانان نن هم د دوی د «خادم الحرمین الشریفین» په دوکه کې اخته دي.

****

د صهیونستي تولیداتو لیست چې باید ورسره پرېکون وکړو!

یادونه: د بت شکن مجلې په لومړۍ ګڼه او ویبسایټ کې په دې اړه پوره تفصیل لوستلای شئ.

د خوراک او څښاک توکي



نوشابه



خوړه او چاکلیټ



اوبه



آیسکریم



د قهوې لپاره



د ماشومانو سیرلاک



خوړه او چاکلیټ



خوړه او چاکلیټ



خوړه او چاکلیټ



نوشابه



چپس



وچې شیدې



نوشابه



خوړه او چاکلیټ



خوړه او چاکلیټ



خوراکي



پاپړ



چپس



چای



خوړه او خوراکي



بسکویټ



خوړه او کاکاو



تیارې شیدې او د شیدو مواد



جوس



نوشابه



خوړه او خوراکي مواد



یو ډول دوا



د خوراک او څښاک شیان

د صهیونستي تولیداتو لیست چې باید ورسره پرېکون وکړو!

د خوراک او څښاک توکي



انرژي



نوشابه



قهوه



د ماشومانو وچې شیدې



وچې شیدې



خوږه او بسکویټ



خوراکي



خوږه، پیرني



بسکویټ



نوشابه



چپس او پاپړ



خوږه او کاکاو



فاسټ فوډ



انرژي



خوږه او کاکاو



نوشابه

جامې، پاکونکي او سینګار توکي



جامې او سمساري



جامې او پایزار



د کالي مینځلو صابون



جامې، پایزار او نور



عطر او خوشبویي



شامپو



خوشبویي



پایزار او ماشینري



جامې، پایزار او نور

د صهیونستي تولیداتو لېست چې باید ورسره پرېکون وکړو!

جامې، پاکونکي او سینګار توکي



د تشناب تیزاب



پاکونکي او خوشبو



صابون، شامپو او کریم



پاکوونکی



د غاښو کریم



د غاښو کریم او برس



کالیو مینځلو پوډر



جامې او پایزار



شامپو



دویښتانو د صفایی وسایل



جامې او سمساري



صابون او نور



شامپو او نور



د بدن بوی ضد



شامپو او نور



د ماشومانو پمپر



د مخ او بدن کریم



جامې، پایزار او نور



د تشناب تیزاب



ظرف شویي



د سپورت جامې



صابون، شامپو او نور



د غاښو کریم، برس او نور



د تشناب تیزاب



سمساري مواد



شامپو او صابون



شامپو او نور



صابون او نور مواد



شامپو او دویښتانو رنګ



د کالیو مینځلو پوډر



واسلین، کریم او د پوست ساتونکي



جامې

د صهیونستي تولیداتو لېست چې باید ورسره پرېکون وکړو!

جامې، پاکونکي او سینګار توکي

Johnson & Johnson
د ماشومانو شامپو
او صابون

GARNIER
د پوستکي او ویښتانو اړوند شیان

Unilever

COLGATE-PALMOLIVE
د خولې او غاښونو اړوند

Levi's
جامې

TOMMY HILFIGER
جامې او پایزار

د برقي وسایلو، قرطاسیې او ځینو نورو اجناسو کمپنۍ

IBM

amazon

DELL

intel

NOKIA

BRAUN

Ford

KODAK

BAYER

Mercedes-Benz

NESPRESSO

metacafe

CALTEX

NVIDIA

ups

MOTOROLA

Microsoft

Pelikan

SIEMENS

ORACLE

hp

NATIONAL GEOGRAPHIC

PayPal

Google

LINC PENS

PARKER
EST. 1888

Schneider Write it

BiC

د عالقیدر امیر المؤمنین حفظه اللّه نړدې ملګری، جید عالم

شهیـــد اســـتاد

شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام رحمه اللّه

لیکنه: قاري عبدالستار سعید

د عالِم مرګ د عالَم مرګ د ی

شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب

شیخ عبدالسلام صاحب د حاجي خانګل زوی په قوم خروټی بانزی چې اصلي وطن یې د پکتیکا ولایت د ګومل سیمه وه، په ۱۹۴۷ میلادي کال کې په یوه دینداره کورنۍ کې دنیا ته راغی، نوموړی د خپل ۴ وروڼو له جملې دریم و، چې پلار یې په ۴ کلنۍ کې د ديني علومو زدکړې ته رهنمایي کړ.

هغه مهال چې شیخ صاحب ماشوم و د دوی کورنۍ به په اوړي د افغانستان د زابل ولایت د دایچوپان سیمې ته تلله او د ګرمۍ موسم به یې د بلوچستان په سیوی/سبي او شاو خوا سیمو کې تیراوو، د شیخ صاحب ورور وایي چې نوموړی څلورکلن ماشوم و چې د خپل پلار لخوا دیني علم ته وقف شو، د دایچوپان په خاکران سیمه کې یو مشهور دیني عالم او مدرس و، شیخ صاحب په څلورکلنۍ کې د هغه په درس کې شامل شو، او چې کله به د دوی کډې د یخ په موسم کې سیوی ته تلې هم نوموړی به همالته په خاکران کې په کلیواله مدرسه کې پاته وو او دیني زده کړو ته به یې دوام ورکاوو.

د شیخ صاحب د قریبانو په وینا د ده یو خصوصیت دا و چې له دیني تعلم او تعلیم پرته یې بل هیڅ دنیوي مصروفیت نه دی درلودلی، ځکه نوموړی په څلور کلنۍ دیني زدکړو ته شامل شو، نوموړي تر ۱۳ کلنۍ پورې په خاکران کې دیني زده کړې کولې، په همدې عمر له دې سیمې لاړ او د زابل په نورو سیمو کې یې په مشهورو علماء کرامو لکه د زابل د شاجوی ولسوالۍ مشهور عالم مولوي سردار صاحب چې د پاسنو په اخندزاده صاحب مشهور و، د قلات ستر عالم مولوي عنایت الله اخندزاده صاحب چې د غبرګي په اخندزاده صاحب یې شهرت درلود، په دې سربیره یې په کندهار، میدان وردګو، غزني او د هیواد په نورو مختلفو سیمو کې یې له مشهورو علماء کرامو څخه دیني کتابونه ولوستل، تر دې چې دیني فنون یې په مکمل ډول پای ته ورسول.

شیخ صاحب د طالب العلمۍ په دوران کې د کابل د قلعه جواد له حضرت ضیاء المشائخ محمد ابراهیم مجددي صاحب سره د تصوف بیعت وکړ، او تر پایه یې د نقشبندیه مجدديه طریقې د یو سالک په حیث د تصوف او تزکیې لاره پاللـه، د ا چې شیخ عبدالسلام صاحب په ډیر کشرتوب کې دیني زده کړه پیل کړې وه نو په ځوانۍ کې یې ټول دیني کتابونه پای ته ورسول او د احادیثو د لویې دورې لپاره د پاکستان او سیمې مشهورې مدرسې د رالعلوم حقانیه اکوړه خټک ته لاړ.

شیخ عبدالسلام صاحب په درالعلوم حقانیه مدرسه کې د ستر دیني عالم او شیخ الحدیث مولانا عبدالحق صاحب سره د احادیثو دوره ترسره او د عمر په ۲۵ کلنۍ کې یې د دیني علومو د فراغت سند ترلاسه کړ.

تدریسي ژوند

شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب له فراغت وروسته د دیني علومو په تدریس پیل وکړ، نوموړي د تدریسي ژوند په لومړیو دریو کلونو کې عام دیني کتابونه تدریس کړل او له هغه وروسته یې د احادیثو د کتابونو تدریس پیل کړ چې د وفات نیټې پورې یې د یوه پیژندل شوي شیخ الحدیث په حیث د صحاح سته تدریس ته دوام ورکړ.

شیخ صاحب لومړی تدریس د پاکستان د بلوچستان د سیوی/سبي په سیمه کې په مفتاح العلوم مدرسه کې پیل کړ، له هغه وروسته د کوټې په بروري روډ باندې په بحرالعلوم مدرسه کې مدرس شو، د لته له څه وخت تیرولو وروسته د کوټې په شابوکلي کې دارالعلوم قاسمیه ته لاړ، او له هغه وروسته یې د کویټې په حاجي محمد ایوب کلي کې واقع په خیرالمدارس مدرسه کې تر ۱۹۹۴ میلادي کال پورې تدریس ته ادامه ورکړه.

په ۱۹۹۴م کال کې د پاکستان د پښتونخوا ایالت ډیره اسمعیل خان ته لاړ، اوهلته یې په پهارپور سیمه کې د مولوي عبدالجبار صاحب

په مدرسه کې د احادیثو تدریس پیل کړ، په همدې مدرسه کې یې ۳ کاله تیر کړل او بیا د جنوبي وزیرستان په مرکز وانه کې مشهورې مدرسې دارالعلوم جنوبي وزیرستان کې د شیخ الحدیث په حیث مقرر شو چې شپږ کاله یې په همدې مدرسه نبوي احادیث تدریس کړل او ګڼو طالب العلمانو تړې د فراغت اسناد ترلاسه کړل.

په جنوبي وزیرستان کې له شپږ کاله تدریس وروسته د یوه کال لپاره بیا په ډیره اسمعیل خان کې د مولوي عبد الجبار صاحب مدرسې ته لاړ او له هغه وروسته په ۲۰۰۶ م کال کې یوځال بیا د بلوچستان مرکز کویټې ته لاړ او د حاجي محمد ایوب کلي سیمه کې په خیرالمد ارس مدرسه کې یې د احادیثو دوره پیل کړه، همدلته یې د شهادت تر نیټې ۲۰۱۴ م کال پورې د صحاح سته تدریس ته ادامه ورکړه چې هرکال به ورسره سلګونه د احادیثوطالب العلمانو درسونه ویل او په سلهاو و فاضلان به یې له مدرسې فارغیدل.

شیخ صاحب په خپل ژوند کې دری ځله په ۱۹۹۹ م – ۲۰۰۵ م – او ۲۰۰۹ م کلونو کې د حج د مبارکې فریضې د اداء کولو لپاره حرمینو ته هم تللی و.

شهادت یې

شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب په خپله مدرسه خیرالمد ارس کې د نبوي احادیثو تدریس ته ادامه ورکوله د تدریس ترڅنګ د خیر او صلاح په چارو او د اولسي مشکلاتو د حل په چارو هم بوخت و، نوموړي چې په عامو مسلمانانو کې یې پراخ محبوبیت درلود، هرچا یې خبرې ته غوږ نیو او د ده په منځګړیتوب لویې لانجې په ډیره اسانۍ هواریدلې.

د ۱۴۳۵ هـ ق کال د محرم میاشتې د ۲۷ په شپه چې کله شیخ صاحب له خپل یوه بل ملګري سره له یوه د عوت څخه بیرته د کور په خوا روان و، د شپې ۹ بجې د دوو تنو موټرسایکل سپرو کسانو لخوا په تفنګچه دوه مرمۍ وویشتل شو او سخت ټپي شو. شیخ صاحب چې سخت ټپي شوی و، روغتون ته نقل شو، خو دری ورځې بعد د محرم د میاشتې په ۳۰ مه د شپې په ۱۱ بجې یې د سختو ټپونو له امله خپل روح خپل مالک ته وسپاره او د شهادت جام یې نوش کړ. انا لله وانا الیه راجعون

د شیخ صاحب د شهادت خبر د یوې غموونکي حادثې په حیث د علم او عمل د خاوندانو په منځ کې خپور شو، عام مسلمانان، طالبان او علماء کرام یې وژړول، د احادیثو نیمه خوا شاګردانو یې په هجران اوښکې تویې کړې، د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شورا یې په اړه د غمرازۍ اعلامیه صادره کړه او ټول مؤمنانو د دې ستر عالم د شهادت له امله د ده په نامرده قاتلانو نفرین ووایه. د شیخ صاحب د جنازې لمونځ د محرم په دیرشمه نیټه د نوموړي د نږدې ملګري او د هیواد د تکړه عالم شیخ الاسلام امیر المؤمنین شیخ القرآن والحدیث هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله په امامت اداء او له هغه وروسته په کویټه کې خاورو ته وسپارل شو. د شیخ صاحب دری زامن پاته شول چې دوه یې فارغ علماء او دریم یې په دیني زده کړو بوخت دی.

د شیخ صاحب د شهادت په اړه د اسلامي امارت د رهبري شورى د تسلیت پیغام

اعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا

(الاحزاب:۲۳)

په ډیره خواشینۍ سره مو خبر تر لاسه کړ چې د هیواد وتلی او منلی عالم جهادي شخصیت شیخ الحدیث والتفسیر مولوي عبدالسلام صاحب چې درې ورځې وړاندې د اسلام او دین د دښمنان له لوري پرې ناڅوانمردانه حمله ترسره شوه او شدید ټپي شو، تیر ماخستن ناوخته یې د هجرت په دیار د پاکستان هیواد د کوټې ښار په یوه روغتون کې د اخیستوزخمونو له امله ساه ورکړه او د ٦٧کالو په عمر په شهادت ورسید ، اناالله وانا الیه راجعون.

څرنګه چې مرحوم شیخ صاحب د افغانستان په سطحه یو وتلی عالم او د اسلامي امارت له پیاوړو علمي او جهادي شخصیتونو څخه وو، د استاد کل حیثیت یې درلود، زرګونو طالبانو تړې د دیني زده کړو او پوهې علمي فیض ترلاسه کاوه، شهادت یې د افغانستان او سیمې د علمي او جهادي خوځښتونو لپاره یوه ستره او نه جبرانېدونکې ضایعه ده.

مرحوم شیخ صاحب (رحمه الله) د حاجي خان ګل زوي د پکتیکا ولایت او سېدونکي وو د نوموړي خپل ټول عمر د دین په خدمت کې صرف شوي، نوموړی په ۲۵ کلنۍ کې له دیني علومو فارغ شوی، له فراغت دوه کاله وروسته یې د نبوي احادیثو(لویې دورې) د درس په ورکولو پیل کړی له تیرو ۳۴ کلونو راهیسې په مختلفو مدرسو کې د لویې دورې په درس ورکولو بوخت وو. په جنوبی وزیرستان دارالعلوم وانه، د ډیره اسماعیل خان په لویه مدرسه او د بلوچستان د کوټې ښار د شیخ مانده په جامعه خیرالمدارس او داسي نورو مدرسو کې د حدیثو د شیخ او استاد په توګه پاته شوي.

شهید شیخ صاحب یو ستر دیني عالم وو، د خپلې پوهې، تقوی او له خپلو عقیدتمندانو سره د زیاتې مینې او محبت کولو له امله یې د عامو خلګو په زړونو کې ځان ته ځای پیدا کړي وو. نوموړی په سیمه کې د یوه وتلي شیخ الحدیث په توګه د شهرت ترڅنګ د ستر مبلغ او جهادي بلوونکي په حیث پېژندل شوی شخصیت وو، همیشه به یې په سترو ناستو او جهادي غونډو کې په خپلو جراتمندانه ویناو و کې د مجاهدینو حمایت کاوه او د مجاهدینو د ذهن سازۍ او اصلاح ترڅنګ به یې عام خلګ د اشغالګرو په خلاف ځاني او مالي جهاد ته هڅول.

شهید شیخ صاحب له کلنو راهیسې د احادیثو لویه دوره او د قران کریم تفسیر کاوه، هرکال تر یو نیم سلو زیاتو طالب العلمانو له نوموړي څخه علمي فیض حاصلاوه او د فضیلت د دستار تړلو ویاړ یې ترلاسه کاوه.

دا چې د شهید شیخ صاحب ژوند او موجودیت د دین دښمنانو ونه زغملای شو، او د یوې بزدلانه حملې په ترڅ کې یې نوموړی په شهادت ورساوه، د دښمن د ا کرغیړن عمل د شیخ صاحب د دارینو سرلوړي او د قاتلینو لپاره د د نیا او اخرت د مختورۍ سبب شو.

د افغانستان اسلامي امارت د دې ستر ویر له امله د شهید شیخ صاحب کورنۍ، شاګردانو او د حق د لارې مبارزو مجاهدینو او ټولو هیواد والو ته د غمرازۍ او تسلیت مراتب وړاندې کوي، څښتن تعالی دي د مرحوم شیخ صاحب شهادت قبول او لوي خدای ج دي د نوموړي کورنۍ، زامنو، قریبانو او شاګردانو ته د دې ستر ویر د زغملو توان او د صبر جمیل توفیق ورنصیب کړي.

د افغانستان اسلامي امارت رهبری شوری

د شیخ عبدالسلام صاحب د شخصیت په اړه

شهید شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب په دې سربیره چې متبحر عالم، د احادیثو استاد او د قرآن د تفسیر، احادیثو او حنفي فقهې یو منل شوی پوه و، د روس ضد جهاد په مهال او اوس د امریکا ضد جهاد په مهال د جهاد کلک ملاتړی او د مجاهدینو لپاره یې د یو لارښود حیثیت درلود، نوموړي همیشه له مجاهدینو سره لیدل، هغوی ته یې توصیې کولې او د خپل توان په اندازه یې ورسره د خیر په چارو کې همکاري کوله،

شیخ صاحب په خپل ژوند کې د تدریس ترڅنګ د عامو مسلمانانو په ژوند چارو کې هم د خپل شخص و، د خلکو جنجالونه او تنازعات یې هوارول او حتی د قومونه په سطحه د لویو لانجو مخنیوی یې کاوو، شیخ صاحب لکه څنګه چې یو د قیق عالم و په عامه عرف هم پوره خبر و، نوموړي د مسلمانانو ترمنځ د بدیو په شان لویې لانجې هوارولې مسلمانان یې سره پخلا کول او د مرګونو او جنجالونو مخنیوی یې کاوو، نوموړی د مسلمانانو په غم غمشریک شخص و او ډیر کوښښ یې کاوو چې مسلمانان له جنجاله خلاص او زړونه یې خوشاله شي.

د نوموړي نړدې ملګری، جید عالم، شیخ الاسلام، امیر المؤمنین شیخ القرآن والحدیث هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله وایي: د حضرت شیخ صاحب سره زما ډیره علاقه او ملګرتیا وه او ډیر لیري او نړدې سفرونه موسره وکړه، په مختلفومجلسونو او جلسوکې به مو شرکت کاوو، د حضرت شیخ صاحب امتیازي خصوصیت دا و چې ده به ډیر کوښښ کاوو چې د یوه مؤمن مسلمان زړه خوشحاله وساتي او د مسلمانانوترمنځ به یې خصوصا د علماءکرامو د اتفاق او اتحاد کوښښ یې ډیر کاوو، لهذا چې کله به مورږ یوې جلسې یا یو فاتحې یا د مسلمانانو یو بل اجتماعي أمر ته ورغلو، د بیرته راتلو پر وخت به شیخ صاحب ویل: څه ښه کار وسو چې دغه مسلمانان خوشحاله سوه په تقریر کښې به یې علماء ته ویل چې تاسو ولي اختلاف کوئ له اختلافه ځان وساتئ.

د افغانستان وتلی جهادي شخصیت او دیني عالم مولوي فرید صاحب چې شهید شیخ صاحب یې له نړدې پیژانده د نوموړي په اړه وایي: د شهید علامه شیخ عبدالسلام رحمة الله علیه ژوند واقعا په دې پُرفتن دور کې د فخر او تقلید ور و، د اسلافو یوه نمونه وه، صورت او سیرت یې په شریعت برابر و، باطن یې تر ظاهر ماته غوره ښکاریده، بې ریا او مخلص انسان و، د شپې په آخر کې به راجګ شو د تهجد لمونځ به یې په پته طریقه اد اء کړ، بیرته به آرام پرې ووت، خلکو ته به یې د ا په خیال کې ورکوله، چې ګویا زه بالکل د شپې تهجد ته پورته شوی نه یم، ماله ده سره د ملګرتیا په وخت کې د ده دا حالت په خپله لیدلی دی. ډیر باجرأته جید عالم، خوش اخلاقه د شاګردانو محبوب او جذاب شخصیت و، د مسلمه امت په موجوده دربدره حالت او د کفري نړۍ په دسیسو خبر سړی و، همدا وجه وه چې د دین او وطن دښمنانو ته د ده مبارک وجود د زغم ور نه و، نو دسیسه په کار شول او مسلمانان یې د غم په ټغر کینول. که خپلې خاطرې په لنډو ټکو کې راخلاصه کړم، نو باید ووایم چې که د شهید شیخ صاحب رحمة الله علیه په شان ډیر خلک مورږ درلودلای، نو دنیا ته مو د صحابه کرامو رضی الله عنهم په شان په زغرده دا اعلان کولای شوای چې:

پاتې برخه... (په ۵۷ مه صفحه کې)



ما سینه زدیم بی صدا باریدند
از هر چه که دم زدیم، آنها دیدند

ما مدعیان صف اول بودیم
از آخر مجلس شهداء را چیدند

میلاد عرفان پور

د بیتونو پښتو ژباړه او تشریح:

«ما سینه زدیم بی صدا باریدند»: یعني موږ هغه خلک وو چې ټټر مو وهلو، خو هغوی پرته له کوم شور او غږ څخه وه اورېدل. (هغوی پرته له دې چې چیغې او غږ جوړ کړي خپل کار کولو).

«از هر چه که دم زدیم، آنها دیدند»: یعني موږ چې د هرڅه دعوه او خبره وکړه، هغوی ولیدل (موږ چې د هرې قربانۍ او زړورتیا خبرې او دعوې کولې، هغوی دا ټول په عمل کې وښودل).

«ما مدعیان صف اول بودیم»: موږ هغه خلک وو، چې د لومړي کتار او لومړي صف دعوه داران وو. (موږ ځانونه د مخکښو، قربانۍ ورکوونکو او زړورو خلکو له جملې څخه د لومړي کتار خلک بلل).

«از آخر مجلس شهداء را چیدند»: د مجلس له آخر څخه یې شهیدان انتخاب کړل. (یعني موږ خو ځانونه د لومړي کتار خلک بلل، خو چې وخت راغی نو رښتیني خلک د کتار په آخر کې وو او شهیدان یې د همدوی له جملې څخه انتخاب کړل).



کاروان د عشق کله پیژني موسمه ستړیا؟!

نه زه بې تابه انـــقلاب کړم، نه شوه کـــمه ستړیا
نه زه راستون شوم، نه دې ختمه شوه قدمه ستړیا

لکه زخـمي زخـمي ستـــــومانه صحابه د اُحد
که غږ د نـنګ شو بیا به هم په ځان منمه ستړیا

د ویـــنو فصـــل مو خـــواږه ثمـــــر ته ورسېده
لَـــوګري نه کوي په دوبـــي کې غـــنمه ستړیا

د شهادت خماري جام چې په خپل سر واړوي
زلمـــــو په ځان باندې منله ســـل رقمه ستړیا

آسمـــان غوږیږي، که په شـړکنده باران وریږي
کـــاروان د عـــشق کله پیژني موســـمه ستړیا

«راشـده» مینه به پـــخه، شپـــه به سبا ته رسي
نـــه د پتـــنګ سینه سړه، نه مني شـمه ستړیا

راشد کامران



د جهاد لپاره؛ الله ګومارلي او موږ راوتلي يو!

" الله تعالى موږ په خپله لار کې د جهاد لپاره او په دې مبارکه ځمکه کې د خپلو دښمنانو پر وړاندې مقاومت ته ګومارلي يو، نو موږ هم (د جهاد) بيرغ پورته کړ او د دې مبارکې دندې د ترسره کولو لپاره را ووتلو. "

شهيد شيخ محمد الضيف تقبله الله

مأخذ: الضيف، ما خفي أعظم

بُت شکن

د فاتح سلطان محمود غزنوي رحمه الله په یاد کې

یوه اسلامي، دعوتي او فکري اداره